اختصاصي جزا حقوق د ۱۳۹٦ کال جزا کود پر بنسټ

(١٦)

# د نفوذ او دندې يا موقف څخه د ناوړه ګټې اخستنې جرمونه

**Corruption Crimes Related to Abuse of Power**

لېندۍ ۱۳۹۸

ترتيبوونکي: د حقوقو د پراختيا نړيوال سازمان (IDLO)

کابل، افغانستان

وېب پاڼه :www.idlo.int

## د دې جزوې په اړه

د دې جزوې ټول اړوند مواد او درج شوي موارد د افغانستان قوانینو سره سم ترتیب او جوړ شوي دي. د افغانستان قوانینو د نوو تعدیلاتو سره سم د ډاډ په موخه لازمه ده چې دغه جزوه وخت پر وخت بیا بیا وکتل شي. په دغه جزوه کې هر رنګه جزئی یا ټولیز بدلون د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) پورې اړوند او ځانګړی دی.

ټول هغه مواد چې د دې کتاب منځپانګه جوړوي ستاسی د ګټې اخیستنې او نه سوداګرۍ لپاره دي. د دې موادو طبع او خپرول د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) لپاره محفوظ دي.

**د ګټنې وړ قوانین:**

۱. د افغانستان جزا کود، ۱۳۹٦ کال؛

۲. د اداري فسار پر وړاندې د مبارزې قانون، ۱۳۹۷ کال؛

۳. د دولتي مقاماتو او کارکوونکو د شتمنیو د اشاعې او ثبت قانون، ۱۳۹۷کال؛

٤. د اداري فسادپر وړاندې د مبارزې میثاق، ۱۳۸٦ کال.

# لړلیک

**سرېزه: ........................................................... ۷**

**لومړی څپرکی.......................................................... ۱۲**

**له نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم.......................................... ۱۲**

**لومړی مبحث: له نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم تعریف او مفهوم:........................... ۱۲**
لومړی وینا: له نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم تعریف:........................................ ۱۳
دوېمه وینا: د ناوړه ګټې اخیستنې جرم او رشوت جرم تر منځ توپیر:..................................... ۱۷
**دوېم مبحث: د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخېستنې جرم جوړونکي عناصر: ................................ ۱۹**
لومړی وینا: د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستنې جرم قانوني عنصر: ................................. ۲۰
دویمه وینا: د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستنې جرم مادي عنصر: ................................... ۲۰
درېمه وینا: د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم معنوي عنصر:..................................... ۲٤
**درېم مبحث: د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستنې جرم جزا: ........................................ ۲۵**
لومړی وینا: د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم اصلي جزا:............................................ ۲۵
دوېمه وینا: تبعي جزا:........................................................................ ۲۷
درېمه وینا: بشپړوونکي جزا: ...................................................................... ۲۷
**د لومړي څپرکي پایلیزه:........................................................................ ۳۰**

**دوېم څپرکی ........................................................ ۳۵**

**ددندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم ......................................... ۳۵**

**لومړی مبحث: د دندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم تعریف:.............................. ۳۵**
**دوېم مبحث: ددندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم جوړونکي عناصر:............................ ۳۸**
لومړی وینا: ددندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم مادي عنصر:.................................. ۳۸
دوېمه وینا: د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم معنوي عنصر: ............................... ٤۱
درېمه وینا: ددندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم جزا: یادوونه: ددې څپرکی په سرېزه کې ددې جرم
جزاګانې درېم او بشپړوونکي جزا یې څلورم مبحث ته راجع شوی ده.......................................... ٤۱
**درېم مبحث: ددندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستنې جرم بېلګې: ................................ ٤۳**
لومړی وینا: د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستنې جرم، بېلګې: ................................... ٤۳
دوېمه وینا: ددندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستنې جرم د بېلګو تشریح:................................... ٤٤

**ازحیث خفت و شدت جرم در قباحت آمده ، اشتباه است........................................ ۷۸**

**څلورم مبحث: د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم بشپړوونکي (تکمیلي) جزا: .......................... ۹۲**
لومړی وینا: د ځېنې حقونو او امتیازاتو څخه محرومیت: ........................................... ۹۳

دویمه وینا: د دندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم په بېلګو کې د مادي منفعت مصادره او معنوي منفعت باطلول: ............ ۹٤
**د دویم څپرکي پالېزه: ............ ۹۵**

## دریم څپرکی ............ ۹۸

## شتمنی د ناقانونه ډېرېدا جرم ............ ۹۸

**لومړی مبحث: د شتمنی د ناقانونه ډېرېدا جرم تاریخي پس منظر او د هغې خطورة: ............ ۹۸**
**دویم مبحث: د شتمنی ناقانونه ډېرېدا جرم مفهوم او مقایسه د ورته جرمونو سره: ............ ۱۰۲**
لومړی وینا: د شتمنی ناقانونه ډېرېدا جرم تعریف: ............ ۱۰۲
دویمه وینا: د شتمنی ناقانونه ډېرېدا جرم توپیر د رشوت او اختلاس جرم سره: ............ ۱۰٤
**دریم مبحث: د شتمنی ناقانونه ډېرېدا جرم جوړوونکي عناصر: ............ ۱۰٦**
لومړی وینا: مادي عنصر: ............ ۱۰٦
دوېمه وینا: معنوي عنصر: ............ ۱۱۵
**څلورم مبحث: دشتمنی ناقانونه ډېرېدا جرم جزا: ............ ۱۱٦**
**پنځم مبحث: د شتمنی د اشاعې په فورمه کې د ناسمو یا ګمراه کوونکو معلوماتو لېکل: ............ ۱۱۹**
لومړی وینا: د مفاهیمو روښانتیا: ............ ۱۱۹
دوېمه وینا: د شتمنی د اشاعې په فورمه کې د ناسمو یا ګمراه کوونکو معلوماتو لېکلو جرم جوړوونکي عناصر: ۱۲۰
درېمه وینا: دشتمنی د اشاعې په فورمه کې د ناسمو یا ګمراه کوونکو معلوماتو درج جرم جزا: ............ ۱۲٦
**د درېم څپرکی پایلیزه: ............ ۱۲۷**

## اخذ لیکونه: ............ ۱۳۰

## سریزه:

د نفوذ او دندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرمونو څخه موخه، د جزا کود - دویم کتاب څلوم باب اړونده دریم، څلورم او پنځم څپرکی کې رانغښتل شوې جرمونه دي. دا جرایم هغه کړنو څخه عبارت دي چې نفوذ لرونکو اشخاصو او عامه خدمتونو مؤظفینو ته د ناوړه ګټې اخیستنې زمینه مساعدوي. لکه؛ د نفوذ څخه ناوړه ګټه اخیستنه، د دندې یا موقف څخه ناوړه ګټه اخیستنه او په ناقانونه ډول د شتمنۍ ډیرېدل.

دا کوم جرمونه دي؟ مادي او معنوي عناصر یې څه ډول تنظیم شوېدي؟ او کړنکو (مرتکبینو) ته یې په قانون کې څه ډول جزاګانې په پام کې نېول شوېدي؟ دا هغه پوښتنې دي چې په دې روزنېز کتاب کې به ورته ځواب ورکول کېږي.

دا جرمونه؛ ډیری وختونه د عامه خدمتونو د مؤظفینو لخوا ترسره کېږي او کله د عادې اشخاصو لخوا هم تر سره کېدی شي.

دا روزنېز کتاب په لاندې ډول په درې څپرکیونو کې لیکل شوی دی؛

لومړی څپرکی: له نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم.

دویم څپرکی: د دندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم.

دریم څپرکی: د شتمنۍ ناقانونه ډیریدلو جرم.

**د موضوع اهمیت:**

د نفوذ، دندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستنې او د شتمنېو ناقانونه ډېرېدلو جرمونه د اداري فسادترټولو څرګند جرمونه دي، او دا ځکه چې، مخامخ ددولت ګټې په خطر کې اچوي، نو اړېنه ده چې په جدي ډول ورسره مبارزه وشي. په همدې خاطر، دا جرمونه د اختصاصي جزا حقوقو ډېره مهمه برخه جوړوي.

د ملي او نړیوالو شننېزو راپورنو لمخې - د اداري فساد، په ځانګړي ډول د نفوذ، دندې یا موقف څخه د ناړوه ګټنې جرمونه په ټولنه، دولتي او خصوصي شرکتورنو کې په پراخه کچه شتون لري. په همدې خاطر د دې ناوړه پدېدې (اداري فساد) پروړاندې افغانستان، جدي مبارزه پیل کړېده. اوس مهال د «اداري فساد پروړاندې د مبارزې میثاق[1]» سر بېره درې قانونونه نافذ دي. د اداري فساد جرمونو ټولېز حکمونه «د اداري فساد پروړاندې د مبارزې قانون[2]» کې وړاندوېنه شوېده، د خبر (اطلاع) ورکوونکو څخه د حمایت احکام په «د اداري فساد د جرمونو څخه اطلاع ورکوونکو حمایت قانون[3]» کې روښانه شویدي. ددې سربېره؛ جزایې احکام یې د جزا کود دوېم کتاب؛  څلورم، پنځم، شپږم، نهم او لسم بابونو په بېلابېلو څپرکیونو کې تنظیم شویدي. په دې اړوند د اداري فسادپروړاندې د مبارزې قانون پنځمه ماده داسې صراحت لري. «**د دویم کتاب؛ څلورم باب لومړی، دویم، دریم، څلورم، پنځم، اووم، اتم، لسم، یوولسم او دولسم څپرکیونو، پنځم باب لومړی څپرکی، د نهم باب دویم او شپږم څپرکیونو او د لسم باب څلورم څپرکی کې درج شوې جرمونه د اداري فساد جرمونه پېژندل کېږي**»

١ - اداري فساد نړیوال میثاق، رسمي جریده، ٩٣٦ ګڼه، ١٣٨٦ کال د مرغومي ٢٥ نېټه.

٢- د اداري فساد پروړاندې د مبارزې قانون، رسمي جرېده، ١٣١۴ ګڼه، ١٣٩٧کال تلې ١٨ نېټه.

٣ - د اداري فساد د جرمونو څخه اطلاع ورکوونکو حمایت قانون ، رسمي جرېده،  ١٣١۴ګڼه، ١٣٩٧کال تلې ١٨ نېټه.

د اداري فسادپروړاندې د مبارزې پورته یادو شوو جرمونو له ډلې څخه؛ په دې درسې جزوه کې فقط، د جزا کود دویم کتاب څلورم باب دریم، څلورم او پنځم څپرکیونو اړونده د نفوذ، دندې یا موقف څخه ناوړه ګټنه چې داداري فساد جرمونه بلل کیږي، د بحث لاندې نیول کیږي.

**د لېکنې موخه:**

د نفوذ، دندې یا موقف څخه ناړوه ګټنې او د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدنې مخنېوی په موخه قانون جوړونکي د جزا کود دویم کتاب څلورم باب دریم څلورم او پنځم څپرکیونو کې څو ګونه کړنې د جرم په حیث پېژندلي دي. ددې کړنو تر منځ ګډ ټکی ناوړه ګټه اخېستنه ده. په همدې بنسټ، دا کړنې هغه جرمونه دي چې شخص پر ده شوې اعتماد څخه ناوړه ګټه پورته کوي.

دا روزنېز کتاب، د ۱۳۸٦ هـ ل کال جزا کود دویم کتاب څلورم باب دریم، څلورم او پنځم څپرکی اړونده مادو تحلیل او تجزیه او د قاضیانو، څارنوالانو او د ا.ا. ج عدلیې وزارت حقوقي مساعدینو روزنېزو برنامو لپاره ځانګړی شوی دی، تر څو ګډونکوونکي وکولای شي چې، پورته یادو څپرکیونو کې درج مادې تحلیل، اړونده جرمونو عناصر په ګوته او د جزا کود سره سم یې په خپلو ورځنېووکړنو کې پلي کړي.

**د کتاب جوړښت:**

لکه څرنګه چې په سرېزه کې ورته نغوته وشوه، په دې روزنېز کتاب کې، درې موضوعګانې په درې څپرکیونو کې په مخامخ ډول د تدریس وړ دي؛

لومړی موضوع: د نفوذ څخه ناوړه ګټنه او د هغې جزا- په دې برخه کې له نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم، ددې جرم عناصر او جزا تر څېړنې لاندې نېول کېږي.

دویمه موضوع: د دندې یا موقف څخه ناوړه ګټنه او دهغې جزا- په دې برخه کې د دندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستنې بېلګې، د دې جرم عناصر او د هرې بېلګې جزا په جلا جلا ډول تر څېړنې لاندې نېول کېږي.

دریمه موضوع: د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدنه او د هغې جزا- په دې برخه کې د قانوني عوایدو خلاف شتمنۍ ډېرېدنه چې جرمي وصف رامنځته کوي، تر څېړنې لاندې نېول شوی دی.

**د لېکنې کړنلاره:**

په دې درسې جزوه کې د توصیفي تحلیلي کړنلارې څخه ګټنه شوېده. کوښښ شوی دی چې په دې کتاب کې قاضیانو، څارنوالانو او حقوقي مساعدینو عملي چارو پورې اړونده موضوعګانې تر څېړنې لاندې ونېول شي، نو د بحث د اوږدېدو د مخنېوې لپاره مو د سوچه نظري او بیا ځلي (تکراري) بحثونو څخه ډډه کړېده. خو په ځېنې مواردو کې، د ځانګړې موضوع د اهمیت له مخې شننېزې څېړنې هم وړاندې شوېدي.

په دې موخه چې؛ هرګډونوال په روزنېزه برنامه کې برخه واخلي او حاکمه روحیه ګډونوال محوره واوسي، په دې جزوه کې فرضي قضیې، مباحثوي پوښتنې، ډلګه ئېز (ګروپي) کارونه، انتقادي فکر کوونه او شننئېزې موضوعګانې، په دې جزوه کې ځای پر ځای شوېدي. دا قضیې او پوښتنې د روزونکې لخوا د ځانګړې شوې وخت په پام کې نېولو سره په ټولګي کې د بحث او شننې لاندې نېول کېږي او حتمي نده چې ټول تر شننې لاندې ونېول شي.

د دې کتاب هر څپرکی په پای کې د څپرکی پایله (نتیجه) حتمي ده.

# لومړی څپرکی

## له نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم

**موخې:**

ددې روزنېزې ناستې په پای کې به ګډونوال په دې وتوانېږي چې:

- له نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم مفهوم وپېژني؛
- له نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم عناصر په نښه کړي؛
- د رشوت په حکم کې جرم او له نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم تر منځ ورته والی څرګند کړي او هر یو ته سم جرمي وصف وټاکې؛ او
- له نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم جزا، سمه په نښه او پلي کړي.

**سرلیکونه:**

- د له نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم مفهوم؛
- له نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم جوړونکي عناصر؛ او
- له نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم جزا.

# لومړی څپرکی

# له نفوذ څخه ناوړه  ګټې اخیستنې جرم

**سریزه:**

له نفوذ څخه ناوړه  ګټې اخیستنې جرم،  یو ډول، د اداري فسادد جرمونو څخه ګڼل کېږي چې، د جزا کود ۳۹۹ څخه تر ۴۰۲ مادو کې ځای پر ځای شوی دی. دا جرم به موږ په درې مبحثونو کې په داسې ډول چې؛ په (لومړي مبحث) کې له نفوذ څخه ناوړه  ګټې اخیستنې جرم تعریف، په (دویم مبحث) کې ددې جرم جوړونکي عناصر او په (دریم مبحث) کې یې جزا تر څېړنې لاندې ونیول شي.

## لومړی مبحث: له نفوذ څخه ناوړه  ګټې اخیستنې جرم تعریف او مفهوم:

له نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم به لومړی وینا کې تعریف او په دوهمه وینا کې به یې د رشوت جرم سره توپیر تر څېړنې لاندې ونیسو.

## لومړی وینا: له نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم تعریف:

دجزا کود په ۳۹۹ ماده کې له نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم داسې تعریف شوی دی؛

**«هغه شخص چې له لاندې اعمالو څخه یو تر سره کړي، له نفوذ څخه د ناوړې ګټې اخیستنې د جرم مرتکب پیژندل کیږي:**

**۱- د عامه خدمتونو د مؤظف یا د بهرني دولت یا بین المللی سازمان یا بین الحکومتي مؤسسې یا نادولتي مؤسسې د مؤظف او یا بل شخص په واسطه په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د نامشروع منفعت غوښتنه یا منل پداسې ډول چې نوموړي اشخاص د خپل یا بل شخص له واقعي یا فرضي نفوذ څخه د نامشروع مادي یا معنوي منفعت د ترلاسه کولو په منظور له یوې دولتي ادارې یا مقام څخه ناوړه ګټه واخلي.**

**۲- د عامه خدمتونو مؤظف یا د بهرني دولت یا بین المللي یا بین الحکومتي سازمان یا نادولتي مؤسسې مؤظف او یا بل شخص ته په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د نامشروع منفعت وعده یا وړاندېز یا ورکړه پداسې ډول چې نوموړي اشخاص د خپل یا بل شخص له واقعي یا فرضي نفوذ څخه د نامشروع منفعت د ترلاسه کولو په منظور له یوې رسمي ادارې یا مقام څخه د اصلي تحریک کوونکي یا بل شخص په ګټه ناوړه ګټه واخلي.**

**۳- که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف یا نفوذ لرونکی شخص د یوه شخص د استخدام په منظور له خپل موقف څخه ناوړه ګټه واخلي.»**

لومړی، د تعریف ځانګړنې تشریح کوو او بیا یې، مفهوم په خلاصه ډول څرګندوو.

**د تعریف ځانګړنو تشریح**

۱- عامه خدمتونو مؤظف: د جزا کود ۴ مادې ۳ بند پر بنسټ «عامه خدمتونو مؤظف هغه شخص دی چې د عامه خدمتونو اجراء ته مؤظف شوی وي او لاندې اشخاص.....»

۲- د بهرني دولت مؤظف: د جزا کود ۳۷۰ مادې (۵) فقرې د بهرني دولت مؤظف تعریف داسې شوی دی؛ « ددې باب په مفهوم، د بهرني دولت مؤظف، هغه شخص دی چې په انتخابي یا انتصابي صورت د یوه بهرني هیواد د اجرائیوي، اداري، تقنیني یا قضایي مقام حایز (لرونکی) وي یا هر بل شخص چې د بهرني هېواد په اداره یا عام المنفعه تشبث کې د عامه خدمتونو د اجراء دنده په غاړه ولري یا د بین المللی، بین الحکومتي سازمانونو یا غیر دولتي مؤسسې ملکي مؤظف وی یا دا چې ددغو سازمانونو لخوا د مشخصې دندې د اجراء لپاره توظیف شوی وي.»

۳- نړیوال سازمان: د هغه سازمان څخه عبارت دی چې غړي یې دولتونه واوسي.[1] په ځینې نړیوالو سازمانونو کې غړیتوب آزاد دی او هر هېواد یې غړیتوب اخېستلی شي (لکه د ملګرو ملتونو سازمان) خو ځینې نړیوال سازمانونه بیا یوازې د ځانګړو سېمو هېوادونه د غړیتوب لپاره منې، (لکه، اروپایې اتحادیه) کله نور عوامل لکه مذهب یا قومیت په نړیوال سازمان کې د غړیتوب معیار ګڼل کېږي. (لکه، د اسلامي هېوادونو کنفرانس او عرب اتحادیه[2])

٤- بین الحکومتي سازمان : د هغه سازمان څخه عبارت دی چې د دوو هېوادونو تر منځ راکړه ورکړه تظیموي[3].

٥- غیر دولتي مؤسسه ( NGO ) : د هغه مؤسساتو څخه عبارت دی چې په خپلواک ډول رامنځته شوی وي او د خپلواکې بودیجې او خپلو ټاکلو موخو لپاره وي.

٦ - د "نامشروع منفعت" اصطلاح په انګلیسي نسخه کې د "Undue advantage" په نوم راغلی دی او په عربی نسخه کې "میزة غیر مستحقة" په تعبیر ژباړل شوې ده. دا اصطلاح په فارسي ژبه کې "بې مورده امتیاز" باندې ژباړل شوې ده . امتیاز یوه عامه اصطلاح ده چې مالي او غیر مالي ګټو ته شاملېدای شي.

[1]- مسلم یعقوبی، مختصر حقوق سازمان های بین المللی، چتر دانش، تهران ۱۳۹۲، ۱۰مخ.

[2]- UN General Assembly - Rules of Procedure.

[3]- مسلم یعقوبی، مختصر حقوق سازمان های بین المللی، چتر دانش، تهران ۱۳۹۲، ۱۸مخ.

<u>۷- نفوذ :</u> په لغت کې: د امر انفاذ يا د قانون انفاذ، يعنې د هغې پلي کېدل، پلانکی امر يې نافذ دی يعنې د منلو او پلي کېدا وړ دی. لکه څرنګه چې په عربۍ کې ويل شويدي «نفذ السهم الرميه» يعنی غشی په موخه ولږيد.

په اصطلاح کې: هغه وګړی چې د حکومتي ځايګي څخه برخمن وي او د عامه خدمتونو کارکوونکي يې، د دولتي ځايګي د لرلو په موخه، د ځانګړې پاملرنې او درناوی وړ بلې[1].

<u>۸- بل وګړی :</u> په دې ماده کې يادو شوو وګړو څخه غير بل هر بانفوذه وکړی.

د «بل وګړي» کلمې څخه داسې څرګندېږي چې، بل هر نفوذ لرونکی وګړی په دې حکم کې راځي. خو په دې ماده کې يادو شوو وګړو څخه موخه د بېلګې په ډول يادونه ده، نه د انحصار لپاره. دې ډول د قانون جوړونې ته «ټولېز کول وروسته د ځانګړې کولو څخه» وايې؛ يعني قانون جوړونکی لومړی يو حکم څو وګړو ته ځانګړی کوي، وروسته بيا دا ځانګړنه ماتوي او ټول هغه وګړي چې د نفوذ لرونکو وګړو صفت ولري، هغه هم پکې شاملوي.

**نچوړ:**

کولی شو د نفوذ څخه د ګټې اخيستو جرم نچوړ داسې راونغاړو:

په دې جرم کې درې ډوله وګړي دننه ګڼل کېږي:

۱- د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخېستنې ته تحريک کوونکی وګړی: هغه وګړی دی چې، غواړې د يوې ادارې يا دولتي مقام څخه مادي يا معنوي ګټه لاسته راوړي، خو په يوازې والې هغې ته رسيدی نشي، په همدې موخه يو نفوذ لرونکي وګړي ته ورځې تر څو دده د نامشروع ګټې لپاره يوې ادارې يا دولتي مقام باندې خپل نفوذ پلی کړي او خپلې موخې ته ځان ورسوي.

---

۱ - لسان العرب للعلامه ابن منظور/ ج چهاردهم ص ۲۲۹. د. حسن صادق المرصفاوی، شرح قانون العقوبات الخاص، المکتب الشرطی للنشرو التوزيع، ۷مخ/بيروت لبنان ۱۹٦۹.

۲- د نفوذ پلي کوونکی وګړی: دا د هغه واقعي یا فرضي نفوذ لرونکي وګړي څخه عبارت دی چې، تحریک کوونکي وګړي ورته د ګټې ورکولو وړاندېز یا وعده ورکړې وي او ده منلې وي، یا پخپله یې د تحریک کوونکي څخه د دې ډول ګټې غوښتنه کړې وي. دا اړینه نده چې دا وګړی د رسمي یا ټولنېز نفوذ لرونکی وي، بلکې هر هغه کس کېدای شي چې د واقعي یا فرضي نفوذ څخه برخمن وي.

۳- دولتي اداره یا مقام چې د نفوذ لاندې نېول شوی دی: د دولتي واک لرونکي عامه خدمتونو مؤظف یا واک لرونکی دولتي مقام څخه عبارت دی چې، نفوذ لرونکي وګړي د تحریک کوونکي په ګټه د خپل نفوذ تر تاثیر لاندې راوستلي وي.

د پورته یادو شوو لوریو، دوه لوري د جرم ترسره کوونکي پېژندل کیږي چې، عبارت دي له؛ ۱- تحریک کوونکی وګړی او ۲- د نفوذ پلي کوونکی وګړی. د نفوذ پلي کوونکي وګړي جزا په ۴۰۰مه ماده کې او د تحریک کوونکي وګړي جزا په ۴۰۱مه ماده کې ټاکل شوې ده.

ټکی: د «نفوذ څخه ناوړه ګټنې» په څېرکی کې د دولتي ادارې یا مقام مسؤل چې د نفوذ لاندې راغلی دی، حکم نشته؛ دا که، د نفوذ لرونکي وګړي تر تاثیر لاندې راغلی دی او غوښتل شوی کار یې ترسره کړی دی او یا، د نفوذ لرونکي وګړي د تاثیر لاندې ندی راغلی؛ خو، غوښتل شوی کار یې تر سره کړی دی.

**د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخېستنې نچوړېز (خلص) تعریف:**

۱- د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخېستنې جرم عبارت دی له؛

أ. د حاجت لرونکي وګړي نامشروع ګټو لاسته راوړلو په موخه، په دولتي اداره یا مقام باندې د نفوذ پلي کولو په مقابل کې، د نفوذ لرونکي وګړي نامشروع ګټې غوښتلو یا قبلولو څخه عبارت دی.

ب. د حاجت لرونکي وګړي د نامشروع ګټو لاسته راوړلو په موخه، د نفوذ لرونکي وګړي ته په دولتي اداره یا مقام باندې د نفوذ د پلي کولو په مقابل کې د نامشروع ګټې ورکول، وعده یا وړاندېز- څخه عبارت دی.

## دوېمه وینا: د ناوړه ګټې اخیستنې جرم او رشوت جرم تر منځ توپیر:

د اداري فساد سره د مبارزې موخه، دعمومي دندې خونديتوب او د اداري سلامتیا ده، چې، د فساد څخه د پاکې ټولنې رامنځته کېدل یې بنسټیز شرط دی. جزایي قوانین د عمومي ګټو ساتنې او ددې ارزښتونو ماتونکو، ټولې کړنې د جرم په صفت پیژندلي دي، چې د رشوت او د نفوذ څخه ناوړه ګټه اخیستنه یې د ډلې څخه دي[1].

د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستنې جرم او د رشوت جرم، دواړه د عامه خدمتونو مؤظف لخوا ترسره کېږي، په دې توپیر چې د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم د عامه خدمتونو مؤظف د واکونو د پولو څخه بېرون ترسره کېږي؛ یعني هغه مؤظف چې ګټه یې لاسته راوړې ده، د همدې ګټې په مقابل کې هغه کار چې دده دنده ئېز مکلفیت یې دی نه ترسره کوي، بلکې په بل مؤظف باندې خپل نفوذ پلی کوي تر څو د کار خاوند لپاره یو کار ترسره کړي. خو د رشوت په جرم کې؛ ترسره کوونکی (مرتکب) د رشوت په نامه یو څه- د هغه دندې په کولو، نه کولو یا اخلال په مقابل کې ترلاسه کوي چې، دده دنده ئېز مکلفیت دی.

[1] - مجيد حميد العنبکی، أثر المصلحه فی التشريعات، دار الثقافه، الاردن، الطبعه الاولی، ۲۰۰۲، ۹مخ.

. په همدې بنسټ؛ رشوت اخیستونکی په خپله دنده او د نفوذ څخه ناوړه ګټه اخیستونکی په خپل نفوذ، سوداګري کوي.

بل توپیر دا چې، د رشوت جرم په تعریف کې ځانګړي وګړي په ګوته شوې دي، لکه؛ «عامه خدمتونو مؤظف، د بهرني دولت یا نړیوال یا بین الحکومتي یا نا دولتي مؤسسې مؤظف یا د خصوصي مؤسسې.......مؤظف»، خو د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو په جرم کې سربېره پر پورته یادو شوو وګړو «یا **بل وګړی**» هم ددوی په کتار کې ورزیات شوی دی. نو د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو په جرم کې، **بل شخص** هم کولای شي د خپل نفوذ څخه ناوړه ګټه پورته کړي. بل شخص، یعني؛ هر نفوذ لرونکی وګړی که څه هم د عمومي خدمتونو مؤظف په صفت، دولتي یا نا دولتي یا رسمي یا غیر رسمي دنده ونلري.

د بل اړخه، د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستنې او رشوت جرم تر منځ ورته والی هم شته؛ د ادارې سلامت ګډوډول[۱]، او د کار خاوند په ګټه د یو کار ترسره کولو په مقابل کې مادي کړنه چې د غوښتلو، منلو، اخېستلو، د مال یا ګټې وړاندې کولو په ډول وي، ددې جرمونو ورته والی دی. همدارنګه دا دواړه جرمونه د عمدي جرمونو د جملې څخه دي.

| **لومړی شمېره فعالیت (۱)** |
|---|
| **مباحثوي پوښتنه:**<br>د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخستنې جرم او د رشوت په حکم کې جرم تر منځ، څه توپیر دی؟ د **۳۷۹** مادې له مخې چې د ټاکنېزو بنسټیونو غړی د پیسو، مال یا ګټې په مقابل کې هغه کار تر سره کوي چې دده دنده ئېز مکلفیت ندی او د رشوت تعریف پرې صدق نه کوي. ځکه، ترسره کوونکی (مرتکب) هغه څه |

۱ - أ. د جمال ابراهیم الحیدری، النماذج الإجرامیة للفساد الإداری فی قانون العقوبات العراقی، بحث منشور فی مجلة دراسات قانونیة (مجلة متخصصه یصدرها بیت الحکمة فی جمهوریة العراق) السنة السادسة، العدد عشرون، ۲۰۰۷ ، ۲٦مخ.

چې د رشوت په نامه تر لاسه کوي د خپل دنده ئېز مکلفیت د ترسره کولو، ډډه کولو یا اخلال لپاره نه؛ بلکې، د تهدید او نفوذ پلې کولو په موخه د بل یو عامه خدمتونو مؤظف د واک څخه ګټنه کېږي. له همدې امله، رشوت د جرم په حکم کې ګڼل شوی دی. عین صفتونه د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو په جرم کې، شتون لري؛ د پیسو، مال یا ګټې په مقابل کې عامه خدمتونو مؤظف (چې د ټاکنېزو ارګانونو غړي هم عامه خدمتونو مؤظفینو له ډلې دي) هغه کار ترسره کوي چې دده دنده ئېز مکلفیت ندی، بلکې د نفوذ څخه په ګټه اخیستو د عامه خدمتونو په بل مؤظف باندې کار ترسره کوي.
د قضیې نچوړ په دواړو جرمونو کې دای چې؛ نفوذ لرونکی د عامه خدمتونو مؤظف، د یو حاجت لرونکي وګړي څخه د مال یا ګټې اخیستو په مقابل کې، د بل یو د عامه خدمتونو په مؤظف باندې د حاجت لرونکي وګړي په ګټه، یو کار ترسره کوي.
پوښتنه دلته ده چې؛ ولې یو ډول کړنې ته دوه جلا جلا جرمي صفتونه ورکول شوي دي، او جزاګانې یې هم سره توپیر لري؟
ددې پوښتنې ځواب به ګډونوال ورکوي.

## دویم مبحث: د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخېستنې جرم جوړونکي عناصر:

د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم جوړونکي عناصر عبارت دی له؛ (قانوني، مادی او معنوي) عناصرو څخه چې د بېلا بېلو ویناوو تر سرلیک لاندې یې د بحث لاندې نیسو.

## لومړی وینا: د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستنې جرم قانوني عنصر:

د جزا کود ۳۲ مادې لومړی فقرې پر بنسټ قانوني عنصر داسې تعریف شوی دی: « (۱) دجرم قانوني عنصر پدې قانون کې د جرمي عمل او د هغه د ټاکلې جزا له تصریح څخه عبارت دی.»

د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم د جزا کود ۳۹۹ مادې څخه تر ۴۰۲ مادې پورې تصریح شوی دی.

## دویمه وینا: د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستنې جرم مادي عنصر:

د جزا کود ۳۳ مادې پر بنسټ د جرم مادي عنصر داسې تعریف شوی دی؛ «دجرم مادي عنصر د قانون د مخالف عمل له ارتکاب یا د هغه عمل د اجراء له ډډې کولو څخه عبارت دی چې قانون په هغه حکم کړی دی پداسې ډول چې ارتکاب یا ډډه کول په جرمي پایلې تمام شي او د عمل او پایلې تر منځ د سببیت اړیکه موجوده وي.»

د مادي عنصر اجزاوې عبارت دي له؛ فعل/دفعل څخه ډډه کول، پایله او د سببیت رابطې څخه.

- فعل عبارت دی له کولو یا د کولو نه ډډې کولو څخه چې قانون هغه جرم ګڼلی وي. دا به مورږ د جرمي کړنه تر سرلیک لاندې توضیح کړو.
- پایله د جرم څخه منځته راغلي اثر ته وایي.
- سببیت رابطه د جرمي کړنه او پایلې ترمنځ اړیکې شتون څخه عبارت دی.

د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم مادي عنصر پورته جزونه به په جلا جلا ډول تر څیړنې لاندې ونیسو.

## لومړی مطلب: جرمي کړنه (رفتار):

د جزا کود ۳۹۹ مادې ۱ او ۲ جز پر بنسټ، لاندې کړنې هر یو د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخېستنې د جرم مادي کړني جوړوي؛

- د نفوذ لرونکي وګړي له لورې د حاجت لرونکي وګړي څخه د ګټې غوښتنه او په دولتي کارکوونکي او یا مقام باندې د نفوذ پلي کول.
- د نفوذ لرونکي وګړي له لورې د ګټې قبلولو او په دولتي مقام یا کارکوونکي باندې د نفوذ پلي کول. (هغه ګټه چې د حاجت لرونکي وګړي له لورې وړاندې شوې ده.)
- د حاجت لرونکي وګړي څخه د نفوذ لرونکي وګړي له لورې د ګټې د وعدې اخېستل او په دولتي کارکوونکی یا مقام باندې د نفوذ پلي کېدل.
- د حاجت لرونکي وګړي له لوري نفوذ لرونکي وګړي ته په دولتي کارکوونکي یا مقام باندې د نفوذ د پلي کېدا په موخه د ګټې وړاندېز.
- نفوذ لرونکي وګړي ته د حاجت لرونکي وګړي له لوري په دولتي کارکوونکي یا مقام باندې د نفوذ پلي کېدو په موخه د ګټی ورکول.

ددې جرم ځینې جرمي کړنې باید د ځانګړي وصف لرونکي وګړي له لورې تر سره شي، په ټوله کې دا چاره «د ترسره کوونکي شخصیت» تر سرلیک لاندې څېړو. نو آیا د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم کې اړینه ده چې دا جرم د یو ځانګړي صفت لرونکي وګړي له لورې ترسره شي؟

ددې پوښتنې ځواب لاندې څرګندونو ته اړتیا لري؛

**د ترسره کوونکي (مرتکب) شخصیت:** د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستنې جرم د رامنځته کېدو لپاره دا مهمه نده چې د ځانګړي صفت لرونکي وګړي له لورې دې، دا جرم ترسره شوی وي. سره له دې چې د ۳۹۹ مادې په ۱ جز په پیل کې د ځانګړو وګړو لکه؛ د (عامه خدمتونو مؤظف، د بهرني دولت یا نړیوال سازمان یا بین الحکومتي مؤسسې یا نادولتي مؤسسې) کارکوونکو څخه یادونه شوې ده او داسې ښایې چې د نفوذ لرونکی وګړی باید د همدې یادو مراجعؤ کارکوونکی وي خو، د همدې جز په پای کې د

پورته نومونو څخه وروسته د «بل وګړي» څخه یادونه شوېده، چې لومړنۍ ذهنیت له منځه وړي. نو په تأکید ویلی شو چې د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستو په جرم کې د خاص صفت لرونکی وګړی شرط نه بلل کېږي، بلکې دا جرم د هر هغه وګړي لخوا چې واقعي یا فرضي نفوذ ولري ترسره کیدا شي. واقعي نفوذ به د دولتي وګړو په اړوند؛ د هغه نفوذ څخه عبارت دی چې، د دولتي دندې، مقام یا سیاسي موقف څخه یې سرچینه اخیستې وي او واقعي نفوذ به د نا دولتي وګړو په اړوند؛ د هغه نفوذ څخه عبارت وي چې د ټولنیز، اقتصادي یا مذهبي ځایګي څخه یې سرچینه اخیستې وي. خو فرضي نفوذ (وهمي او زعمي)، هغه دی چې وګړی نفوذ نلري خو داسې ښایې چې دی د نفوذ څخه برخمن دی.

**دجرم موضوع:** جرمي کړنه، په یو شي واقع کېږي او هغه زیانموي، همدا د جرم د موضوع په نامه یادېږي. د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم د موضوع په اړوند دوه نظرونه شتون لري؛

په لومړي نظر کې: د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستو دجرم موضوع **د اداري سلامتیا** ده چې نفوذ لرونکی وګړی او حاجت لرونکی وکړی یې فاسدوي. په دویم نظر کې د جرم موضوع، **ګټه** ده چې نفوذ لرونکی وګړی غواړي لاسته یې راوړي.

## دویم مطلب – دجرم پایله:

د جزا کود ۳۵ مادې سره سم « د جرم پایله د جرمي کړنې محصول دی چې د جرمي فعل د ارتکاب یا د قانوني فعل د اجرا څخه د ډډې کولو له امله رامنځته کېږي»
پورتني حکم ته په کتو، داسې پوهېدل کېږي چې، د تحریک کوونکي په ګټه او د نامشروع مادي یا معنوي ګټې ترلاسه کولو په موخه د دولتي مقام یا کارکوونکي د تاثیر لاندې راتګ له لارې؛ **دنده ئېز مکلفیت کول یا نه کول**، د ناوړه ګټې اخیستو د جرم پایله ده. د جزا کود **۳۹۹**مې مادې د صراحت پر بنسټ، د پایلې رامنځته کېدل د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم شرط نه دی. لکه څرنګه چې مو مخکې وویل؛ د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم مطلق (ناپایلېز) جرم دی. یوازې د (ګټې غوښتنه، قبلول، وعده، وړاندېز یا ورکولو) باندې جرم بشپړېږي.

له همدې امله، لاندنۍ کړنې بې له دې چې پایله یې رامنځته کړې وي، د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم ګڼل کېږي:

- نفوذ لرونکی وګړی د حاجت لرونکي وګړي څخه ګټه وغواړي او هغه سره وعده وکړي چې ددې ګټې په مقابل کې ستا د حاجت پوره کولو لپاره په دولتي کارکوونکي یا مقام باندې نفوذ پلی کوم، محض په غوښتنه جرم تکمیل شوی ګڼل کېږي ولو که حاجت لرونکی وګړی یې، وړاندېز رد کړي.
- د نفوذ لرونکي وګړي ته د نفوذ د پلي کېدا په مقابل کې د حاجت لرونکي وګړي لخوا د ګټې وړاندېز وشي او هغه یې ومني، که څه هم نفوذ لرونکي وګړي خپل نفوذ څخه لا کار هم ندی اخیستی، جرم یې تکمیل شوی ګڼل کیږي.
- د حاجت لرونکي وګړي لخوا نفوذ لرونکي وګړي ته د نفوذ پلي کېدا په مقابل کې د ګټې وړاندېز وشي، د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم تکمیل ګڼل کېږي، که څه هم د نفوذ لرونکي وګړي له لورې دا وړاندېز رد شوی وي.
- که د حاجت خاوند نفوذ لرونکي وګړي ته ګټه ورکړي تر څو د هغې په بدل کې په دولتي کارکوونکي یا مقام باندې نفوذ پلی کړي، خو نفوذ لرونکی وګړی یې رد کړي، په محض ورکړه باندې جرم تکمیل ګڼل کېږي.

### دریم مطلب- د سببیت اړیکه:

د جزا کود ۳٦مادې سره سم، «د سببیت اړیکه د جرمي عمل او دهغه د پایلې تر منځ د متعارفې اړیکې له شتون څخه عبارت ده.»

د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستو په جرم کې د سببیت اړیکې شتون تر بحث لاندې نه نېول کېږي. ځکه دا جرم نا پایلېز یا مطلق جرم دی او کله چې پایله د بحث وړ نه وي نو د سببیت اړیکه خو په طریق اولا د بحث وړ نه ده.

## درېمه وینا: د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم معنوي عنصر:

د جزا کود ۳۸ مادې سره سم، « دجرم معنوي عنصر له جرمي قصد، په جرم او د هغه پر پایلې یا جرمي خطا له علم او خبرتیا څخه عبارت دی.»

د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم قصدي جرم دی. په همدې بنسټ؛ کله چې نفوذ لرونکی وګړی د حاجت خاوند (تحریک کوونکي) څخه د ګټې غوښتنه کوي یا یې وړاندېز مني نو د هغه سره باید په دولتي کارکوونکي یا مقام باندې د نفوذ پلي کېدا قصد شتون ولري. همدارنګه کله چې تحریک کوونکی وګړی نفوذ لرونکي وګړي ته د ګټې د ورکړې، وړاندېز کوي یا یې هغه ته ورکوي یا د ورکړې وعده ورکوي، نو دتحریک کوونکې وګړي سره باید دا قصد شتون ولري چې نفوذ لرونکی وګړی به په دولتي کارکوونکي یا مقام باندې نفوذ پلی کوي.

یادونه: زما په اند؛ د ګټې اخیستل یا منل او یا.... عام قصد او د نفوذ واردول خاص قصد دی. یعني دواړو څخه که یادونه وشي ډېر به ښه وي. یعني ځانته په پیسو اخیستو قصد باندې جرم معنوي عنصر نه تکمیلېږي.

**(۲) شمېره فعالیت**

**فرضیه:**

د احمد کار په یوه دولتي اداره کې نه ترسره کېږي، محمود یو نفوذ لرونکی وګړی او د احمد ملګری دی. احمد یوه ورځ د محمود خواته راغی تر څو محمود په اړونده اداره باندې نفوذ کاروني ته وهڅوي. محمود داسې فکر کوي چې احمد یې پوښتنې ته ورغلی دی. په خپلو کې د خبرو اترو په منځ کې محمود د خپلو اقتصادي ستونزو څخه یادونه وکړه او احمد هم په اړونده اداره کې د خپل کار د نه ترسره کېدو کیسه او په دې برخه کې د محمود څخه د مرستې غوښتنه کوي. احمد د تګ او خدای پامانۍ پر وخت ۲۰ زره افغانۍ په دې موخه محمود ته ورکوي چې که دا پیسې هغه دې ته وهڅوي چې اړونده

اداره باندې خپل نفوذ د احمد په ګټه پلی کړي. خو محمود فکر کوي چې دده د اقتصادي ستونزو د کمېدا لپاره احمد دا پیسې د پور په ډول ده ته ورکړي دي.
ستاسې په اند، په دې فرضي قضیه کې څوک د جرم مرتکب شوی دی؟

## درېم مبحث: د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستنې جرم جزا:

په دې مبحث کې به موږ د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم جزاګانې؛ په لومړی وینا کې اصلی جزا، دویمه وینا کې تبعي جزا او په درېمه وینا کې بشپړونکي (تکمیلي) جزا د مطالعې لاندې ونېسو.

### لومړی وینا: د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم اصلي جزا:

د جزا کود د د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم ترسره کوونکو ته اصلي جزا داسې تصریح کړی ده؛
**الف)** د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جزا:
په ۳۹۹ ماده کې یاد شوي وګړي په لاندې ډول مجازات کېږي:

۱. **دحبس بدیل:** په هغه صورت کې چې د ګټې ارزښت تر شل زرو افغانیو پورې وي.
۲. **لنډ حبس:** په هغه صورت کې چې د ګټې ارزښت د شلو زرو څخه ډېر تر پنځوس زرو افغانیو پورې وي.
۳. **د درې کلونو پورې متوسط حبس:** په هغه صورت کې چې د ګټې ارزښت د پنځوسو زرو څخه زیات تر سل زرو افغانیو پورې وي.
٤. **د درې کلونو څخه ډېر متوسط حبس:** په هغه صورت کې چې د ګټې ارزښت د سل زرو څخه زیات تر یو مېلیون افغانیو پورې وي.
٥. **د متوسط حبس اکثره اندازه:** په هغه صورت کې چې د ګټې ارزښت د یو مېلیون افغانیو څخه ډېر وي.
٦. **لنډ یا متوسط حبس:** په هغه صورت کې چې ګټه مادي نه وي.

**(۳) شمېره فعالیت**

**مناقشه:**

تاسې د جزا کود ۳۹۹ مادې ۱ او ٦ جز ته پام وکړئ؛

که د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم ترسره کوونکي د ګټې ارزښت مادي او تر ۲۰ زرو افغانیو پورې وي، په حبس نه محکومېږي. خو د دې مادې ٦ جز پر بنسټ که چېرې ګټه غیر مادي وي، نفوذ څخه ناوړه ګټه اخیستونکی تر پنځو کلونو پورې د حبس په جزا محکومېدای شي.

ستاسې په اند، آیا د ۳۹۹ مادې ۱ او ٦ جز کې دجرم او جزا تر منځ تناسب شتون لري؟

**ب) د نفوذ څخه په ناوړه ګټې اخیستو جرم تحریک کوونکي جزا:**

د نفوذ څخه په ناوړه ګټې اخیستو جرم تحریک کوونکی په لاندې ډول مجازات کېږي؛

۱. **نقدي جزا:** په هغه صورت کې چې د ګټې ارزښت تر شلو زرو افغانیو پورې وي.
۲. **دحبس بدیل:** په هغه صورت کې چې د ګټې ارزښت د شلو زرو څخه ډیر تر پنځوس زره افغانیو پورې وي.
۳. **لنډ حبس:** په هغه صورت کې چې د ګټې ارزښت د پنځوس زرو څخه ډیر تر سل زره افغانیو پورې وي.
٤. **تر دوو کلونو متوسط حبس:** په هغه صورت کې چې د ګټې ارزښت د سل زرو څخه ډیر تر یو میلیون افغانیو پورې وي.
٥. **تر درېو کلونو پورې متوسط حبس:** په هغه صورت کې چې د ګټې ارزښت د یو میلیون څخه ډیر وي.
٦. **لنډ حبس:** کله چې ګټه، غیر مادي وي.

**دوېمه وینا: تبعي جزا:**

د جزا کود ۱۷۲ مې مادې د حکم پر بنسټ، وګړی په لاندې حالاتو کې د اصلي جزا تر څنګ په تبعي جزا هم محکومېږي:

۱- د محکوم بها حبس موده د لسو کلونو څخه ډېره وي.

۲- د جزا کود دوېم کتاب اول او دوېم باب کې درج جرایمو ترسره کوونکی په تبعي جزا محکومېږي، که څه هم د محکوم بها حبس موده یې د لسو کلونو څخه کمه وي..

دلته د پام وړ موضوع د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم په مجازاتو کې دا ده، چې یو د پورتنېو حالتونو څخه په دې جرم سمون نه خوري؛

لومړی حالت ځکه سمون نه خوري چې د جزا کود ۴۰۰مې مادې ۵ جز او ۴۰۱مې مادې ۵ جز کې، د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم ترسره کوونکي جزا د پنځو کلونو څخه ډېرېدای نشي.
دوېم حالت ځکه سمون نه خوري چې، د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم د جزا کود دوېم کتاب اول او دوېم باب کې شامل جرم نه دی.
خو د ۴۰۰مې مادې په (۲) فقره او ۴۰۱مې مادې (۲) فقره کې داسې تصریح شوې دي، چې که چېرې د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم ترسره کوونکی د عامه خدمتونو مؤظف وي د حبس د جزا سربېره، ددندې څخه په انفصال او له مسلک څخه په طرد باندې هم محکومېږي.
پوښتنه دلته داده چې؛ **ددندې څخه انفصال یا د مسلک څخه طرد** اصلي جزا ده او یا که تبعي جزا ده، او یا که بشپړوونکې جزا ده؟

**درېمه وینا: بشپړوونکې جزا:**

بشپړوونکې جزا د جزا کود ۱۷۸مې (۱) فقرې پر بنسټ داسې تعریف شوې ده: « تکمیلي جزا هغه مجازات دي چې پر اصلي جزا برسېره د محکمې په حکم کې تصریح شوې وي»
د تکمیلي جزا موخه، مجرمېنو په کړنو کې اصلاح سره مرسته او ډېر تاثیر اچول دي. محکمه په هغه وخت کې تورن د اصلي جزا سربېره په بشپړوونکې جزا هم محکومولی شي چې په قانون کې یې

وړاندوېنه شوې وي. دا جزاګانې عبارت دي له؛ **د ځېنې حقونو او امتیازونو څخه محرومیت او د مالونو مصادرې**، څخه.

## لومړی مطلب: د ځېنې حقونو او امتیازونو څخه محرومیت:

د بشپړوونکې جزا (د ځېنې حقونو او امتیازونو څخه محرومیت) پلې کېدا لپاره قانون جوړونکي (مقنن) د ۱۷۹ مادې په (۱) فقره کې لاندې معیارونه په ګوته کړېدي. «محکمه کولی شي تر لسو کلونو پورې د طویل حبس یا متوسط حبس د حکم پر وخت د جرم پر اصلي جزا برسېره، محکوم علیه د دې قانون د ۱۷۲مې مادې په ۳، ۴ او ۵ اجزاوو کې له درج شوو حقوقو او امتیازانو څخه هم محروم کړي.»
دجزا کود ۱۷۲مې مادې ۳، ۴ او ۵ اجزاوو کې لاندې موارد راځي؛
۳- له نښانونو، مډالونو او دولتي افتخاري القابو څخه استفاده.
٤- د اداري او مالي فساد د جرم د ارتکاب په سبب د محکومیت په صورت کې د شرکتونو، بانکونو او مؤسسو په مدیره هیئت کې غړیتوب.
٥- له ادارو، تصدیو، دولتي او مختلطو مؤسسو سره د قرار داد عقد یا د مالي جرمونو د ارتکاب په صورت کې د دولت لخوا د امتیاز تر لاسه کول.

پر دې بنسټ، محکمه کولای شي د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم ترسره کوونکی په هغه مواردو کې چې محکوم بها جزا، متوسط حبس وي د ۱۷۲مې مادې په ۳، ۴ او ۵ جزونو کې درج حقونو او امتیازونو څخه هم، محکوم علیه محروم کړي.

## دوېم مطلب- د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو په جرم کې ورکړل شوو وجوهو مصادره:

د جزا کود ۴۰۲مې پر بنسټ، د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم څخه لاسته راغلې ګټه، مادي او معنوي دواړو ګټو ته شاملېږي. ددې دواړو مواردو تشریح په لاندې ډول ده:

**الف)** مادي ګټې د هغه مالونو څخه عبارت دي چې، د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم تحریک کوونکي لخوا وړاندېز یا ورکړل شوي وي. سره له دې چې وجوهو کلمه غالباً نقدي مالونو ته شاملېږي خو دا یو ټولېز بنسټ (قاعده) ندی، بلکې غیر منقول مالونه هم مصادره کېدای شي.

**ب)** غیر مادي ګټې عبارت دي له غیر مالي ګټو څخه چې د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم تحریک کوونکي لخوا وړاندې یا تامینېږي. لکه؛ د رتبې ترفیع، تقدیر نامې ورکړه، قرار داد غزول او داسې نور.

یادونه: البته که دلته د غیر مادي ګټو د ابطال څخه یادونه وشي د ګټې څخه به خالي نه وي. ځکه غیر مادي ګټې دلته قابل د مصادرې نه بلکې د بطلان سره مخامخ دي.

**(٤) شمېره فعالیت**

**فرضیې:**

لومړی فرضیه: تحریک کوونکي وګړي د نفوذ خاوند ته وویل؛ د (ی) اداره زما په ترفیع کې اخلال واردوي، که چېرې تاسې د خپل نفوذ څخه په ګټه اخیستو زما د ترفیع کار وکړئ زه له تا سره واده کوم. نفوذ لرونکي وګړي هم په (ی) اداره باندې خپل نفوذ پلی کړو او د تحریک کوونکي کار (ترفیع) یې ترسره کړو.

پوښتنه: په دې قضیه کې، غیر مادي ګټه د نفوذ خاوند تر لاسه کړې ده. د جزا کود ۴۰۲ مادې (۲) فقرې پر بنسټ، کله چې د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو په جرم کې غیر مادي ګټه ترلاسه شي، معنوي ګټه باطلېږي. نو آیا دا واده فسخ کېږي؟

دویمه فرضیه: تحریک کوونکي وکړي د نفوذ خاوند ته وویل؛ د (م) دولتي اداره یو کارکوونکي ته اړتیا لري، که ته د خپل نفوذ څخه په ګټې اخیستو زما کار په دغه اداره کې جوړ کړې، زما پلار چې د حاجیانو مسؤل دی تا به په مفته حاجیانو لست کې شامل کړي. نفوذ لرونکي وګړي خپل نفوذ د (م) دولتي اداره باندې پلی کړ او د تحریک کوونکي کار یې جوړ کړ. تحریک کوونکي هم په خپله ذریعه نفوذ خاوند په وړیا ډول حج ته واستوو.

پوښتنه: د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم څخه چې کومه ګټه لاسته راغلې ده، معنوي ګټه ده. د جزا کود ۴۰۲مې مادې (۲) مې فقرې پر بنسټ ددې معنوي ګټې بطلان څه ډول شونې دی؟

## د لومړي څپرکي پایلیزه:

د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستنې جرم د څپرکي اړونده (۳۹۹ څخه تر ۴۰۲) مادو د تشریح او تحلیل څخه وروسته دې پایلې ته ورسېدو چې:

۱. د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم د مالی جرمونو دی،

۲. د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم عبارت دی له؛

أ. د تحریک کوونکي نامشروع ګټو د لاسته راوړلو په موخه، په دولتي کارکوونکي یا مقام باندې د نفوذ خاوند لخوا د نفوذ پلي کولو په مقابل کې د نا مشروع ګټې غوښتنه یا قبلول دی.

ب. د تحریک کوونکي نامشروع ګټو لاسته راوړلو په خاطر د نفوذ خاوند ته په دولتي کارکوونکي یا مقام باندې د نفوذ پلي کولو په مقابل کې د حاجت خاوند یا تحریک کوونکي لخوا د نامشروع ګټې وعده یا وړاندېز یا ورکول دي، د نفوذ خاوند ته.

۳. د رشوت او د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم تر منځ توپیر دادی چې؛ په رشوت کې، رشوت اخیستونکی د مال یا ګټې لاسته راوړلو په مقابل کې د حاجت خاوند په ګټه داسې کار ترسره کوي چې دده دنده ئېز مکلفیت دی، خو د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو په جرم کې، د نفوذ خاوند د مال یا ګټې په مقابل کې، د ادارې په مؤظف فشار راوړي چې د حاجت خاوند په ګټه کار وکړي.

٤. د «رشوت په حکم کې جرم» او د «نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو» په جرم کې تداخل شتون لري؛ کله چې د ټاکنو له لارې راتلونکي بنسټ یو غړی د حاجت خاوند څخه د مال یا ګټې ترلاسه کولو په مقابل کې د یوې ادارې په مؤظف باندې د نفوذ پلې کولو له لارې د حاجت خاوند ته یو کار ترسره کړي، ددې عمل جرمي وصف کېدای شي د «رشوت په حکم کې» جرم او یا هم «د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستو» جرم، وصف خپل کړي.

٥. د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم قانوني عنصر د جزا کود ۳۹۹ مادې څخه تر ۴۰۲ مادې پورې تصریح شوی دی.

٦. د لاندې کړنو څخه هر یو یې کولای شي د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم مادي فعل جوړ کړي؛

أ. د حاجت خاوند څخه د نفوذ خاوند لخوا په دولتي کارکوونکي یا مقام باندې د نفوذ د پلي کېدا په مقابل کې د ګټې غوښتنه.

ب. د نفوذ خاوند له لورې په دولتي کارکوونکي یا مقام باندې د نفوذ د پلي کېدا په مقابل کې د حاجت خاوند لخوا وړاندېز شوې ګټې قبلول.

ج. دنفوذ خاوند له لورې د حاجت لرونکي وګړي څخه د ګټې وعدې اخېستل په دولتي کارکوونکي یا مقام باندې د نفوذ پلي کېدا په مقابل کې.

د. د حاجت لرونکي وګړي له لورې نفوذ لرونکي وګړي ته په دولتي کارکوونکي یا مقام باندې د نفوذ پلي کېدا په مقابل کې د ګټې وړاندېز کول.

ه. دحاجت لرونکي وګړي له لورې نفوذ خاوند ته په دولتي کارکوونکي یا مقام باندې د نفوذ پلي کېدا په مقابل کې د ګټې ورکړه.

٧. د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستو په جرم کې د جرم ترسره کوونکي وګړي، په نښه شوی شخصیت شرط ندی، بلکې مؤظف یا نامؤظف هر هغه وګړی چې د نفوذ خاوند وي دا جرم ترسره کولای شي.

۸. د جرم موضوع معمولاً، جرم چې په یو شي ترسره کېږي همدې ته د جرم موضوع وايي. د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستو په جرم کې د جرم موضوع د ادارې سلامتیا ده چې د نفوذ لروونکي او حاجت لروونکي وګړو له لورې فاسدېږي.

۹. د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو په جرم کې جرمي پایله د نفوذ لرونکي وګړی په دولتي اداره یا مقام باندې خپل نفوذ وکاروي او دهغې په پایله کې د حاجت خاوند په ګټه پای ته ورسېږي.
خو د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم بې پایلې یا مطلق جرم دی په همدې بنسټ، محض (د ګټې غوښتنه، قبلول، وعده، وړاندېز یا یې ورکړه) هغه کړنې دي چې دا جرم پرې بشپړ ګڼل کېږي او پایلي ته اړتیا نه لېدل کېږي.

۱۰. د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم د عمدي جرمونو څخه شمېرل کېږي، کله چې نفوذ لرونکی وګړی د حاجت لرونکي وګړي (تحریک کوونکي) څخه ګټه غواړي یا یې وړاندېز مني باید ددې قصد ولري چې په دولتي کارکوونکي یا مقام باندې به نفوذ پلی کوي. همدارنګه هغه وګړی چې د نفوذ خاوند ته د ګټې وړانېز کوي یا یې ورته ورکوي، باید ددې قصد ولري چې ددې ګټې په مقابل کې به نفوذ لرونکی وګړی په دولتي مقام یا کارکوونکي باندې خپل نفوذ کاروي.

۱۱. د ناوړه ګټې اخیستو جرم ترسره کوونکي؛ ۱- د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو ته تحریک کوونکی (حاجت خاوند) او ۲- د نفوذ لرونکی وګړی (په دولتي اداره یا مقام باندې نفوذ کارونکی) دي. د هر یو جزا په توپیر سره د جزا کود په ۴۰۰ او ۴۰۱ مادو کې په ګوته شوې ده. د نفوذ کاروونکي وګړي جزا د ناوړه ګټې اخیستو په جرم تحریک کوونکي وګړي په پرتله شدیده ده.

۱۲. د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم ترسره کوونکی (که هغه نفوذ څخه ناړوه ګټه اخیستونکی وی او که د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم ته تحریک کوونکی وي) که د عامه خدمتونو مؤظف وي، سربېره د حبس په جزا د د مسلک څخه په طرد یا د دندې څخه په انفصال هم محکومېږي.

۱۳. محکمه کولای شي چې د نفوذ څخه ناوړه ګټې اخیستونکی (په هغه مواردو کې چې د حبس محکوم بها موده یې متوسط وي) د جزا کود ۱۷۲ مادې په ۳، ۴ او ۵ جزونو کې په ګوته شوو حقونو او امتیازونو څخه هم، د بشپړوونکې جزا په ډول محروم کړي.

١٤. د جزا کود ۴۰۲مې مادې د حکم پربنسټ د نفوذ څخه د ناوړه ګټې اخیستو له جرم څخه لاسته راغلي ګټه چې مادي او معنوي ګټو ته شاملېږي، مادي یې مصادره او معنوي یې باطلېږي.

# دویم څپرکی
# د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم

**موخې:**

ددې درسې ناستې په پای کې به ګډونوال وکولای شي چې:

- د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم مفهوم بیان کړي؛
- د دندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم بېلګې تحلیل کړي؛
- د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم جوړونکي عناصر په سم ډول په نښه کړي؛ او
- د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم جزاګانې په سمه توګه په نښه او پلې کړي.

**سرلیکونه:**

- ددندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم مفهوم؛
- ددندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم جوړونکي عناصر،
- ددندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم بېلګې؛
- ددندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم جزاګانې.

# دويم څپرکی

# ددندې يا موقف څخه ناوړه ګټې اخيستنې جرم

**سرېزه**

د دندې يا موقف څخه ناوړه ګټې اخيستو جرم د اداري فسادجرمونو يو ډول دی چې د جزا کود ۴۰۳ مادې څخه تر ۴۱۸ مادې پورې يې احکام تنظيم شوې دي. د دندې يا موقف څخه ناوړه ګټې اخيستو جرم مفهوم څه شی دی؟ جوړونکي عناصر يې کوم دی؟ بېلګې يې کوم موارد رانغاړي؟ او کومې جزاګانې ورته وړاندوېنه شوې ده؟ دا هغه پوښتنې دي چې په دې څپرکي کې به يې ځواب کړو.

په لومړي مبحث کې، د دندې يا موقف څخه ناوړه ګټې اخيستو جرم تعريف کوو، په دوېم مبحث کې، د دندې يا موقف څخه ناوړه ګټې اخيستو جرم جوړونکي عناصر په ګوته کوو، بيا به په درېم مبحث کې، د جوړونکو عناصرو بېلګې او د هغې جزاګانې تر څېړنې لاندې ونېسو، او په پای کې، د څلورم مبحث لاندې به د دندې يا موقف څخه ناوړه ګټې اخيستو جرم تکميلي جزاګانو ته نغوته کوو.

## لومړی مبحث: د دندې يا موقف څخه ناوړه ګټې اخيستنې جرم تعريف:

په دې مبحث کې د دندې يا موقف څخه ناوړه ګټې اخيستو جرم مفهوم باندې بحث کوو؛

ناوړه ګټنه په ټولیز ډول د یو شي څخه ناسمه ګټنه ده د ناسمې یا ناعادلانه ګټې لاسته راوړلو پر بنسټ[۱].

د افغانستان د ۱۳۹٦ جزا کود، د ندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم د ۴۰۳مې مادې په (۱) فقره کې داسې تعریف کړی دی.:« **که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف د قانون خلاف د خپل ځان یا بل شخص لپاره دنامشروع منفعت د ترلاسه کولو په منظور، کوم عمل ترسره (اجراء) یا له هغه څخه ډډه وکړي، له دندې څخه د ناوړه ګټې اخیستنې مرتکب شوی......**» دی.

داسې معلومېږي چې پورتنی تعریف د اداري فسادسره د مبارزې نړیوال میثاق څخه رااخېستل شوی وي، ځکه د اداري فسادسره د مبارزې میثاق د دندې څخه ناوړه ګټې اخېستنه داسې په ګوته کړی ده. «**غړي هېوادونه د دندې یا مقام څخه د ناوړه ګټې اخیستو سرغړونې ته چې، دولتي کارکوونکي لخوا د دندې پر وخت د اجراء یا د قوانینو په اجراء کې لنډېدا (قصور)، د ځان یا بل بنسټ د نامشروع ګټو ترلاسه کولو لپاره په قصدي ډول ترسره کړي، باید د قوانېنو په وضع او نور اړېنو اقداماتو له لارې په پام کې ونېسي.**»

په همدې بنسټ، د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم داسې تعرفوو؛ **دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم عبارت دی له؛ د ځان یا بل وګړي د ګټو لپاره د عامه خدمتونو مؤظف له لورې د قانون خلاف د یو عمل ترسره کول یا د عمل د ترسره کولو نه ډډې کولو، څخه.**

په نچوړېز ډول که یې ووایو نو؛ ددندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم هغه کار تر سره کولو ته شاملېږي چې د عامه خدمتونو مؤظف دنده ئېز موقف نه وي، یا د یو کار نه ترسره کول چې دده دنده ئېز موقف وي. البته د ځان یا بل د ګټې د لاسته راوړلو په قصد.

---

[۱] - ویکی‌پدیا، دانشنامهٔ آزاد. https://fa.wikipedia.org

**دجزا کود د تعریف تشریح:**

**« که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف......» د عامه خدمتونو مؤظف** عبارت مور. ته رارسوي چې د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم د هغه جرمونو څخه ګڼل کېږي چې د عامه خدمتونو د مؤظف لخوا ترسره کېږي. د عامه خدمتونو مؤظف د جزا کود ۴مې مادې په ۳م جز کې داسې تعریف وشی دی؛

«د عامه خدمتون مؤظف: هغه شخص دی چې د عامه خدمتونو اجراء ته مؤظف شوی وي او لاندې اشخاص پکې شامل دي:

- د دولت، دولتي تصدیو او شرکتونو کارکوونکی.

- د عامه مؤسسو یا د هغه تشبثاتو کا کوونکی چې عامه خدمتونه ترسره کوي..

- ددولت د ارکانو او د ټاکنیزو بنسټونو غړي.

- قاضي، څارنوال، مدافع وکیل، حکم، اهل خبره او نور هغه اشخاص چې د هغوی تصدیقونه معتبر وپېژندل شي.

- هغه شخص چې رسماَ د عامه خدمتونو پر ترسره کولو مؤظف شوی وي.»

**« د خپل ځان یا بل شخص لپاره د نامشروع منفعت د ترلاسه کول په منظور...» د ګټې (منفعت) ترلاسه کولو په منظور** عبارت راښایي چې د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم قصدي جرم دی. د دې جرم د قصدي والي پایله داده چې؛ که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف په سهوې ډول او بې له قصده د قانون خلاف یو کار په کولو یا د کار کولو څخه ډډې کولو له لارې، د ځان یا بل لپاره د نامشروع ګټې ترلاسه کولو سبب شي، د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم مرتکب نه ګڼل کېږي. که څه هم دا په یو ډول د خطا سره مل وي. لکه، بې احتیاطي، د قوانېنو او مقرراتو نه رعایتول او داسې نور.

**«د ځان یا بل ته د نامشروع منفعت (ګټه)...»: د نامشروع ګټې** اصطلاح راښایي چې، که چېرې ګټه مشروع وی، ترسره کوونکی د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم مرتکب نه پېژندل کېږي.

**«...دقانون خلاف...»:** اصطلاح رابناېي چې د عمل ترسره کول يا د يو عمل د ترسره کولو څخه ډډه کول بايد د قانون خلاف وي، که داسې نه وي نو بيا د دندې يا موقف څخه ناوړه ګټې اخيستو جرم نه مطرح کېږي.

**«...اجرا يا ډډه کول...»** دا قيد رابناېي چې د دندې يا موقف څخه ناوړه ګټې اخيستو جرم په ايجابي، د عمل د ترسره کولو او په سلبي، د قانوني عمل د ترسره کولو څخه د ډډې کولو له لارې، رامنځته کېږي.

## دويم مبحث: ددندې يا موقف څخه د ناوړه ګټې اخيستو جرم جوړونکي عناصر:

د جزا کود ۴۰۳مې مادې (۱) فقرې د دندې يا موقف څخه د ناوړه ګټې اخيستو جرم داسې تصرح کړی دی:

**«(١) که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف د قانون خلاف د خپل ځان يا بل شخص لپاره د نامشروع منفعت د ترلاسه کولو په منظور، کوم عمل ترسره يا له هغه څخه ډډه وکړي، له دندې څخه دناوړه ګټې اخيستنې مرتکب شوی په متوسط حبس يا له شپېتو زرو څخه تر دريو سوو زرو افغانيو پورې په نقدي جزا محکومېږي.»**

په همدې مبحث کې لومړی د دندې يا موقف څخه د ناوړه ګټې اخيستو جرم جوړونکي عناصر او بيا يې جزا تر مطالعې لاندې نيسو:

### لومړی وينا: ددندې يا موقف څخه د ناوړه ګټې اخيستو جرم مادي عنصر:

د مادي عنصر جزونه په نتیجوي او غیرنتیجوي جرمونو کې توپیر لري، د بېلګې په ډول؛ پایله او د سببیت اړیکه د نتیجوی جرمونو د مادي عنصر جزونه دي، په داسې حال کې چې پایله او د سببیت اړیکه په غیر نتیجوي جرمونو کې نه مطرح کېږي.

ددندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم هم غیر نتیجوي یا مطلق جرم دي، نو د مادي عنصر تر نامه لاندې موږ د مادي عنصر نور جزونه تر څېړنې لاندې نیسو. لکه؛ د ترسره کوونکي شخصیت او د جرم موضوع.

**لومړی مطلب: فعل:**

د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم جرمي کړنه یا فعل لاندې مواردو ته شامل دی:

۱) **د عمل ترسره کول؛** ځان یا بل وګړي ته د ګټې رسولو په موخه د قانون خلاف کړنو ترسره کول؛ یا

۲) **د عمل د اجرا څخه ډډه کول؛** ځان یا بل وګړي ته د نامشروع ګټې رسولو لپاره د قانوني عمل د ترسره کولو څخه ډډه کول.

لومړنۍ کړنه د ایجابي جرم ښکارندویې کوي او دوېمه کړنه د امتناعي یا سلبي جرم ښکارندویې کوي. جرمي فعل د مرتکب یا فاعل د کړنې له امله ترسره کېږي، چې د مرتکب شخصیت د سرلیک لاندې یې مطالعه کوو. همدارنګه دا جرم چې په کوم شي واقع کېږي، هغه د جرم موضوع تر سرلیک لاندې د مطالعې لاندې نیسو:

**الف): د ترسره کوونکي (مرتکب) شخصیت:**

د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم ترسره کوونکی باید د عامه خدمتونو مؤظف وي، ځکه د جزا کود ۴۰۳مې مادې (۱) فقره داسې صراحت لری: «**که چیرې د عامه خدمتونو مؤظف د قانون خلاف د خپل ځان یا بل شخص لپاره د نامشروع منفعت د ترلاسه کولو په منظور.....**» نو په هغه

صورت کې چې د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم ترسره کوونکی عامه خدمتونو مؤظف ونه اوسي، یا مخکې د مقررېدو یا ددندې مودې د پای ته رسېدو په موده کې، که یو شخص د جرم مرتکب کېږي، نو ددندې یا موقف څخه د ناوه ګټې اخیستو جرم صفت نشو ورکولی. خو کیدای شي دده عمل بل جرمي وصف واخلي.

**ب): دجرم موضوع:** ددندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم موضوع د **نامشروع ګټې** ترلاسه کول دي.

## دوېم مطلب: جرمي پایله:

د دندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم پایله د نامشروع ګټې لاسته راوړل دي، خو پایله ددې جرم د بشپړېدو شرط نه ګڼل کېږي. نو که، د عامه خدمتونو مؤظف د قانون خلاف یو عمل ترسره یا د ترسره کولو څخه یې ډډه وکړي، خو ګټه یې لاسته نه وي راوړي، نوموړی د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم ترسره کوونکی پیژندل کېږي. ځکه دا جرم ناپایلېز یا مطلق جرم دی او یوازې په جرمي کړنه باندې بشپړ شوی ګڼل کېږي.

## درېم مطلب: د رشوت جرم او ددندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم توپیر:

د رشوت جرم او دندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم تر منځ ګډ ټکی دا دی چې؛ په هر یو ددې دواړو جرمونو کې چې د قانون خلاف یو عمل ترسره کېږي یا د ترسره کولو څخه یې ډډه کېږي، شخص باید د عامه خدمتونو مؤظف وي.

توپیر یې په دې کې دی چې؛ د رشوت په جرم کې چې د قانون خلاف کوم عمل ترسره یا د ترسره کولو څخه یې ډډه کېږي، دا دعامه خدمتونو مؤظف دنده ئېز مکلفیت دی، خو ددندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستو په جرم کې بیا داسې نده.

**دوېمه وينا: د دندې يا موقف څخه د ناوړه ګټې اخيستو جرم معنوي عنصر:**

ددندې يا موقف څخه د ناوړه ګټې اخيستو جرم د قصدي جرمونو څخه ګڼل کېږي. په دې جرم کې د عام قصد سربېره د خاص قصد شتون هم اړين دی. د عمل په ترسره کولو باندې اراده او پوهه لرل يې عام قصد او د نامشروع ګټې لاسته راوړل، يې خاص قصد بلل کيږي.

په همدې بنسټ، په هغه صورت کې چې د عامه خدمتونو مؤظف په موضوع پوهه نه وي، دا جرم نه واقع کېږي.

**درېمه وينا: ددندې يا موقف څخه د ناوړه ګټې اخيستو جرم جزا:** **يادوونه: ددې څپرکی په سرېزه کې ددې جرم جزاګانې درېم او بشپړوونکي جزا يې څلورم مبحث ته راجع شوی ده.**

ددې جرم اصلی جزا متوسط حبس يا د شپيته زرو څخه تر درې سوه زرو افغانيو پورې نقدي جزا ده او ددې تر څنګ، د دندې څخه په نفصال او مسلک څخه طرد باندې هم محکومېږي.

**(٥) شمېره فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د جزا کود ۴۰۳مې مادې په دوېمه فقره کې ددندې يا موقف څخه ناوړه ګټې اخيستو جرم ته، سربېره د حبس دجزا څخه چې په (١) فقره کې تصريح شوي، ددندې څخه انفصال او دمسلک څخه طرد جزا هم تصريح کړې ده.

د جزا کود ۴۰۳مې مادې (٢) فقرې متن:

**«(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې جرم مرتکب، له دندې څخه په انفصال او له مسلک څخه په طرد هم مکومېږي. »**

ددې فقرې په رڼا کې لاندې پوښتنو ته ځواب ووايئ؟

لومړۍ پوښتنه: آيا ددندې څخه انفصال او د مسلک څخه طرد اداري تاديب دی او که جزا ؟

دوېمه پوښتنه: که جزا وي، اصلي، تبعي او که تکميلي جزا ده؟

درېمه پوښتنه: آيا ددندې څخه انفصال او د مسلک څخه طرد لنډ مهالی دی او که دایمې؟

د جزا کود ۴۰۳مې مادې (۳) فقره د اساسي قانون ۱۵۱مې مادې يادو شوو مقاماتو ناوړه ګټې اخيستو په اړوند داسې صراحت لري:

«(۳) که چېرې د افغانستان د اساسي قانون په ۱۵۱مه ماده کې درج شوو مقاماتو څخه يو د دندې د تصدۍ په موده کې، له دولت سره انتفاعي معامله ترسره کړي، د ترسره شوې معاملې د بيې معادل په نغدي جزا محکومېږي.»

په دې اړوند د اساسي قانون ۱۵۱ ماده داسې صراحت لري: «**ولسمشر، د ولسمشر مرستيالان، وزيران، د سترې محکمې رئيس او غړي، لوی څارنوال، د مرکز ي بانک او ملي امنيت رئيسان، واليان او ښاروالان د دندې د تصدۍ په موده کې نشي کولای د دولت سره هيڅ ډول انتفاعی معامله ترسره کړي.**»

**(٦) شمېره فعاليت**

د اساسي قانون په ۱۵۱ ماده کې درج مقامات د دندې د تصدۍ په موده کې ولې نشي کولای ددولت سره انتفاعي معامله ترسره کړي؟
آیا د اساسي قانون په ۱۵۱ ماده کې درج مقاماتو لخوا ددولت سره د انتفاعي معاملې ترسره کول جرم دی؟ په هغه صورت کې چې جرم وي نو کوم جرمي وصف منځته راوړي؟
پورته پوښتنو ته د جزا کود ۴۰۳مې مادې او د اساسي قانون ۱۵۱ مادې په رڼا کې ځواب ورکړئ.
د اساسي قانون ۱۵۱ مادې متن داسې صراحت لري: «**ولسمشر، د ولسمشر مرستیالان، وزیران، د سترې محکمې رئیس او غړي، لوی څارنوال، د مرکز بانک او ملي امنیت رئیسان، والیان او ښاروالان د دندې د تصدۍ په موده کې نشي کولای د دولت سره هیڅ ډول انتفاعی معامله ترسره کړي.**»

## دریم مبحث: ددندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستنې جرم بېلګې:

د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم بېلګې یا موارد د جزا کود ۴۰۴مې مادې څخه تر ۴۱۷مې مادې پورې تصریح شوي دي. ددې موضوع د روښانتیا لپاره، په پیل کې د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم بېلګې یا موارد لست کوو، بیا د هرې بېلګې جوړونکي عناصر او بیا د هرې بېلګې جزاګانې تر څېړنې لاندې نیسو.

## لومړی وینا: د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستنې جرم، بېلګې:

د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستنې جرم د مفهوم په پام کې نېولو سره، کوم چې؛ ددې کتاب دوېم څپرکی لومړي مبحث کې ورڅخه یادونه وشوه، کله چې د عامه خدمتونو مؤظف د جزا کود ۴۰۴مې مادې څخه تر ۴۱۷مې مادې پورې درج شوو اعمالو مرتکب شي، نو عمل یې د دندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم بلل کېږي. دا کړنې په لاندې ډول دي:

۱. عامه خدمتون مؤظف واسطه کېدل قاضی ته.
۲. د حکم د صادرېدو څخه دقاضي امتناع یا تعلل.

۳. د اړونده مراجع ؤ د امرونو او احکامو نه رعایتول یا درول.
٤. د عامه خدمتونو د مؤظف ددندې پرېښودل یا استنکاف.
۵. په ادارو کې تبعیض.
٦. د پلټنې (تفتیش) مؤظفینو جرمونه.
۷. د محاسبې مؤظفینو جرمونه.
۸. نا قانونه تلاشي.
۹. ادارې اسنادو یا اسرارو ښکاره کول (افشا).
۱۰. د اداري فسادجرمونو اطلاع ورکوونکو تهدید.
۱۱. په سیاسي حزبونو کې د غړېتوب پېول.
۱۲. رسمي وخت کې د کارکوونکو یا مؤظفینو استخدام، شخصی کار کې.
۱۳. د څارنوال دنده ئېز تخلفات.

د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم پورته یادو شوو دیارلس ګونو بېلګې د متعددو عملونو لرونکي دي. په همدې بنسټ، د پورته یادو شوو اعمالو ترسره کول، ددندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم بلل کېږي. دجزا په کود کې د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم بېلګې ، موږ په بېلابېلو ویناوو کې روښانه کوو.

## دوېمه وینا: ددندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستنې جرم د بېلګو تشریح:

په دې وینا کې به، د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم بېلګې په بېلابېلو مطلبونو کې تر مطالعې لاندې ونېسو:

## لومړی مطلب: د قاضي په وړاندې د عامه خدمتونو مؤظف واسطه کېدل:

قاضی په وړاندې د عامه خدمتونو د مؤظف واسطه کېدل، د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم لومړنۍ بېلګه ده چې د جزا کود په ۴۰۴ ماده کې داسې سراحت لري:« **که چېرې د عامه خدمتونو**

**مؤظف د دعوي له اړخونو څخه يوه ته د ګټې يا زيان رسولو په منظور د امر يا التماس يا هيلې او يا سپارښتنې په صيغه د قاضي په وړاندې واسطه شي، په قصير حبس يا له ديرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې نغدي جزا، محکومېږي. »**

په دې مطلب کې د قاضي په وړاندې د واسطه کېدو جرم جوړونکي عناصر او دهغې جزا تر مطالعې لاندې نيسو.

## لومړی فرعه: دقاضي په وړاندې د عامه خدمتونو مؤظف واسطه کېدو جرم جوړونکي عناصر:

د قاضی په وړاندې د عامه خدمتونو د مؤظف واسطه کېدلو جرم، جوړونکي عناصر په لاندې ډول دي:

### الف: د قاضی په وړاندې د عامه خدمتونو د مؤظف واسطه کېدلو جرم مادي عنصر:

د قاضی په وړاندې د عامه خدمتونو د مؤظف واسطه کېدلو جرم مطلق جرم دی، ځکه د جزا کود ۴۰۴ مې مادې د پايلې رامنځته کېدل يې شرط کړي ندي. دا ماده داسې صراحت لري؛ « **که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف د دعوي له اړخونو څخه يوه ته د ګټې يا زيان رسولو په منظور د امر يا التماس يا هيلې او يا سپارښتنې په صيغه د قاضي په وړاندې واسطه شي، په قصير حبس يا له ديرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې نغدي جزا، محکومېږي. »**
ددې جرم مادي عنصر د جرمي کړنه، د ترسره کوونکي شخصيت او د جرم موضوع جزونو څخه جوړېږي.

### ۱ـ جرمي کړنه (رفتار):

ددې جرم جوړونکی فعل يا کړنه عبارت دی له؛ «**<u>قاضي په وړاندې واسطه کېدلو</u>**» څخه.

قاضي په وړاندې واسطه کېدلو جرم، جرمي کړنه لاندې ډولونه لري؛

الف: امر.

ب: التماس.

ج: هېله.

د: سپارښتنه.

**(۷) شمېره فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

پوښتنه دلته مطرح کېږي چې، آیا یوازې په ۴۰۴مه ماده کې تصریح شوې صیغه، «امر یا التماس یا هېله یا سپارښتنه» جرمي کړنه جوړوي او پراخه (وسیع) تفسیر یې جواز نه لري که څنګه؟ آیا د عامه خدمتونو مؤظف بې له دې چې ددعوي لوربو ته زیان ورسوي د قاضي په وړاندې واسطه کېږي، نو ددې مادې یاد شوی حکم د پلي کېدا وړ دی که څنګه؟

**۲ـ د جرم ترسره کوونکي (مرتکب) شخصیت:**

د جزا کود په ۴۰۴مه ماده کې تصریح شوی وګړی باید د عامه خدمتونو مؤظف وي، په غیر له هغې دا جرمي صفت نه خپلوي.

**۳ـ د جرم موضوع**

ددې جرم موضوع د قضاء په خپلواکۍ باندې تېری کول دي.

**(۸) شمېره فعالیت**

**فرضي قضیه:**

احمد د کابل په ولایت کې د یوې جزایې محکمې تحریراتو مسؤول دی. د دعوې یو لوری چې ناروغه شوی دی د احمد څخه غواړې چې د قضایې هیئت په وړاندې واسطه شي، تر څو ددوی قضایې جلسه (ناسته) ژر ونیسي. احمد (تحریراتو مسؤول) بې له دې چې ځان یا بل وګړي لپاره د ګټې طمعه یا غوښتنه ولري یوازې د نوموړې ناروغ ته د خیر رسولو او خواخوږۍ له مخې،قضایې هیئت په وړاندې، واسطه کېږي.

**ستاسې په اند، احمد د جزا کود ۴۰۴مې مادې پربنسټ دجرم مرتکب شوی دی که څنګه؟**

**او آیا د جزا کود ددې مادې حکم د نقد وړ دی که نه؟**

## ب: د قاضی په وړاندې د عامه خدمتونو د مؤظف واسطه کېدلو جرم معنوي عنصر:

د قاضی په وړاندې د عامه خدمتونو مؤظف واسطه کېدلو جرم د قصدي او مطلق جرمونو څخه ګڼل کېږي، نو معنوي عنصر یې پوهې او ارادې څخه عبارت دی. یعني هغه مؤظف په دې جرم د جزا وړ ګڼل کېږي چې دا جرم یې په باخبره او عمداً ترسره کړی وي. نو ویلی شو چې د قاضی په وړاندې د عامه خدمتونو د مؤظف واسطه کېدلو جرم یو قصدي جرم دی او پایله پکې اړینه نده، بلکې یو بې پایلې (مطلق) جرم دی.

## دوېمه فرعه: د قاضی په وړاندې د عامه خدمتونو د مؤظف واسطه کېدلو جرم جزا:

د قاضی په وړاندې د عامه خدمتونو د مؤظف واسطه کېدلو جرم جزا لنډ حبس (درې مېاشتو څخه تر یو کال پورې) یا نقدي جزا (دیرش زرو څخه تر شپېته زرو افغانیو پورې) دی.
د یادونې وړ ده چې، محکمه د دې دواړو جزاګانو د تعین په وخت کې، باید د جرم او د جرم د ترسره کوونکي اوضاع او احوال داسې په پام کې ونیسي چې د جزا حقوقو (جزاکود) موخه پکې ترلاسه شي.

## دویم مطلب: د حکم د صادرېدو څخه د قاضی امتناع یا تعلل او یا د ناحقه پرېکړې صادرول:

دحکم د صادرېدو څخه د قاضي امتناع یا تعلل او یا د ناحقه پرېکړې صادرول، د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم دوېمه بېلګه ده. د جزا کود ۴۰۵مه ماده په دې اړوند داسې صراحت لري؛« **که چېرې قاضي له قانوني مجوز پرته د حکم له صادرولو څخه ډډه یا تعلل و کړي او یا ثابت شي چې ددې قانون ۴۰۴مه ماده کې له درج شوو سببونو څخه د یوه پر بنسټ یې عمداً ناحقه پرېکړه صادره کړې ده، په متوسط حبس او له مسلک څخه په طرد، محکومېږي.**»

ددې مطلب تر سرلیک لاندې به دجزا کود په ۴۰۵مه ماده کې د ذکر شوي جرم جوړونکي عناصر او جزا، توضیح کړو.

## لومړی فرعه: د قاضي امتناع یا تعلل او یا د ناحقه پرېکړې صادرولو جرم جوړونکي عناصر:

د حکم څخه قاضي امتناع یا تعلل او یا د ناحقه پرېکړې صادرولو جرم جوړونکي عناصر د مادي او معنوي عنصر لرونکی دی.

## الف: د قاضي امتناع یا تعلل او یا د ناحقه پرېکړې صادرولو جرم مادي عنصر:

د حکم څخه قاضي امتناع یا تعلل او یا د ناحقه پرېکړې صادرولو جرم غیر نتیجوي (مطلق) جرم دي، په دې معنا چې یوازې د جرمي فعل (کړنه) په کولو سره دا جرم رامنځته کېږي. خو د ناحقه پرېکړې صادرولو حالت یې پاېلې (ناحق حکم صدور) ته اړتیا لري. په تشریحاتو کې دا حصه نتیجئوي بلل شوی ده.

ددې جرم مادي عنصر د جرمي کړنه، ترسره کوونکي شخصیت، جرمي پایله او د سببیت اړیکي باندې ویشل شوی دی، چې په لاندې ډول یې مطالعه کوو.

**۱ـ جرمي کړنه (رفتار):**

په دې جرم کې درې ډوله کړنه د بحث وړ دی چې هر یو یې ځانته، دا جرم جوړوي. دا کړنهونه عبارت دي له؛

- د حکم د صادرولو څخه ډډه کول (امتناع)؛
- د حکم په صادرولو کې تعلل؛ یا
- د ناحقه پرېکړې صادرول.

ددې کړنهونو څخه هر یو یې په ځانته ډول د جزا کود ۴۰۴مې مادې مندرج جرم منځته راوړي او دا شرط ندی چې جرمي کړنه پایله منځته راوړي. یعني، قاضي د حکم د صادرولو څخه ډډه کول، یا تعلل او یا ناحقه پرېکړې صادرولو کې اړېنه نده چې اثار او پایله رامنځته کړي.

د جزا کود ۴۰۵مه ماده داسې صراحت لري: « **که چېرې قاضي له قانوني مجوز پرته د حکم له صادرولو څخه ډډه یا تعلل و کړي او یا ثابت شي چې ددې قانون ۴۰۴مه ماده کې له درج شوو سببونو څخه د**

**یوه پر بنسټ یې عمداً ناحقه پرېکړه صادره کړې ده، په متوسط حبس او له مسلک څخه په طرد، محکومېږي.»**

خو که چېرې د قاضي لخوا د حکم صادرولو څخه ډېره کول قانوني بنه ولري، د حکم د صادرېدو څخه ډډه کول یې جرم نه بلل کېږي.

د جزایي اجرااتو قانون ١٦مه ماده په دې اړوند داسې صراحت لري؛

« **(١) قاضي په لاندېنیو حالاتو کې د جزایي دعوي په څېړنه کې د ګډون حق نلري:**

**١- په هغه صورت کې چې جرم د هغه یا د هغه له خپلوانو څخه د یو پرخلاف ارتکاب شوی وي.**

**٢- په هغه صورت کې چې تورن د هغه د خپلوانو له جملې څخه وي.**

**٣- په هغه صورت کې چې د مخه په عین قضیه کې له اړخونو څخه د یوه د قضایي ضبط د مامور، څارنوال، حقوقي مشاور، اهل خبره یا شاهد په توګه ګډون کړی وي او یا یې په قضیه کې حکم صادر کړی وي.**

**٤- په نور حالاتو کې چې قانون حکم کړی وي.**

**(٢) که چېرې قاضي ددې مادې په (١) فقره کې له درج شوو حالاتو څخه په یوه کې د قضیې په څېړنه او د حکم په صادرېدو کې ګډون کړی وي، صادر شوی حکم له ابطال سره مخامخ کېږي.** »

**تعلل یا اهمال کول:** (په انګلیسي کې: procrastination) په دوامداره ډول د کارونو ځنډولو ته وایې، یعني د تل لپاره یو کس تل خپل کار بل وخت یا ورځې ته وروسته کوي او ددې پرځای چې هغه ترسره کړي نور واړه او جزئې کارونه ترسره کوي[1].

د تعلل اصطلاح ځنډ کول او بهانه راوړلو معنی هم ورکوي[2].

[1] - ویکی‌پدیا، دانشنامهٔ آزاد. https://fa.wikipedia.org

[2] - معین فرهنګ (تعلل) اصطلاح.

**(۹) شمېره فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**

که چېرې قاضي د قانوني غوښتنې وروسته، په قانوني حکم دصراحت په نشتون استدلال وکړي او په قضيه کې د پرېکړې صارول رد يا ودروي. آيا د قاضي دا کړنه د پرېکړې د صادرېدو څخه ډډه کول (امتناع) ګڼل کېدای شي؟

هيله ده د جزا کود ۴۰۵مې او ۴۰٦مې د شننې او څېړنې په رڼا کې ځواب ووايئ.

**۲- د ترسره کوونکي (مرتکب) شخصيت:**

د جزا کود ۴۰۵مې مادې دحکم پربنسټ ددې جرم د ترسره کوونکي شخصيت بايد برحاله قاضي وي. دا جرمي وصف د قاضيانو څخه غير په بل چا باندې سمون نه خوري.

**۳ـ جرمي پايله او د سببيت اړيکه:**

د ناحقه پرېکړې صادرولو جرم پايله په قصدي ډول د ناحقه پرېکړې صادرول دي، دا پايله (ناحقه پرېکړه) بايد د قاضي د عمل سره د سببيت اړيکه ولري. خو که چېرې قاضي د ناحقه پرېکړې د صادرولو په قصد قضايي ناسته (جلسه) په لاره واچوي او بيا قضايي جلسه ګډه وډه شي او قاضي حکم صادرولی ونشي، نو دا حالت په جرم باندې شروع کې شامليږي. يعني د ناحقه پرېکړې د صادرولو جرم په شروع کې قضيه د تعقيب وړ ده.

## ب: د حکم څخه دقاضي امتناع يا تعلل او يا د ناحقه پرېکړې صادرولو جرم معنوي عنصر:

د حکم څخه قاضي امتناع يا تعلل او يا د ناحقه پرېکړې صادرولو جرم، د عمدي جرمونو څخه شمېرل کېږي، نو ويلی شو چې ددې جرم معنوي عنصر پوهې (علم) او ارادې څخه عبارت دی. يعني قاضي يوازې په هغه وخت کې په دې جرم د جزا وړ بلل کېږي چې دا جرم يې په اګاهانه او عامدانه ډول ترسره کړی وي.

## دوېمه فرعه: د حکم څخه د قاضي امتناع يا تعلل او يا د ناحقه پرېکړې صادرولو جرم جزا:

د حکم څخه د قاضي امتناع يا تعلل او يا د ناحقه پرېکړې صادرولو جرم جزا متوسط حبس ( ١ کال څخه تر ۵ کلونو پورې)  او د قضايې مسلک څخه طرد دی.

**(١٠) شمېره فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**

که چېرې د جزا کود ۴۰۴مه ماده کې درج شوو اسبابو د يوه سبب د په پام کې نيولو څخه غير، قاضي عمداً ناحقه پرېکړه صادره کړي، نو آيا د جزا کود ۴۰۵مې مادې سره سم، په حبس او د مسلک څخه په طرد، محکومېږي او که څنګه؟ هېله ده ځواب مو مستدلل ورکړئ.

## درېم مطلب: د اړونده مراجع ؤ د امرونو او احکامو نه رعايتول يا درول:

د اړونده مراجع ؤ د امرونو او احکامو نه رعايتول يا درول،  ددندې يا موقف څخه د ناوړه ګټې اخيستو درېمه بېلګه ده. د جزا کود ۴۰۷مه ماده داسې صراحت لري: «(١) **که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف له خپل وظيفوي واک څخه په ګټې اخيستو عمداً د قوانينو يا مقررو حکمونه، د محکمې حکم يا قرار او امر يا دحکومت د واکمنو مراجع ؤ صادر شوي اوامر رعايت نکړي يا د هغو مالونو او ماليات‌و تحصيل**

**چې د قانون په حکم ټاکل شوي دي، له قانوني اجازې پرته ودروي، په قصير حبس يا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا، محکومېږي.**

**(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل د دولت د پلانونو د اجراء په وروسته کېدو يا ځنډېدو تمام شي او يا عامه شتمنۍ ته زيان ورسېږي، مرتکب له احوالو سره سم وارد شوي زيان په تناسب په متوسط يا طويل حبس، محکومېږي.»**

په دې مطلب کې د جزا کود ۴۰۷مې مادې په رڼا کې، د اړونده مراجع ؤ د امرونو او احکامو نه رعايتول يا درولو جرم جوړونکي عناصر او د هغې جزا تر څېړنې لاندې نيسو.

## لومړی فرعه: د اړونده مراجع ؤ د امرونو او احکامو نه رعايتولو يا درولو جرم جوړونکي عناصر:

د اړونده مراجع ؤ د امرونو او احکامو نه رعايتولو يا درولو جرم جوړونکي عناصر - مادي او معنوي عناصرو ته شاملېږي.

### الف: د اړونده مراجع ؤ د امرونو او احکامو نه رعايتول يا درولو جرم مادي عنصر:

د اړونده مراجع ؤ د امرونو او احکامو نه رعايتول يا درولو جرم يو مطلق جرم دی. ځکه چې قانون ددې جرم د بشپړېدا لپاره پايلې رامنځته کېدل شرط نه دی ګڼلی. يعني شرط نه دی چې ددې جرم اړونده کړنهونه جلا پايلې ولري. د جزا کود ۴۰۷مې مادې (۱) فقره په دې اړوند داسې صراحت لري: «**(۱) که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف له خپل و ظيفوي واک څخه په ګټې اخيستو عمداً د قوانينو يا مقررو حکمونه، د محکمې حکم يا قرار او امر يا دحکومت د واکمنو مراجع ؤ صادر شوي اوامر رعايت نکړي**

**یا د هغو مالونو او مالیاتو تحصیل چې د قانون په حکم ټاکل شوي دي، له قانوني اجازې پرته ودروي، په قصیر حبس یا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا، محکومېږي. »**

په همدې بنسټ، د اړونده مراجع ؤ د امرونو او احکامو نه رعایتول یا درولو جرم د مطلق جرم ښکارندویې کوي.

ددې جرم مادي عنصر، د جرمي کړنه او د ترسره کوونکي د شخصت جزونو څخه جوړ دی چې په لاندې ډول یې تر څېړنې لاندې نیسو.

**۱ـ جرمي کړنه:**

ددې جرم جوړونکي کړنهونه په لاندې ډول دي؛

- د قوانینو یا مقرراتو نه رعایتول،
- د محکمې د حکم، قرار یا امر نه رعایتول،
- د حکومت واک لرونکو مراجع ؤ د صادر شوو امرونو نه رعایتول، او یا
- د هغه مالونو او مالیاتو ودرول چې د قانون په حکم تعین شوې دي.

- **۲ـ د ترسره کوونکي (مرتکب) شخصیت:**

د جزا کود ۴۰۷مې مادې «**که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف.......**» د حکم پر بنسټ د اړونده مراجع ؤ د امرونو او احکامو نه رعایتول یا درولو جرم ترسره کوونکي (مرتکب) شخصیت باید د عامه خدمتونو مؤظف وي. نو که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف صفت لرونکی وګړي له لورې دا عمل ترسره شي، نو د اړونده مراجع ؤ د امرونو او احکامو نه رعایتولو یا درولو جرم رامنځته کېږي. خو که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف څخه غیر بل څوک یا د عامه خدمتونو مؤظف د منفکې څخه وروسته دا جرم ترسره کړي نو دا عمل ددې جرمي صفت لاندې نه راځي.

**ب: د اړونده مراجع ؤ د امرونو او احکامو نه رعایتول یا درولو جرم معنوي عنصر:**

دا جرم د عمدي جرمونو څخه او د عام قصد لرونکی دی. ځکه د جزا کود ۴۰۷مه مادې کې داسې صراحت لري: «**که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف له خپل و ظیفوي واک څخه په ګټې اخیستو عمداً د قوانینو یا مقررو حکمونه،......**» نو ویلی شو چې ددې جرم معنوي عنصر عبارت د علم او ارادې څخه دی. یعني د عامه خدمتونو مؤظف په قصدي ډول او اراده دا جرم ترسره کړی وي.

**(١١) شمېره فعالیت**

**فرضي قضی:**

که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف د دنده ئېز واکه څخه په ګټنه په ښه (حسن) نیت د قوانینو یا مقرراتو حکمونه رعایت نه کړي. ستاسې په اند د جزا کود ۴۰۷مې مادې پر بنسټ، د عدلي تعقیب وړ بلل کېږي او که څنګه؟

**دوېمه فرعه: د اړونده مراجع ؤ د امرونو او احکامو نه رعایتولو یا درولو جرم جزا:**

د جزا کود ۴۰۷مې مادې سره سم، که چېرې ترسره شوی عمل، ددولت د پلانونو د پلې کېدا ځنډ یا ورسته والي سبب نشي، یا عامه شتمنیو ته د صدمه ونه رسېږي، ترسره کوونکي (مرتکب) د لنډ حبس یا د دیرش زرو څخه تر شپېته زرو افغانیو پورې په نغدي جزا، محکومېږي. خو که چېرې د جزا کود ۴۰۷مې مادې (۱) فقره کې یاد شوی عمل، ددولت پلانونو د پلي کېدا ځنډ یا وروسته والي سبب شي، یا عامه شتمنیو ته صدمه ورسېږي، ترسره کوونکی (مرتکب) د احوالو سره سم په متوسط یا اوږد حبس، محکومېږي.

همدارنګه د جزا کود ۴۰۸مې مادې د حکم پربنسټ، که چېرې د جرم د ترسره کولو له لارې مادي یا معنوي مستقیم یا غیر مستقیمه ګټه ترلاسه شوې وي، د بشپړوونکي (تکمیلی) جزا په ډول، مادي ګټه مصادره او معنوي باطلېږي. قاضی مکلف دی ددې دواړو څخه دیوې جزا د تعین په وخت کې، دجرم او ترسره کوونکي اوضاع او احوال په پام کې ونیسي او بیا حکم صادر کړي.

| |
|---|
| **( ۱۲ )شمېره فعالیت** |
| **فرضي قضیه:** |
| که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف د دنده ئېز واکه څخه په ګټنه په ښه (حسن) نیت د قوانینو یا مقرراتو حکمونو رعایت نه کړي. ستاسې په اند د جزا کود ۴۰۷مې مادې د حکم پر بنسټ د عدلي تعقیب وړ بلل کېږي او که څنګه؟ دافرضیه تکرار ده: |

## خلورم مطلب: د عامه خدمتونو مؤظف له لورې د دندې څخه استنکاف یا د هغې پرېښودل:

د جزا کود ۴۰۸مه ماده د عامه خدمتونو مؤظف له لورې ددندې څخه استنکاف یا د هغې پرېښودلو جرم په اړوند داسې صراحت لري: «(۱) **که چېرې ناقانونه موخې ته د رسېدو په منظور له دریو نفرو څخه زیات د عامه خدمتونو مؤظفین د دندې له اجراء څخه استنکاف یا خپله دنده پرېږدي، له مرتکبینو څخه هر یو له لسو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.**

**(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم د ارتکاب په پایله کې عامه ژوند، روغتیا او امنیت له خطر سره مخامخ شي یا د خلکو په منځ کې اضطراب او فتنه رامنځته شي، له مرتکبینو څخه**

**هر یو له احوالو سره سم په قصیر حبس یا له دیرشو زرو څخه تر شپیتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا یا د ارتکابي جرم په جزا یا هر یو چې زیات وي، محکومېږي.»**

استنکاف عبارت دی له اوښتو، انکارکولو، ردولو او نه ویلو څخه[1].

په دې مطلب کې، ددې جرم جوړونکي عناصرو ته د جزا کود ۴۰۸مې مادې د حکم پر بنسټ، په لاندې ډول نغوته کوو:

## لومړی فرعه: د عامه خدمتونو مؤظف له لورې د دندې څخه استنکاف یا د هغې پرېښودلو جرم جوړونکي عناصر:

د عامه خدمتونو مؤظف له لورې د دندې څخه استنکاف یا د هغې پرېښودلو جرم جوړونکي عناصر عبارت دي له؛ مادي او معنوي عنصر څخه.

### الف: د عامه خدمتونو مؤظف له لورې د دندې څخه استنکاف یا د هغې پرېښودلو جرم مادي عنصر:

دا جرم هم د مطلقو جرمونو یو ډول دی، نو ځکه؛ مادي عنصر یې د جرمي کړنه او ترسره کوونکي شخصیت، په برخو ویشل کېږي.

#### ۱ـ جرمي کړنه:

د دندې څخه استنکاف یا د دندې پرېښودل ددې جرم جرمي کړنه دی. البته قانون د دندې څخه استنکاف یا پرېښودو لپاه کوم ځانګړي چلند څخه یادونه نه ده کړې. نو، ددندې څخه استنکاف یا

---

[1] - ویکی‌پدیا، د آزاد دانشنامه. https://fa.wikipedia.org دهخدا لغتنامه د (استنکاف) اصطلاح.

پرېښودل چې په هر ډول وي، که څه هم - په شفاهي يا لیکلي ډول يا حتی د اشارې له لارې وي؛ لکه وګړی اشاره وکړي چې دا کار نه کوم؛ نو دا جرم منځته راوړي. دا جرم د مطلقو جرمونو له ډلې څخه دی.

يادونه: د جزا کود ۴۰۸مې مادې په (۲) فقره کې ذکر شوی حالت په دې معنی ندی چې ګوندې د عامه خدمتونو مؤظف له لورې د دندې څخه استنکاف يا د هغې پرېښودلو جرم مطلق نه، بلکې نتيجې ته مقيد جرم دی. نه، دا جرم مطلق جرم دی او په محض (ددندې څخه استنکاف يا پرېښودلو باندې) جرم تکميل ګڼل کېږي. خو د جزا کود ۴۰۸مې مادې دوېمه فقره کې تصريح شوی حالت، ددې جرم مشدده حالت ګڼل کېږي.

**۲ـ د ترسره کوونکي (مرتکب) شخصيت:**

دا جرم د عامه خدمتونو د مؤظفينو لخوا چې کم ترکمه يې تعداد د څلور کسانو څخه کم نه وي ترسره کېدای شي. په دې اړوند د جزا کود ۴۰۸مې مادې (۱) فقره کې داسې يادوونه شوی ده؛ «**(۱) که چېرې ناقانونه موخې ته د رسېدو په منظور له دريو نفرو څخه زيات د عامه خدمتونو مؤظفين د دندې له اجراء څخه استنکاف يا خپله دنده پرېږدي،...........**» په همدې بنسټ، که چېرې د عامه خدمتونو مؤظفينو څخه غير کسان دا جرم ترسره کړي، يا دا چې، د عامه خدمتونو مؤظفينو لخوا دا جرم ترسره شي خو تعداد يې د څلورو کسانو څخه کم وي، نو بيا هم، ددې جرم صفت نه اخلي.

## ب: د عامه خدمتونو مؤظف له لورې د دندې څخه استنکاف يا د هغې پرېښودلو جرم معنوي عنصر:

دا جرم يو د عمدي جرمونو څخه دی، چې د عام قصد سربېره خاص قصد شتون هم، پکې حتمي دی. د جزا کود ۴۰۸مې مادې (۱) فقره ورته داسې نغوته کوي؛ «**که چېرې د ناقانونه موخې ته د رسېدو په**

**منظور له.....»** په همدې بنسټ، د عامه خدمتونو مؤظف له لورې د دندې څخه استنکاف یا د هغې پرېښودلو جرم هغه وخت منځته راځي چې، د پوهې او ارادې سربېره - ناقانونه موخې ته د رسېدو لپاره ترسره شوی وي.

**دوېمه فرعه : د عامه خدمتونو مؤظف له لورې د دندې څخه استنکاف یا د هغې پرېښودلو جرم جزا:**

ددې جرم اصلي جزا دوه حالتونه لری؛

**یو:** عادي حالت: چې د لسو زرو څخه تر دیرش زرو افغانیو پورې نغدي جزا، هر یو د ترسره کوونکو لپاره وړاندوېنه شوې ده،

**دوه:** مشدده حالت: کله چې د جزا کود د ۴۰۸مې مادې په (۱) فقره کې درج شوي جرم د ترسره کولو په پایله کې؛ عامه ژوند، روغتیا او امنیت له خطر سره مخامخ شي یا د خلکو په منځ کې اضطرارب او فتنه رامنځته شي، نو هر یو د ترسره کوونکو څخه په لنډ حبس یا ددیرش زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې نغدي جزا، یا د ترسره شوې جرم په جزا یا هر یوه جزا چې ډېره وي، محکومېږي.

**پنځم مطلب- په ادارو کې د تبعیض جرم:**

په ادارو کې تبعیض د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم پنځمه بېلګه ده چې د جزا کود ۴۰۹مه ماده داسې صراحت لري: «**(۱) که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف یا د بهرني دولت یا بین المللي یا بین الحکومتي سازمان یا نادولتي مؤسسې مؤظف د شخصي، قومي، سیمه ییزو، ژبنیزو، مذهبي، جنسیتي، سیاسی، عقیدتي ملاحظاتو پربنسټ یا له ځانګړې ډلې یا فرقې څخه د ملاتړ پربنسټ،**

**د دندو په ترسره کولو یا د خدمتونو په وړاندې کولو یا نورو حالتونو کې له تبعیض څخه کار واخلي، مرتکب په قصیر حبس یا له دیرشو زرو څخه تر شپیتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا، محکومېږي.**

**(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل د دولتي عالي رتبه مقاماتو یا د نورو مراجعو د عالي رتبه مقاماتو په واسطه ارتکاب شي، مرتکب د متوسط حبس په اکثر حد یا د درې سوه زرو افغانیو په نغدي جزا محکومېږي.»**

د (عامه خدمتونو مؤظف، بهرني دولت مؤظف، بین المللی سازمان مؤظف، بین الحکومتي سازمان مؤظف او نادولتي مؤسسې مؤظف) اصطلاحګانو مفهوم ددې کتاب اول څپرکي، اول مبحث په لومړی وینا کې روښانه شوی دی، د تکرار څخه يې ډډه کوو.

په دې مطلب کې، د جزا کود ۴۰۹ ماده کې (په اداراو کې تبعیض) جرم جوړونکي عناصرو او دهغې په جزا باندې بحث کوو.

## لومړی فرعه: په ادارو کې د تبعیض جرم جوړونکي عناصر:

په ادارو کې د تبعیض جرم جوړنکي عناصر، مادي او معنوي عنصر څخه عبارت دي.

### الف: په ادارو کې د تبعیض جرم مادي عنصر:

دا جرم ناپایلیزه یا مطلق جرم دی، نو مادي عنصر يې **د جرمي کړنې** او **د ترسره کوونکي** شخصیت څخه عبارت دي.

**۱ـ جرمي کړنه:** ددې جرم جرمي کړنه عبارت ده؛ له **تبعیض** څخه.

**۲ـ د ترسره کوونکي شخصیت:** ددې جرم ترسره کوونکی کیدای شي د عامه خدمتونو مؤظف یا بهرني دولت مؤظف، یا نړیوال سازمان یا بین الحکومتي سازمان غړی او یا نادولتي مؤسسې غړی، وي. ځکه

د جزا کود ۴۰۹مه ماده داسې صراحت لري: «**(۱) که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف یا د بهرني دولت یا بین المللي یا بین الحکومتي سازمان یا نادولتي مؤسسې مؤظف د شخصي، قومي، سیمه ییزو، ژبنیزو، مذهبي، جنسیتي، سیاسی، عقیدتي ملاحظاتو پربنسټ یا له ځانګړې ډلې یا فرقې څخه د ملاتړ پربنسټ، د دندو په ترسره کولو یا د خدمتونو.....**» په همدې بنسټ، که د جزا کود ۴۰۹مې مادې (۱) فقرې مندرج وګړو غیر د بل وګړي له لورې د تبعیض جرم ترسره شي نو ددې مادې یادشوي جرمي صفت نه خپلوي. کیدای شي د بل کوم جرم صفت واخلي.

که چېرې دا جرم په ۴۰۹مه ماده کې یادو شوو دولتي لوړ رتبه مقاماتو یا د نورو مراجع ؤ لوړ پوړو مقاماتو لخوا ترسره شي، دا حالت ددې جرم مشدده حالت ګڼل کېږي.

## ب: په ادارو کې د تبعیض جرم معنوي عنصر:

دا جرم د عمدي جرمونو د جملې څخه شمېرل کېږي. په دې جرم کې د عام قصد سربېره، خاص قصد شتون هم اړین دی. عام قصد د پوهې او ارادې څخه عبارت دی او خاص قصد لکه څرنګه چې د جزا کود ۴۰۹مې مادې په (۱) فقره کې ورته نغوته شوې ده: «....... **د شخصي، قومي، سیمه ییزو، ژبنیزو، مذهبي، جنسیتي، سیاسی، عقیدتي ملاحظاتو پربنسټ یا له ځانګړې ډلې یا فرقې څخه د ملاتړ پربنسټ،......**» بناءً د عام قصد تر څنګ پورتني ملاحظات یې خاص قصد جوړوي، چې د ترسره کوونکي سره یې شتون اړین دی.

**( ۱۳ ) شمېره فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د جزا کود ۴۰۹مې مادې (۱) فقرې د تبعیض په مواردو کې د سېمه یېزو، مذهبي او جنسیتي تبعیض څخه هم یادونه کړېده. ستاسې په اند دا موارد، د جنسیتي برابرۍ او یا د یوې ځانګړې ډلې یا فرقې د عادلانه حضور په موخه مثبت تبعیض ته شاملېږي که څنګه؟

## دوېمه فرعه: په ادارو کې د تبعیض جرم جزا:

ددې جرم جزا دوه حالتونه لري:

**یو:** کله چې ددې جرم ترسره کوونکی عادي مؤظف وي، جزا یې لنډ حبس یا د دیرش زرو څخه تر شپېته زره افغانیو پورې نغدي جزا، وړاندوینه شوې ده.

**دوېم:** کله چې ددې جرم ترسره کوونکي دولتي لوړ رتبه مقام وي یا د نورو اړونده مراجع ؤ لوړ پوړې مقامات وي نو بیا یې جزا د متوسط حبس اکثره اندازه یا تر درې سوه زره افغانیو پورې نغدي جزا، وړاندوېنه شوې ده.

**(١٤) شمېره فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

ګډونوال دې د لاندې دوه پوښتنو په اړوند د بحث کولو له لارې سم ځواب بیامومي؛

اول: دولتي لوړ رتبه وګړي کومو وګړو ته وایې، د قانون پر متن ځواب ورکړئ؟

دوېم: د قانون جوړونکي موخه د نورو مراجع ؤ څخه څه شی ده؟ او آیا نادولتي لوړ پوړې چارواکې (مقامات) په قانون کې تعریف شوې دي؟

## شپږم مطلب: د پلټنې مؤظفینو اړونده جرمونه:

د پلټنې مؤظفینو اړونده جرمونه د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم شپږمه بېلګه ده. په دې اړوند د جزا کود ۴۱۰مه ماده داسې صراحت لري؛

**«(۱) که چېرې پلټونکی یا بازرس له لاندې عملونو څخه د یوه مرتکب شي، په متوسط حبس محکومېږي:**

**۱- د تقنیني سندنو د حکمونو د مغایرو اجرااتو پټول.**

**۲- په رپوټ کې د شکمنو او ورکو شوو پانو او سندونو نه یادول.**

**۳- د ناوړه ګټې اخیستنې په منظور د پاڼو او سندونو پټول یا اتلاف.**

**٤- د واقعیت خلاف رپوټ وړاندې کول.**

**(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم مرتکب، له دندې څخه په انفصال او له مسلک څخه په طرد هم مکومېږي.»**

په دې مطلب کې د جزا کود ۴۱۰مې مادې درج شوی (د پلټنې مؤظفینو اړونده جرمونو) جوړونکي عناصر او جزا تر بحث لاندې نیسو.

### لومړی فرعه: د پلټنې مؤظفینو اړونده جرمونو جوړونکي عناصر:

د پلټنې مؤظفینو اړونده جرمونو جوړونکي عناصر عبارت دي له؛ مادي او معنوي عناصرو څخه، چې په لاندې ډول یې توضیح کوو.

## الف: د پلټنې مؤظفینو اړونده جرم مادي عنصر:

د جزا کود ۴۱۰مې مادې ته په پام سره ویلی شو چې دا جرم بې پایلې او یا مطلق جرم دی. په همدې بنسټ، ددې جرم مادي عنصر عبارت دی له؛ جرمي کړنې، دجرم موضوع او د ترسره کوونکی شخصیت څخه، چې لاندې یې توضیح کوو.

**۱ـ جرمي کړنه:**

جرمي کړنه په لاندې مواردو کې رانغښتی دی؛

- د تقنیني سندونو د حکمونو د مغایرو اجراآتو پټول.
- په رپوټ کې د شکمنو او ورکو شوو پاڼو او سندونو نه یادول.
- د ناوړه ګټې اخیستنې په منظور د پاڼو او سندونو پټول یا اتلاف.
- د واقعیت خلاف رپوټ وړاندې کول.

**۲ـ د ترسره کوونکي (مرتکب) شخصیت:**

د جزا کود ۴۱۰مې مادې (۱) فقرې ته په پام سره، ددې جرم ترسره کوونکی باید پلټونکی یا بازرس وي. په همدې بنسټ، که چېرې ددې مادې اړونده کړنې او یا کړنه په غیر ددغه پورته وګړو لخوا ترسره شي، دا عمل به د ۴۱۰مې مادې مندرج جرمي صفت خپل نه کړي، خو کیدای شي د بل کوم جرم صفت ورته ورکړل شي.

**۳ـ د جرم موضوع:**

د جرم موضوع هغه څه دي چې جرم پرې تر سره کېږي. د جزا کود **۴۱۰**مې مادې (۱) فقرې ۱ نه تر ۴ جز ته په کتو، ددې جرم موضوع سندونه او پاڼې، دي.

**ب: د پلټنې مؤظفینو اړونده جرمونو معنوي عنصر:**

دا جرم د عمدي جرمونو له ډلې څخه دی، یوازې عام قصد (علم او اراده) پکې بسنه کوي. څکه قانون داسې صراحت لري. «**که چېرې پلټونکی یا بازرس له لاندې عملونو څخه د یوه مرتکب شي،....**» یعني په لومړۍ فقره کې درج کړنو د یو ترسره کولو باندې دا جرم منځته راځي او د ځانګړې موخې لپاره د جرم ترسره کول قانون جوړونکي شرط کړي نه دي.

**دوېمه فرعه: د پلټنې مؤظفینو اړونده جرمونو جزا:**

ددې جرم جزا دوه حالتونه لري:

**یو:** متوسط حبس.

**دوېم:** د دندې څخه انفصال او د مسلک څخه طرد.

**اووم مطلب: د پلټنې یا محاسبې جرمونه:**

د پلټنې یا محاسبې جرمونه، د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستنې جرم اوومه بېلګه ده، چې د جزا کود په ۴۱۱مه مادې کې داسې صراحت لرې:

**«(١) که چېرې هغه د بازرسۍ یا محاسبې شرکت یا بازرس یا محاسب چې د حسابونو د بررسۍ لپاره مؤظف شوي دي، د مالیې له ورکړې څخه د مالیه ورکوونکي د تېښتې په قصد، د بازرسۍ یا محاسبې رپوټ په قوانینو کې له درج شوو حکمونو سره په مغایرت کې برابر کړي یا دروغ یا ناسم رپوټ وړاندې کړي، په متوسط حبس محکومېږي.**

**(٢) که چېرې ددې مادې په (١) فقره کې درج شوی جرم، دولت ته له پنځو سوو زرو افغانیو څخه زیات په مالي زیان تمام شوی وي، د مرتکب د فعالیت د جواز په دایمي سلب محکومېږي. په هغه صورت کې چې دولت ته مالي زیان له پنځو سوو زرو افغانیو لږ وي، د بازرسۍ یا محاسبې د شرکت جواز یا د بازرس یا محاسب دنده له احوالو سره سم له یوه تر پنځو کلونو پورې تعلیق کېږي.»**

د بازرس د اصطلاح موخه عبارت ده له پلټونکې څخه، هغه څوک چې د وزارتخانو یا ادارو له لورې د کارکوونکو د سمو او ناسمو کړنو څخه رئیس یا وزیر ته معلومات ورکوي، «پلټونکی» نومېږي[1].

ددې مطلب لاندې، په ۴۱۱مه مادې کې یاد شوې جرم (د پلټنې یا محاسبې جرمونه) او د هغې جزا تر څېړنې لاندې نیسو.

**لومړی فرعه:** د پلټنې یا محاسبې جرمونو جوړونکي عناصر عبارت دي له؛ مادي او معنوي عنصر څخه، چې په لاندې ډول یې تشرح کوو.

## الف: د پلټنې یا محاسبې جرمونو مادي عنصر:

[1] - ویکی‌پدیا، د آزاد دانشنامه. https://fa.wikipedia.org دهخدا لغت نامه، د (بازرس) اصطلاح.

د جزا کود ۴۱۱مې مادې ته په پام سره، دا جرم بې پایلې یا مطلق جرم دی. مادی عنصر کې یې، جرمي کړنه، د ترسره کوونکي شخصیت او د جرم موضوع د بحث وړ دي.

**۱ـ جرمي کړنه:**

د پلټنې یا محاسبې جرمونو جرمي کړنه لاندېنو مواردو ته شاملېږي:

- د قوانینو د احکامو سره په مغایرت کې د پلټنې یا محاسبې راپور وړاندې کول.

- ناسم راپور وړاندې کول.

**۲ـ د ترسره کوونکي شخصیت:**

د جزا کود ۴۱۱مې مادې (۱) فقرې ته په کتو سره، د پلټنې یا محاسبې جرمونو ترسره کوونکي به کیدای شي، حکمي او یا حقیقي شخصیت وي. که چېرې د جرم ترسره کوونکي، حکمي شخصیت وي، نو باید، د پلټنې یا محاسبې شرکت وي چې د حسابونو د پلټنې لپاره ګمارل شوی دی. خو که چېرې د جرم ترسره کوونکی حقیقي شخصیت وي، نو باید پلټونکی یا محاسب واوسې چې د حسابونو د پلټنې لپاره، ګمارل شوی دی. نو که چېرې دجرم ترسره کوونکی د یادو شوو ځانګړنو څخه برخمن نه وي، عمل یا کړنه یې د جزا کود په ۴۱۱مه ماده کې ذکر شوي جرم صفت نه خپلوي. کیدای شي کوم بل جرم د صفت لاندې راشي.

**( ۱۵ )شمېره فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د جزا کود ۴۱۱مې مادې (١) فقره کې؛ «(١) که چېرې هغه د بازرسۍ یا محاسبې شرکت یا بازرس یا محاسب چې د حسابونو د بررسۍ لپاره مؤظف شوي دي، د مالیې له ورکړې څخه د مالیه ورکوونکي د تېښتې په قصد، د بازرسۍ یا محاسبې رپوټ په قوانینو کې له درج شوو حکمونو سره په مغایرت کې برابر کړي یا دروغ یا ناسم رپوټ وړاندې کړي، په متوسط حبس محکومېږي..»

پوښتنه داده چې د پورته مادې په لومړۍ فقره کې چې متوسط حبس وړاندوېنه شوې ده، د پلټنې شرکت یا محاسبې شرکت چې حکمي اشخاص دي، په څه ډول ورباندې د پلي کېدو وړ وي؟

**۳ـ دجرم موضوع:**

د جرم موضوع څخه موخه هغه شی دی، چې جرم پرې واقع کېږي. د جزا کود ۴۱۱مې مادې (١) فقرې پر بنسټ د محاسبې یا پلټنې جرم موضوع، « راپور» دی.

## ب: د پلټنې یا محاسبې جرم معنوي عنصر:

پلټنې یا محاسبې جرمونه د عمدي جرمونو د ډلې څخه شمېرل کېږي، چې د ترسره کوونکي سره يې د عام او خاص – دواړو قصدونو شتون اړین دی؛ عام قصد د پوهې او خبرتیا څخه عبارت ده، خو خاص قصد په دې جرم کې، د مرتکب سره د مالیه ورکوونکي – مالیې څخه د تېښتې قصد شتون څخه عبارت دی. ځکه قانون د جزا کود په ۴۱۱ ماده کې؛ « د مالیه ورکوونکي د مالیې څخه د تېښتې په قصد...» یادونه شوې ده. نو که چېرې د جرم ترسره کوونکي سره خاص قصد شتون ونلري، نو د جزا کود ۴۱۱ مادې جرم نه واقع کېږي. یعني؛ که چېرې د قانون خلاف راپور یا دوغجن راپور يې د مالیه ورکوونکي د مالیې څخه د تېښتې نه غیر په بل قصد ورکړی وي، پلټنې یا محاسبې جرمونو صفت نه اخلي. کیدای شي بل صفت واخلي.

**دوېمه فرعه: د پلټنې یا محاسبې جرمونو جزا:**

ددې جرم جزا درې حالتونه لري:

**یو:** متوسط حبس.

**دو:** د فعالیت جواز دائمي سلبېدل (دحکمي شخصیت انحلال)

**درېم:** د پلټنې یا محاسبې شرکت جواز یا د پلټونکي یا محاسب، جواز ځوړندول (تعلیق) د احوالو سره سم د یو کال نه تر پنځو کلونو پورې.

د جزا کود ۴۱۱مې مادې (۲) فقرې پر بنسټ د حکمي شخصیت انحلال قاضي ته وړاندوېنه شوې ده. (۲) فقره داسې صراحت لري؛ «**که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم، دولت ته له پنځو سوو زرو افغانیو څخه زیات په مالي زیان تمام شوی وي، د مرتکب د فعالیت د جواز په دایمي سلب محکومېږي. .......**» په دې فقره کې د جواز دایمي سلب څخه موخه د شرکت دایمي انحلال دی. په همدې بنسټ؛ د حکمي شخصیت انحلال قاضي ته یو حتمي امر دی نه یو اختیاري امر چې قاضي په دوو کې یو وټاکې.

د پلټنې او محاسبې جرم، که د حقیقي شخص یا حکمي شخص له لورې ترسره شوی وي او د جرم له لارې دولت د پنځه سوه زره افغانیو کم زیان رسېدلی وي، نو ترسره کوونکي ته یې ( **د حکمي شخص د فعالیت جواز یا د پلټونکي یا محاسب دنده)** د احوالو سره د یو کال څخه تر پنځو کلونو پورې ځنډول کېږي. د جزا کود ۴۱۱مې مادې دویمې فقرې دویمه نیمایې داسې صراحت لري. «**په هغه صورت کې چې دولت ته مالي زیان له پنځو سوو زرو افغانیو لږ وي، د بازرسۍ یا محاسبې د شرکت جواز یا د**

**بارزس یا محاسب دنده له احوالو سره سم له یوه تر پنځو کلونو پورې تعلیق کیږي.**» همدارنګه د جزا کود ۴۱۸ مې مادې حکم پر بنسټ د مصادرې احکام هم د پلي کېدا وړ دي.

| **( ١٦ ) شمېره فعالیت** |
|---|
| **مباحثوي پوښتنه:** |
| د جزا کود ۴۱۱مې مادې (۲) فقره کې د حقیقي او حکمې شخص په اړوند، وړاندویل شوې جزا اصلي ده، که غیر اصلي؟ |

## اتم مطلب: ناقانونه تلاشي:

نا قانونه تلاشي، ددندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم اتمه بېلګه ده. په دې اړوند د جزا کود ۴۱۲مه ماده داسې صراحت لري. «که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف، شخص یا د هغه اړوند لوازم په ناقانونه ډول تلاشي کړي، له پنځو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.»

په دې مطلب کې، د ناقانونه تلاشۍ جوړونکي عناصر او د هغې جزا تر څېړنې لاندې نیسو.

### لومړی فرعه: د ناقانونه تلاشۍ جوړونکي عناصر:

د ناقانونه تلاشۍ جوړونکي عناصر عبارت دي له مادی او معنوی، عنصر څخه.

### الف: د ناقانونه تلاشۍ مادي عنصر:

د ناقانونه تلاشۍ جرم د بې پايلې (مطلق) او قصدي جرمونو څخه شمېرل کېږي. مادي عنصر يې د جرمي کړنې (رفتار)، د ترسره کوونکي شخصيت او د جرم موضوع څخه، جوړېږي.

**۱ـ جرمي کړنه (رفتار):** په دې جرم کې جرمي کړنه د تلاشۍ عمل څخه عبارت دی.

**۲ـ د ترسره کوونکي شخصيت:** د جزا کود ۴۱۲مې مادې د حکم پربنسټ، د ناقانونه تلاشۍ جرم ترسره کوونکي شخصيت، بايد د عامه خدمتونو مؤظف وي.

**۳ـ د جرم موضوع:** ددې جرم موضوع، شخص يا د هغه اړونده لوازم دي.

## ب: د ناقانون تلاشۍ جرم معنوي عنصر:

دا جرم د قصدی جرمونه له ډلې څخه دی، يوازې عام قصد (علم او خبرتيا) د جرم ترسره کولو لپاره بسنه کوي.

## دوېمه فرعه: د ناقانونه تلاشۍ جزا:

د جزا کود ۴۱۲مې مادې د حکم پربنسټ، د ناقانونه تلاشۍ جزا د پنځو زرو څخه تر دېرشو زرو فغانيو پورې نغدي جزا، وړاندوېنه شوېده.

## نهم مطلب: د اسرارو يا اسنادو افشاء جرم:

د اسرارو يا اسنادو افشاء جرم د دندې يا موقف څخه د ناوړه ګټې اخيستو جرم نهمه بېلګه ده. د جزا کود ۴۱۳مه ماده په دې اړوند داسې صراحت لري:

**«(۱) که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف هغه اسرار، سندونه، تصميمونه يا اوامر يا نور محر م اطلاعات چې د دندې له مخې هغه ته سپار ل شوي يا يې په هغو خبرتيا ترلاسه کړې ده، په ناقانونه ډول افشاء يا**

**عامه خبرتیا ته ورسوي او یا نوموړو سندونو او معلوماتو ته د ثالث شخص د لاسرسي زمینه برابره کړي، په قصیر حبس، محکومیږي.**

**(۲) که چیرې شخص د دندې د تصدۍ له پای ته رسېدو وروسته ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل ترسره کړي، په پیشبیني شوو عین مجازاتو محکومیږي.**

**(۳) که چیرې د بهرني دولت یا د بین المللي یا بین الحکومتي سازمان یا نادولتي مؤسسې یا خصوصي څانګې د هغه مؤظف د غفلت یا اهمال له امله چې د سندونو او معلوماتو په ساتنه مکلف وي، سندونه یا معلومات افشاء شي، مرتکب په قصیر حبس محکومیږي.»**

بې له شکه چې ټولنېز ژوند اسرار لري چې د عرف په حکم باید، نورو ته د فاش کېدو مخه یې وتړل شي. ځکه د اسرارو رسوا کول د نورو کسانو خصوصي حریم ته ننوتل او د حقوقو د حرمت ماتول ګڼل کیږي، چې په دې سره یو کس چې نه غواړي دده په اړوند نور وګړي معلومات ولري، معلومات ترلاسه کوي او له دې لارې کس په ټولنېز ډول ځان په زیان کېویني او د درد احساس کوي. یا په ځېنو مواردو کې وګړی د دنده ئېز ماهیت له مخې چې کوم مصروفیت یا پیشه لري، کله چې ددندې اړونده اسراسرو په افشا کولو لاس پورې کوي، نو کیدای شي ټولنېز مصلحت زیان وویني. ځکه؛ " د دندې یا شغل اړونده سِر هر یو یې عمومي او خصوصي مصلحت رانغاړي او د سِر په ساتنه باندې ټېنګار د هغه مواردو څخه دی چې د وګړنېز مصلحت څخه ډېر، ټولنې مصلحت یې غوښتنونکی دی "[1]. ځکه؛ خلک په خپلو مراجعه کولو سره هغه ډله وګړو ته چې دنده ئېزه غوښتنه یې د نور د اسرارو څخه خبرېدل دي، بې باوره او دوه زړې کیږي او د امکان تر حده هغوی ته د مراجعې څخه ډډه کوي. په پایله

[1]- سرور، أحمد فتحی، الوسیط فی قانون العقوبات -القسم الخاص، ٤٥٦ ، مخ. أحمد کامل سلامة ته منسوب، الحمایة الجنائیة لأسرار المهنة، ۱۰۹ مخ.

کې دوی ته نه مراجعه، که څه هم ډیر کم خلک وي د بېلګې په ډول طبیبان یا وکیلان او داسې نور، نو د ټولنې او عمومي نظم سلامتیا همدارنګه د عدالت پلې کېدا د خطر سره مخامخ کیدای شي[۱].

په همدې خاطر، قانون جوړونکي د ځینې هغه رازونو ساتنه، د قانون له مخې د وګړي مکلفیت ګرځولی دی او دایې پرې لازم ګڼلی دي. ځکه په کومه دنده، پېښه او حرفه کې مشغول دی، دا دهغې دندې د رازونو امین دی[۲]. همدارنګه د کار او پېښې د ساحې څخه بیرون، وګړي د کورنۍ (فامیلي) اسرارو په ساتنه مکلف[۳] شوې دي او د دې ډول اسرارو د پردې داړل، د اسرارو د افشاء جرم د ترسره کولو په معنی او د جزا وړ ګڼل شوی دي. ځکه د اسرارو افشا کول د اخلاقی اوعقلي پلوه هم ناسم کار دی او کولای شي د انسان حثیت او آبرو ته زیان ورسوي. یا د اسرارو افشا کولو له امله د مهمو دندو او شغلونو په اړوند د خلکو د اعتماد کچه راټیټه کړي. لکه؛ طبابت، قضاوت او هر بل ماموریت.

په همدې بنسټ، قانون جوړونکي د ټولنېز او وګړنېز مصلحت د ملاتړ، نورو ته د زیان واردولو څخه د مخنېوي او د اسرارو د افشا څخه رامنځته شوو ورستنېو زیانونو د مخنېوي په موخه، د اسرارو افشاء د جزا کود ۲۳۸مې مادې ۱۱ جز[٤]، ۴۱۳مه ماده او ٦۲۷مه، ٦۲۸مه او ٦۲۹ مه ماده کې، جرم په صفت ګڼلی دی.

---

[۱] - ولیدی، محمد صالح، د اسلام له نظره جزایې عدالت سمینار، د دانشګاه آزاد اسلامي تهران واحد فصلنامه، مرکزی، ۱۳۷۷

[۲] - د جزا کود ٦۲۷ ماده دې وکتل شي.

[۳] - د جزا کود ٦۲۸ ماده دې وکتل شي.

[٤] - د جزا کود ۲۳۸مې مادې ۱۱ جز کې درج جرم د ملي خیانت د جرمونو بېلګه ده. دجزا کود ۲۳۸مې مادې ۱۱ جزء په دې اړوند داسې صراحت لري: « بهرنیو اشخاصو یا دولت یا هغه شخص ته چې د هغوی په ګټه کار کوي یا د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت مخالفو وسله والو ډلو ته د هېواد د نظامي، دفاعي یا امنیتي اسرارو افشاء کول. ». د ډېرو معلوماتو لپاره، د کورني او بهرني امنیت پروړاندې جرمونو کتاب ته مراجعه وکړئ. ٦۰، مخ. .

د اسرارو افشا کولو جرم کیدای شي د ارتکابي مواردو په تناسب عمومي بڼه ولري، لکه؛ د جزا کود (۲۳۸مې مادې ۱۱جزء او ۴۱۳مه ماده) یا خصوصي بڼه ولري او د خصوصي شکایت کوونکي شکایت پورې تړلی وي، لکه د جزا کود، دویم کتاب، اووم باب څوارلسم څپرکی ( ٦۲۷مې تر ٦۲۹مې مادې او ۴۳۱مه ماده)

په جزا کود کې درج د اسرارو افشاء یو ډول جرم، د اداري اسرارو یا اسنادو افشاء دی په دې درسې جزوه کې تر څېړنې لاندې نېول کېږي. البته دا جرم هم د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرمونو یوه بېلګه ده، او کېدای شي ددې جرم په ترسره کولو سره ادارې (حقوقي شخصیت) زیان ویني.

په دې مطلب کې، د اسرارو افشاء تعریف، د جزا کود ۴۱۳مې مادې مندرج د اسرارو افشاء جرم جوړونکي عناصر او دهغې جزا توضیح کوو.

## لومړی فرعه: د اسرار و افشاء جرم تعریف:

«افشا»: افشا د دهخدا په لغت نامه کې د ښرګند، راښرګند، ډاګېز، فاش او ابراز په معنی یاد شوی، دی[1].

«اسرار»: اسرار د دهخدا په لغت نامه کې د رازونو او پټو په معنی یاد شوی دی[2].

د جزا کود جوړونکو د اسرارو افشا تعریف ندی کړی، خو د لغوي؛ سِر پټ او د ښکاره پروړاندې، معنا ته په کتو او هغو بېلګو په پام کې نېولو سره چې د جزا په کود کې په ګوته شوې دي، کولای شو د اسرارو افشاء د تعریف په اړوند داسې ووایو، چې؛ د قول (وینا) یا فعل (کړنې) پر مټ د دندې او حرفې، یا کورنۍ اسرارو یا مخابراتي غږېدو پورې اړونده اسرارو د ښکاره کولو څخه عبارت دی.

[1] - دهخدا لغت نامه، (افشاء) اصطلاح.

[2] - دهخدا لغت نامه، (باسرار) اصطلاح.

یا په بل عبارت؛ د اسرارو افشا عبارت دی له؛ په قانون کې د تصریح شوو حالتونو څخه غیر دعلني یا ناعلني وسایلو پرمټ د دندې، شغل، حرفې یا غیر حرفې د اسرارو څخه د یو سِر ښکاره کولو ته وایې.

## دویمه فرعه: د اسرارو یا اسنادو د افشاء جرم جوړونکي عناصر:

د ادارې اسرارو یا اسنادو افشا جرم جوړونکي عناصر عبارت دي له؛ مادي او معنوی عنصر څخه.

### الف: د اسرارو یا اسنادو د افشاء جرم مادي عنصر:

د اسرارو یا اسنادو د افشاء جرم مادي عنصر د جرمي کړنې (رفتار)، د ترسره کوونکي شخصیت او د جرم موضوع څخه عبارت دي، چې په لاندې ډو ل یې تر مطالعې لاندې نیسو.

#### ۱ـ جرمي کړنه:

د جزا کود ۴۱۳مې مادې له مخې، د ادارې اسنادو یا اسرارو جرم د «افشاکولو) له لارې، یعنې؛ د هغه څه چې پټ دي د هغې ښکاره کولو، نورو خبرولو او د دربمګړې لاسرسی کې ورکولو ته وایې. دا ښکاره کول په بېلا بېلو ډولونو ترسره کیدای شي؛ په شفاهي ډول؛ د مخامخ خبرو له لارې، یا د تاویلو ماویلو (مناقشې) په جریان کې، او یا صریحا د رسنېو له لارې، همدارنګه یا د لیکنې له لارې په لېکلي ډول[1].

#### ۲ـ د ترسره کوونکي (مرتکب) شخصیت:

د ادارې اسرارو یا اسنادو د افشاء جرم په هغه صورت کې رامنځته کېدای شي چې، ترسره کوونکی یې د عامه خدمتونو مؤظف او د «سِر خاوند» وي. په بل عبارت، دا جرم هغه وخت رامنځته کېدای شي چې

[1] - سرور، احمد فتحی، هماغه منبع، ٤٦٣مخ.

د عامه خدمتونو مؤظف د دنده ئېز مکلفيت له امله، د سِر يا سند ساتونکی يا امين يا رازدار واوسېږي. دا صفت، ددندې له امله، او يا د هغو تعلقاتو له امله چې د نورو سره يې لري؛ وګړی يې ترلاسه کوي او د ځينو اسرارو څخه خبرېږي. د اداري اسنادو، امرونو يا نورو محرمو خبرتياو سِر د دندې له مخې وګړي ته سپارل کېږي او نوموړی ترې خبرېږي. نو دا مؤظف بايد ددې اسرارو ساتونکی او امانت داره واؤسې. د ويلو څخه دې پاته نه وي چې، دا صفت نه يوازې د دندې د تصدۍ په موده کې بلکې د دندې د پايته رسېدو څخه وروسته هم، که دا اسرار ښکاره کړل، د اسنادو يا اسرارو د افشاء جرم ترسره کوونکی پېژندل کېږي. په دې اړوند د جزا کود ۴۱۳مې (۲) فقره داسې صراحت لري: **«که چېرې شخص د دندې د تصدۍ له پای ته رسېدو وروسته ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل ترسره کړي، په پېشبيني شوو عين مجازاتو محکومېږي.»**

**۳ـ دجرم موضوع**

هغه کلمات او عبارتونه چې په قانون کې ددې جرم لپاره کارول شوي دي، ددې جرم موضوع جوړوي. يعني کيدای شی ووايو چې، هغه اسرار، اسناد، تصمېمونه، امرونه او نورې هغه خبرتياوې چې ددندې له امله يو شخص ته سپارل شوي دي. دا محرم موارد کيدای شي د حکمې شخصيت (اداري) يا حقيقي شخص په اړوند وي. خو په دواړو کې د محرميت قيد - ددې جرم د ترسره کېدا اصلي شرط بلل کېږي. يعنی که چېرې د محرميت قيد شتون ونه لري نو بيا دا جرم نه واقع کېږي.

**ب: د ادارې اسرارو او سنادو افشاء جرم معنوي عنصر:**

د ادارې اسرارو يا اسنادو جرم د قصدي جرمونو د جملې څخه دی. نو کله چې ترسره کوونکی د يوې پېښې يا اداري سند د محرموالې څخه خبر وي او په دې هم پوه شي چې ددې اسرارو ساتل يې دنده ئېز ملکفيت دی خو بيا يې هم ښکاره (افشاء) کړي. د يادونې دې پاته نه وي، د جرم ترسره کوونکی نشي کولی په ناخبرۍ باندې استدلال وکړي. نو "که څوک په دې فکر چې هغه د اسرارو په ساتنه مکلف

ندی، هغه ښکاره (افشاء) کړي. دا فکر او خیال هغه تبرئیه کولی نشي. ځکه دا ډول خیال یا تصور د قانون په حکم کې خطا ده او عذر نه ګڼل کېږي"[1].

د اداري اسرارو یا اسنادو د جرم په رامنځته کېدو کې " شرط ندی چې مجنی علیه ته زیان رسېدلی وي"[2].

ومو ویل چې د اداري اسرارو یا اسنادو جرم عمدي جرمونو څخه ګڼل کېږي، خو کیدای شي په غیر قصدي ډول یې هم ترسره کول، جزایې مسؤولیت لري. په دې اړوند د جزا کود **۴۱۳**مې مادې (۳)مه فقره داسې صراحت لري: «**(۳)که چېرې د بهرني دولت یا د بین المللي یا بین الحکومتي سازمان یا نادولتي مؤسسې یا خصوصي ځانګې د هغه مؤظف د غفلت یا اهمال له امله چې د سندونو او معلوماتو په ساتنه مکلف وي، سندونه یا معلومات افشاء شي، مرتکب په قصیر حبس محکومېږي.**»

**(۱۷)شمېره فعالیت**

**فرضي قضیه :**

حامد د ملی دفاع وزارت پخوانی منسوب دی چې، اوس یې تقاعد کړی دی. ملي دفاع وزارت دده پرواړاندې دعوه لري چې، نوموړي په سرینا هوټل کې د یوې وینا پر وخت د ملي دفاع پورې اړوند ځینې نظامي اسرار افشا کړي دي. حامد د ځان په دفاع کې داسې وایې: (ما ملي دفاع وزارت یا د افغانستان حکومت ته د زیان واردولو قصد نه درلود او د بلې خوا زه اوس د ملي دفاع وزارت کارکوونکی نه یم.)

تاسې د ملي دفاع وزارت د تور په اړوند همدارنګه د حامد ددفاع په اړوند څه نظر لرئ؟

## دوېمه فرعه: د اداري اسرارو یا اسنادو جرم جزا:

---

[1] مخکنی، ٤٦٤مخ.

[2] مخکنی، سرور، احمد فتحی، ٤٦٠مخ.

د اداري اسرارو یا اسنادو جرم دخفت او شدت له حېثه په جنحوي درجه کې راغلی دی او جزا يې لنډ حبس دی. (دجزا کود ۴۱۳مه ماده)

**ازحیث خفت و شدت جرم در قباحت آمده ، اشتباه است.**

## لسم مطلب: د اداري فساد جرمونو خبر ورکوونکي د تهدید جرم:

د اداري فساد جرمونو خبر ورکوونکي تهدید، ددندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم لسمه بېلګه ده. دا بېلګه د اداري فسادڅخه خبر ورکوونکي یا د مدارکو ارائیه کوونکي د تهدی لامل شي. چې د جزا ۴۱۴مې ماده کې داسې تصریح کړی دی: «(۱) **هغه شخص چې د اداري او مالي جرمونو د مدارکو او معلوماتو اطلاع ورکوونکي یا وړاندې کوونکی تهدید کړي، تر دريو کلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي.**

**(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی تهدید په جسمي یا مالي ضرر تمام شي، مرتکب د مرتکبه جرم په جزا هم محکومېږي.** »

په دې مطلب کې، د جزا کود ۴۱۴مې ماده کې ذکر شوي جرم جوړونکي عناصر او دهغې جزا تر څېړنې لاندې نیول کېږي.

## لومړی فرعه: د اداري فسادجرمونو خبر ورکوونکي د تهدید جرم جوړوونکي (متشکله) عناصر:

ددې جرم جوړوونکي عناصر مادي او معنوي عنصر څخه عبارت دي.

### الف: د اداري فساد جرمونو خبر ورکوونکي د تهدید جرم مادي عنصر

ددې جرم مادي عنصر؛ جرمي کړنه (رفتار)، د ترسره کوونکي شخصیت او د جرم موضوع څخه عبارت دي.

**۱ـ جرمي کړنه:**

د جزا کود ۴۱۴مې مادې پربنسټ، د اداري فسادجرمونو خبر ورکوونکي د تهدید جرم د «**تهدید**» یعني تخویف، ترهیب او وېرې[1]، اچولو له امله رامنځته کېږي. د تهدید جرم د هغه جرمونو له ډلې څخه دی چې مجرمین خپلو موخو ته د رسېدو لپاره ورڅخه ګټه اخلي او په ټوله کې قوانینو دجرم په صفت منلی دی. تهدید په یوه ځانګړي موضوع کې، که واقعي وي یا غیر واقعي او یا په هره وسیله؛ که هغه کتبي وي، شفاهي وي، علني او یا غیر علني وي، ددې جرم په رامنځته کېدو کې تاثیر نلري. همدارنګه، د تهدید ډول آړین نه دی بلکې هر تهدید چې د اداري فسادجرمونو خبرورکوونکی (اطلاع وکوونکی) د خبر نه ورکولو ته اړ کړي، جرم پېژندل کېږي.

هغه تهدید چې د اداري فسادجرمونو خبر ورکوونکي باندې تاثېر کوي نسبي امر دی، تهدید کوونکی او څوک چې د تهدید لاندې راځي دهغوی د شرایطو او اوضاعو پورې اړه لري. په همدې بنسټ، د چا او یا یو شي څخه ویره، تهدی نه ګڼل کېږي. بلکې، د خبر ورکوونکي ویره باید د تهدید کوونکي وګړي د تهدید څخه سر چېنه اخیستي وي. په دې ترتیب سره، د تهدید منل موضوعی امر دی، چې د قاضي تشخیص ته پرېښودل شوی دی.

هغه ټکی چې باید پام ورته وشي هغه دادی چې د تهدید جرم راتلونکی ته نسبت ورکول کېږي؛ نه تېر وخت ته، او دا چې په تهدید کې، سره له دې چې د خپلې باطني غوښتنې پر خلاف په یو عمل لاس پورې کوي خو اراده سلب شوی نده.

[1] - دهخدا لغتنامه، (تهدید) اصطلاح.

دا په داسې حال کې ده چې ځینې وختونه، سربېره پر دې چې د تهدید لاندې وګړی د تهدید کوونکي وګړي د خوښې کار په کولو خوښ ندی خو د هغه اراده هم سلبیږي، دلته بیا د اکراه موضوع مطرح کیږي. په دې صورت کې فاعل او مباشر ته هیڅ مسؤلیت نه راجع کیږي، اجبار کوونکی مسؤل دی. ددې پرخلاف، په هغه تهدید کې چې کامله اکراه مطرح نه وي، تهدید کوونکی د معاون او هغه چې د تهدید لاندې راغلی دی د مباشر یا فاعل په صفت د عدلي تعقیب وړ بلل کیږي[١].

پوښتنه؛ آیا هر تهدید جرم بلل کېږي او د جزا وړ دی؟ ددې پوښتنې ځواب مطلق منفي دی او هر تهدید جرم نه دی. د بېلګې په ډول؛ که یو کس بل داسې کس چې مزاحمت کوي، تهدید کړي چې که مزاحمت ته دوام ورکوي نو د مدارکو سره به دې عدلي او قضایی ادارو ته شکایت وکړم. یا که چېرې یو تورن کس داسې فکر کوي چې دده حقوق ضایع کېږي او د ضایع کېدو د مخنیوي لپاره اړونده ادارو ته د شکایت ووایې، نو داسې تهدید جرمي تهدید ندی او د جزا وړ نه بلل کېږي.

**۲ـ د ترسره کوونکي (مرتکب) شخصیت:**

د ترسره کوونکي شخصیت د تشخیص په اړوند د جزا کود ۴۱۴مې مادې د «شخص» کلمه کارولي ده. په همدې بنسټ؛ د دې جرم ترسره کوونکی هر څوک؛ عادي شخص یا د عامه خدمتونو مؤظف، د افغانستان تبعه یا د بهرني هېواد تبعه، نو د اداري فساد د جرمونو څخه خبر ورکونکي د تهدید جرم، ترسره کوونکي ته شرط نده چې هغه دې د عامه خدمتونو مؤظف وي.

نو دلته یوه پوښتنه مطرح کېږي؛ چې ولي قانون جوړونکي د اداري فساد جرمونو خبرورکوونکي د تهدید جرم یې د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټي اخیستو، جرم ګڼلی دی؟

[١]- https://www.yasa.co/blog/investigation-of-the-crime-of-threat-in-the-islamic-penal-code

په ځواب کې کولی شو چې ووایو؛ دا بېلګه کیدای شي د دندې يا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرمونو ته مرتبط جرم وي. ښه به داسې وه چې قانون جوړونکي دا جرم د اداري فسادجرمونو عمومیاتو په برخه کې راوستئ وو.

**(۱۸) شمېره فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه :**

که د عامه خدمتونو مؤظف د تهدید په پایله کې، د اداري فسادجرمونو اړونده خبرورکولو یا مدارکو او معلوماتو وړاندې کولو څخه ډډه وکړي، نو آیا د عدلي تعقیب لاندې راځې او که نه؟

**۳- د جرم موضوع:**

د تهدید ځای (تهدید بها) د تهدید موضوع جوړوي. کیدای شي تهدیدکوونکی – تهدید لاندې کس په وژلو یا بل هر مادي زیان یا معنوي زیان باندې تهدید کړي. د موضوع د تشخیص په برخه کې عرف، شرایط، اوضاع او احوال هم ونډه لري. خو د تردید او ابهام په مواردو کې نشو کولای چې شخص د عدلي تعقیب لاندې ونیسو.

**(۱۹) شمېره فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه :**

که یو کس بل ته ووایې چې «حساب ته درسیږم» یا «هغه کار کوم چې د آسمان مارغان دې په حال وژاړي» یا «اوښکې به دې توی کړم» په داسې تهدیدونو کې چې ابهام شتون لري او نفسي، شرافتی او یا.... زیانونو ته په کې نغوته نده شوې، ترسره کوونکي د عدلي تعقیب وړ بلل کیدا شي؟

## ب: د اداري فساد جرمونو څخه د خبرورکوونکي د تهدید جرم معنوي عنصر:

د اداري فساد جرمونو څخه د خبرورکوونکي د تهدید جرم د قصدی جرمونو له ډلې دي. په دې جرم کې یوازې عام قصد (علم او اراده) بسنه کوي او خاص قصد پکې شتون نه لري. ځکه خاص قصد کیدای شي د تهدید کوونکي سره د ځان، مال یا بل شي ته د زیان رسولو وي چې په دې جرم کې شتون نه لري.

## دویمه فرعه: د اداري فساد جرمونو څخه د خبرورکوونکي د تهدید جرم جزا:

د اداري فساد جرمونو څخه د خبرورونکي د تهدید جرم جزا په ساده ډول یې، تر درې کلونو پورې متوسط حبس دي. د جزا کود ۴۱۴ مادې (۱) فقره.

خو که چېرې د جزا کود ۴۱۴مې مادې (۱) فقره کې درج د تهدید جرم د ځانې یا مالي زیان سبب شي، ترسره کوونکی سربېره پر دې چې تر درې کلونو پورې په متوسط حبس محکومیږي، په ترسره شوې جرم (پایله) هم محکومیږي.

## یوولسم مطلب: په سیاسي ګوندونو کې د غړیتوب پېرلو جرم:

په سیاسي ګوندونو کې د غړیتوب پېرلو جرم د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم یوولسمه بېلګه ده.  دا بېلګه، په یو سیاسي ګوند کې د غړیتوب یا د هغې په ګټه کار کولو، پېرل دي، د عامه خدمتونو مؤظف په واسطه چې د قانون په حکم سره د دندې د تصدی په وخت کې د ګوند د غړیتوب

څخه منع کړی وی. په دې اړوند د جزا کود ۴۱۵مه ماده داسې صراحت لري: « **که چېرې د سترې محکمې غړی، قاضي، څارنوال، د ملي دفاع وزرات، کورنیو چارو وزارت، د ملي امنیت د عمومي ریاست منسوب، د نظامي تشکیلاتو لرونکو اداردو نظامي منسوب یا د عامه خدمتونو نور مؤظفین چې د قانون په حکم ددندې د تصدی په وخت کې په سیاسي ګوند کې د غړیتوب له لرلو څخه منع شوي دي، په سیاسي ګوند کې د غړیتوب یا د هغه په ګټه د فعالیت د لرلو او ددې موضوع د پېښولو په صورت کې، له سلو زرو څخه تر پنځو سوو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا او له دندې څخه په عزل، محکومېږي.** »

په دې مطلب کې به د جزا کود ۴۱۵مه ماده کې درج جرم (په سیاسي غوند کې دغړېتوب پېښولو جرم) جوړونکي عناصر او دهغې جزا تر څېړنې لاندې ونیسو.

## لومړی فرعه: په سیاسي ګوند کې د غړیتوب پېښولو جرم جوړونکي عناصر:

ددې جرم جوړونکی عناصر عبارت دي له مادي او معنوي عناصر څخه، چې په لاندې ډول یې مطالعه کوو.

## الف: په سیاسي ګوند کې د غړېتوب پېښولو جرم مادي عنصر:

ددې جرم مادي عنصر؛ جرمي کړنه، ترسره کوونکي (مرتکب) شخصیت او د جرم موضوع څخه عبارت دی.

**۱ـ جرمي کړنه:**

د جزا کود ۴۱۵مې مادې پربنسټ، په سیاسي ګوند کې د غړېتوب پېښولو جرم مادي عنصر، «په سیاسي ګوند کې غړېتوب یا د سیاسي ګوند په ګټه د فعالیت پېښولو» څخه عبارت دی.

**۲ـ د ترسره کوونکي شخصيت:**

په سياسي ګوند کې د غړيتوب پېښولو جرم هغه وخت رامنځته کېږي چې، ترسره کوونکی يې د عامه خدمتونو هغه مؤظف وي چې، قانون په سياسي ګوندونو کې د غړيتوب څخه منع کړی وي. لکه: د سترې محکمې غړی، قاضي، څارنوال، د ملي دفاع وزارت، کورنيو چارو وزارت، د ملي امنيت عمومي رياست، د نظامي تشکيلاتو لرونکو ادارو غړي يا نور هغه د عامه خدمتونو مؤظفين چې د دندې په موده کې په سياسي ګوندونو کې د غړيتوب څخه منع کړل شوي وي.

**۳ـ دجرم موضوع:**

ددې جرم موضوع، **په سياسي ګوند کې غړيتوب يا د سياسي ګوند په ګټه فعاليت**، کوم چې د قانون په حکم کې ورڅخه منع شوی وي.

## ب: په سياسي ګوند کې غړيتوب د پېښولو جرم معنوي عنصر:

په سياسي ګوند کې غړيتوب د پېښولو جرم د قصدي جرمونو له ډلې څخه شمېرل کېږي، د جزا کود ۴۱۵مه ماده داسې صراحت لري. «............،**په سياسي ګوند کې د غړيبوب يا دهغه په ګټه د فعاليت د لرلو او ددې موضوع د پېښولو په صورت کې......**»

په دې بنست، کله چې د عامه خدمتونو مؤظف د قانون په حکم، په سياسي ګوند کې د غړيتوب څخه منع شوي وي، نوموړی، سره له علمه او په اراده د دندې د تصدۍ په موده کې د سياسي ګوند لپاره کار

ترسره کړي او یا یې غړېتوب ولري، غړېتوب او فعالیت پټ کړي، په دې حالت کې ددې جرم معنوي عنصر متحقق شوی دی. ځکه په دې جرم کې عام قصد (علم او اراده) شتون لري او خاص قصد پکې د بحث وړ ندی.

## دویمه فرعه: په سیاسي ګوند کې غړېتوب د پټولو جرم جزا:

په سیاسي ګوند کې غړېتوب د پټولو جرم لپاره قانون دوه ډوله جزاګانو وړاندوېنه کړېده؛ د سلو زرو څخه تر پنځه سوه زره افغانیو پورې نغدي جزا د اصلي جزا په ډول، او د دندې څخه عزلول د بشپړوونکي (تکمیلي) جزا په ډول، په قانون کې وړاندوېنه شوې ده.

## دولسم مطلب: د په رسمي وخت کې د کارکوونکي یا نورو مؤظفینو ګمارنه په شخصي کار کې جرم:

دا ډول کړنه د جزا کود په ۴۱٦مه ماده کې داسې تصریح شوی دی: «**که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف، تر اثر لاندې کارکوونکی یا نور مؤظفین د رسمي وخت په دننه کې په شخصي کار وګماري یا یې د رسمي دندې له ساحې څخه بهر توظیف کړي یا له قانوني مجوز پرته د هغوی ټول یا یوه برخه اُجرت ورنکړي، له پنځو زرو څخه تر دیرشو زرو افغانیو پورې په نقدي جزا، محکومېږي.**»

په دې مطلب کې، د جزا کود ۴۱٦مه ماده کې تصریح شوي جرم جوړوونکي عناصر او دهغې جزا تر څېړنې لاندې نیسو.

## لومړی فرعه: د په رسمي وخت کې د کارکوونکي یا نورو مؤظفینو ګمارنه په شخصي کار کې د جرم جوړونکي عناصر:

ددې جرم جوړونکي عناصر عبارت دي له؛ مادي او معنوي عنصر څخه..

## الف: د په رسمي وخت کې د کارکوونکي یا نورو مؤظفینو ګمارنه په شخصي کار کې د جرم مادي عنصر:

دا جرم غیر نتیجوي یا مطلق جرم دی. څکه په رسمي وخت کې د لاس لاندې کارکوونکی یا بل مؤظف په رسمي وخت کې په خپل شخصي کار کې، یا د رسمي دندې څخه بیرون ساحه کې، یا د قانوني جواز څخه پرته ګمارنه او یا ددې کارکوونکي لړه یا ټوله تنخوا نه ورکول، د عامه خدمتونو مؤظف لخوا جرم ګڼل شوی دی.

په همدې بنسټ ددې جرم مادي عنصر اجزاوې عبارت دي له؛ جرمي کړنه، د ترسره کوونکي شخصیت او دجرم موضوع څخه، چې په لاندې ډول یې تشریح کوو.

**۱ـ جرمي کړنه:**

جرمي کړنه یې عبارت دی له؛ ۱) ګمارنه، ۲) دنده ورکونه. او ۳) د تنخوا نه ورکول.

د مادې له متن څخه داسې څرګندیږي چې که اړونده مؤظف، د لاس لاندې (تحت اثر) نه وي، نو ددې مادې د حکم پر بنسټ د تعقیب وړ نه بلل کیږي.

**۲ـ د ترسره کوونکي شخصیت:**

د جزا کود په ۴۱۵مه ماده کې د ترسره کوونکي شخصیت «دعامه خدمتونو مؤظف» یاد شوی دی. په همدې بنسټ، ترسره کوونکی هر وګړی کېدلی نشي، باید د عامه خدمتونو مؤظف وي. که د عامه خدمتونو مؤظف نه وي، دا جرم نه واقع کیږي. یعني د دې لپاره چې، په رسمي وخت کې د کارکوونکي

یا نورو مؤظفینو ګمارنه په شخصي کار کې جرم- واقع شي، د ترسره کوونکي لپاره شرط ده چې د عامه خدمتونو مؤظف وي.

**(۲۰) شمېره فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه :**

که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف بالمقطع اجیر چې دده لاس لاندې دی په رسمي وخت کې په شخصي کار باندې وګماري، د جزا کود ۴۱٦مې مادې د حکم پربنسټ د تعقیب وړ دی او که څنګه؟

**۳ـ دجرم موضوع:**

ددې جرم موضوع، په رسمي وخت کې په شخصي کار ګمارنه یا د تنخوا یوې حصې یا ټولې نه ورکول دی. یعني ددې جرم د تحقق لپاره په رسمي وخت کې شخصي کار یا تنخوا نه ورکول شرط دی.

## ب: د په رسمي وخت کې د کارکوونکي یا نورو مؤظفینو ګمارنه په شخصي کار کې جرم معنوي عنصر:

دا جرم د قصدي جرمونو له ډلې څخه دی. د عام قصد تر څنګ خاص قصد شتون هم اړین دی. څکه قانون په صراحت سره ویلي دي چې، «....... **د رسمي وخت دننه په شخصي کار وګماري یا یې د رسمي دندې له ساحې څخه بهر توظیف کړي یا له قانوني مجوز پرته دهغوی ټول یا یوه برخه اُجرت ورنکړي،.....»** په دې معنی چې سربېره پر دې چې مجرمانه عمل په خبرتیا او قصدي ترسره کوي، په رسمي وخت کې په شخصي کارونو ګمارنه یا د تنخوا یوه حصه یا ټوله نه ورکولو، نیت هم ولري.

**به نظر من؛ در این جرم صرف قصد عام وجود دارد، اما شیوه ارتکاب آن همینهای مندرج ماده متذکره است.**

## دویمه فرعه: د په رسمي وخت کې د کارکوونکي یا نورو مؤظفینو ګمارنه په شخصي کار کې د جرم، جزا:

په رسمي وخت کې د کارکوونکي یا نورو مؤظفینو ګمارنه په شخصي کار کې جرم، جزا د شدت او خفت له حیثه د قباحت په درجه کې دی. لکه څرنګه چې د جزا کود ۴۱٦مې مادې د پنځه زرو څخه تر دیرشو زرو افغانیو پورې نغدي جزا وړاندوینه کړې ده.

پوښتنه: که کارکوونکی په غیر رسمي وخت کې په شخصي کار وګمارل شي نو بیا به یې حالت څه ډول وي؟

## دیارلسم مطلب: د څارنوال وظیفوي سرغړونې:

**ټکی:** سرغړونه یا سرغړونې معمولا هغه ناقانونه حالتونه دي چې په اداري سرغړنو باندې اطلاقېږي، چې سرغړونکی یې په ترتیب سره د توصیې، اخطار، معاش کسر او تبدیلی مستوجب ګڼل کېږي. د جزا کود په ۴۱۷ ماده کې د څارنوال وظیفوي سرغړونو اصطلاح کارول،چې د قصیر حبس مستوجب ګڼل شوي دي، مناسبه اصطلاح نده.

په هر صورت؛ موږ ددیارلسم مطلب تر سرلیک لاندې د جزا کود ۴۱۷مې مادې کارول شوې اصطلاح (سرغړونې) په همدې اصطلاح کاروو؛ خو، دا اعمال سرغړونې نه، بلکې جرمي کړنې دي، چې د څارنوال لخوا یې په ترسره کولو سره د لنډ حبس جزا وړاندوینه شوې ده.

**د څارنوال دنده ئېزې سرغړونې: د جزا کود ۴۱۷مه ماده په دې اړوند داسې صراحت لري: «که چېرې څارنوال د خپلو وظيفوي چارو په اړوند، له لاندې اعمالو څخه د يوه مرتکب شي، په قصير حبس، محکومېږي:**

**۱- د محبسونو او توقيف خونو يا د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزنونو په دننه کې د توقيف شوو، محبوسينو يا محجوزينو له اړوند احوال څخه د څارنې په کار کې اهمال، انصراف او يا د متهم نه عدلي تعقيب پداسې احوالو کې چې جرم ارتکاب شوی وي او د تورن په وړاندې د الزام کافي دلايل شتون ولري، خو دا چې په قانون کې په بل دول تصريح شوې وي.**

**۲- د جرم له وقوع څخه په خبرتيا (اطلاع) يا د شاکي په شکايت بې اعتنايي يا له مؤجهو دليلونو پرته له هغو څخه انصراف.**

**۳- د هغو قضاياوو د عدلي تعقيب نه درول چې هغو ته رسيدګي د شاکي په شکايت منوط وي، په داسې حالت کې چې شاکي له خپل شکايت څخه منصرف شوی وي.»**

په دې مطلب کې، موږ د جزا کود ۴۱۷مه ماده کې درج (دڅارنوال دنده يېزو سرغړونو) جرم جوړوونکي عناصر او د هغې جزا تر څېړنې لاندې نيسو.

## لومړی فرعه: د څارنوال دنده ئېزو سرغړونو جرم جوړوونکي عناصر:

ددې جرم جوړوونکي عناصر عبارت دي له مادي او معنوي عنصر څخه، چې په لاندې ډول يې تر مطالعې لاندې نيسو.

## الف: د څارنوال دنده ئېزو سرغړونو جرم مادي عنصر:

د څارنوال دنده ئېزو سرغړونو جرم د غیر نتیجوي یا مطلق جرمونو څخه ګڼل کېږي. مادي عنصر یې؛ جرمي کړنه، د ترسره کوونکي شخصیت او د جرم موضوع څخه جوړ دی. چې په لاندې ډول یې هر یو توضیح کوو؛

**۱.جرمي کړنه:**

دقانوني موجب پرته د دندې څخه سرغړونه ددې جرم جرمي کړنه ده. په دې معنی چې څارنوال سره د خپلې ورسپارل شوې دندې په اړوند بد نیت پیدا کېږي. (یعني، د دنده ئېزو چارو په اړوند بې له دې چې په قانوني ډول یې ترسره کړي؛ اهمال او بې اعتنایې کوي) دا بد نیت په عمل کې د اهمال، انصراف، بې اعتنایئ او.... له لارې پلی کوي. د جزا کود ۴۱۷مه ماده په دې اړوند څلور کړنې د څارنوال په وظیفوي سرغړونو کې راوستلې دي:

۱ . د محبسونو او توقیف خونو یا د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو په دننه کې د توقیف شوو، محبوسینو یا محجوزینو له اړونده احوالو څخه د څارنې په کار کې اهمال؛

۲. د تورن تعقیب څخه ډډه کول؛ پداسې احوالو کې چې جرم ارتکاب شوی وي او د تورن په وړاندې د الزام کافي دلایل شتون ولري؛

۳ . د جرم له وقوع څخه په خبرتیا یا د شاکي په شکایت بې اعتنایې یا له مؤجهو دلیلونو پرته له هغه څخه انصراف؛

٤- د هغو قضایاؤو د عدلي تعقیب نه درول چې هغو ته رسیدګي د شاکي په شکایت منوط وي، پداسې حالت کې چې شاکې له خپل شکایت څخه منصرف شوی وي.

**۲ـ د ترسره کوونکي (مرتکب) شخصیت:**

دا پورته یادې شوې کړنې هغه وخت د دنده ئېزو سرغړونو صفت اخلي چې د عامه خدمتونو یو خاص ډول مؤظفینو (څارنوالانو) لخوا ترسره شوی وي. نو په دې جرم کې د څارنوال صفت یو بنسټیز شرط دی، په هغه صورت کې چې ترسره کوونکی څارنوال نه وي نو بیا ددې جرم صفت نه خپلوي.

### ۳ـ دجرم موضوع:

د جرم موضوع هغه شی دی چې جرم پرې واقع کېږي. د څارنوال دنده ئېزو سرغړونو جرم موضوع دهغه کارونو څخه عبارت دي چې ددندې سرغړونې کړنې وي. چې د جزا کود ۴۱۷مې مادې څلورو امورو ته نغوته کړېده: «...څارنه، تعقیب، د جرم د واقع کېدو څخه خبرتیا یا د شکایت کوونکی شکایت او د عدلي تعقیب درول......» ددې موضوعاتو شرط دادی چې د دندې په حکم څارنوال ته سپارل شوی وي او د څارنوال څخه توقع دا ده چې دا موضوعات د قانون سره سم ترسره کړي، نه داچې ددې د ترسره کولو څخه اهمال یا بی اعتنایي وکړي.

## ب: د څارنوال دنده ئېزو سرغړونو جرم معنوي عنصر:

دا جرم د غیر نتیجوي یا مطلقو قصدي جرمونو څخه دی. په دې کې یوازې د عام قصد (علم او ارادې) شتون کافی دی.

**به نظر من؛ عنصر معنوي این جرم شامل قصد و خطا هر دو میشود. چرا که څارنوال میخواهد که امور محوله مندرج ماده متذکره را انجام بدهد ولي به نسبت ازدحام کار فردا فردا میګوید، در همین اهمال جرم تکمیل شده شمرده می شود. یا از تعقیب عدلی انصراف میکند، دلایل خویشرا نیز تحریر مینماید ولي شاید دلایل وی موجه نباشد. در حالیکه قصدا دلایل غیر موجه را تحریر نموده است.**

**(۲۱) شمېره فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه :**

د څارنوال دنده ئېزو سرغړونو جرم، قصدي جرم دی که غیر قصدي؟

په هغه صورت کې چې څارنوال د توقیف شوو کسانو څخه د څارنې په برخه کې اهمال وکړي. یا د جرم د اطلاع ورکوونکي یا دشکایت کوونکي شکایت په اړوند بې اعتنایې وکړي، دا جرم یې عمدي ګڼل کېږي او که غیر عمدي؟

### دویمه فرعه: د څارنوال دنده ئېزو سرغړونو د جرم جزا:

د څارنوال دنده ئېزو سرغړونو جرم جزا، د شدت او خفت له حیثه د جنحې په درجه کې د قانون جوړونکي لخوا راغلی دی. ددې جرم لپاره د قصیر حبس جزا وړاندوېنه شوې ده. د جزا کود (۴۱۷مه ماده)

## څلورم مبحث: د دندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم بشپړوونکې (تکمیلي) جزا:

د جزا کود ۱۷۸مې مادې (۱) فقره کې بشپړوونکې جزا داسې صراحت لري: «تکمیلی جزا هغه مجازات دي چې پر اصلي جزا برسېره د محکمې په حکم کې تصریح شوې وي.» دا جزاګانې عبارت دي له؛ مصادرې، د ځینې حقوقو او امتیازاتو څخه محرمیت او د حکم نشر، څخه.

بشپړوونکې جزا د مجرمېنو د اصلاح په برخه کې د لا مؤثر والي په موخه ورکول کېږي. محکمه هغه وخت کولای شي چې د اصلي جزا تر څنګ په بشپړوونکې جزا هم حکم وکړي، چې په قانون کې تصرح شوي وي.

په جزا کود کې د دندې يا موقف څخه د ناوړه ګټې اخيستو جرم ترسره کوونکو ته د اصلي جزا تر څنګ د بشپړووکې جزا ځېنې ډولونه په پام کې نېول شوې دي؛ لکه، د ځېنې حقونو او امتيازاتو څخه محروميت او مصادره.

د جزا کود ۴۱۸مه ماده له دندې يا موقف څخه د ناوړې ګټې اخيستنې د جرم بشپړوونکي جزا، داسې تصريح کړېده:« **که چېرې په دې څپرکي کې ددرج شوو جرمونو د ارتکاب له امله مادي يا معنوي مستقيم يا غير مستقيم منفعت ترلاسه شوی وي، مادي منفعت مصادره او معنوي منفعت باطلېږي.**»

## لومړی وينا: د ځېنې حقونو او امتيازاتو څخه محروميت:

د (ځېنې حقونو او امتيازاتو څخه محروميت) بشپړوونکي جزا په اړوند د جزا کود ۱۷۹مې مادې (۱) فقرې په لاندې ډول ځېنې معيارونه په ګوته کړي دي؛ «محکمه کولی شي تر لسو کلونو پورې د طويل حبس يا متوسط حبس د حکم پر وخت د جرم پر اصلي جزا برسېره، محکوم عليه ددې قانون د ۱۷۲مې ماې په ۳، ۴ او ۵ اجزاوو کې له درج شوو حقوقو او امتيازونو څخه هم محروم کړي.»

د جزا کود د ۱۷۲مې ماې په ۳، ۴ او ۵ اجزاوو کې درج موارد په لاندې ډول دي؛

۳جز- له نښانونو، مډالونو او دولتي افتخاري القابو څخه استفاده،

۴جز- د اداري او مالي فساد د جرم د ارتکاب په سبب د محکوميت په صورت کې د شرکتونو، بانکونو او مؤسسو په مديره هيئت کې غړيتوب.

۵جز- له ادارو، تصديو، دولتي او مختلطو مؤسسو سره د قرارداد عقد يا د مالي جرمونو د ارتکاب په صورت کې د دولت لخوا د امتياز ترلاسه کول.

په همدې بنسټ، محکمه کولای شي د جزا کود ۱۷۲مې مادې ۳، ۴ او ۵ جزونو کې درج، چې پورته ورڅخه یادونه وشوه، د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو د جرم محکوم علیه ته د بشپړوونکي (تکمیلي) جزا په ډول د اصلي جزا تر څنګ حکم کې تصریح کړي.

## دویمه وینا: د دندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم په بېلګو کې د مادي منفعت مصادره او معنوي منفعت باطلول:

د جزا کود ۴۱۸مې مادې له مخې، ددندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم له لارې ګټې تر لاسه کول؛ مادي او معنوي ګټو ته شاملېږي؛ مادي ګټې مصادره او معنوي ګټې باطلېږي. دا دوه موارد په لاندې ډول تشریح کوو؛

**الف-** مادي ګټې عبارت دې له، مالي ګټو څخه چې د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو له لارې، لاسته راوړل شوي وي او باید مصادره شي. ځکه، د جزا کود ۴۱۸مې مادې د حکم پربنسټ، قاضي د مصادرې یا نه مصادرې په اړوند، مخیر ندی.

**ب)** غیر مادي ګټې عبارت دي له غیر مالي ګټو څخه چې د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم له لارې لاسته راغلي وي. غیر مادي ګټې هم باید باطلې شي او په نه بطلان کې یې قاضي اختیار نه لري. لکه؛ د رتبې ترفیع، تقدیر نامې ورکول، قرارداد تمدید او داسې نور.

## د دویم څپرکي پالېزه:

د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم پورې اړونده د جزا کود کې درج مادې (۴۰۳ نه تر ۴۱۸) پورې مادو د تشریح او تحلیل څخه لاندې پایلې ته رسېږو:

۱. د دندې څخه ناوړه ګټه اخیستنه د اداري فسادسره د مبارزې قانون پر بنسټ د ادارې فساد د جرمونو څخه بلل کېږي،

۲. د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم عبارت دی له؛ د عامه خدمتونو مؤظف لخوا د ځان یا د بل ګټې لپاره د قانون خلاف د یو کار کول یا نه کولو، څخه،

۳. د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم بېلګې د جزا کود ۴۰۴مې مادې څخه تر ۴۰۱۸مې مادې پورې، په ګوته شوې دي،

٤. د دندې یا موقف څخه د ناوړه ګټې اخیستو جرم ترسره کوونکی باید، د عامه خدمتونو مؤظف وي.

٥. د دندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم موضوع، د ادارې سلامتیا ده چې د عامه خدمتونو مؤظف یې د دندې یا موقف څخه په ګټنه، فاسدوي،

٦. د دندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم، عمدي جرم دی،

٧. د دندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم ځېنې بېلګو کې، د جرم ترسره کوونکی سربېره دحبس او نغدي جزا، د مسلک څخه په طرد یا د دندې څخه په انفصال هم محکومېږي،

٨. محکمه کولای شي چې، د دندې یا موقف څخه ناوړه ګټې اخیستو جرم ترسره کوونکي ته په هغه مواردو کې چې جزا یې متوسط حبس وي، د جزا کود ۱۷۲مې مادې ۳، ۴ او ۵ جزونو کې درج (- له نښانونو، مډالونو او دولتي افتخاري القابو څخه استفادې،- د اداري او مالي فساد د جرم د ارتکاب په سبب د محکومیت په صورت کې د شرکتونو، بانکونو او مؤسسو په مدیره هیئت کې غړیتوب، او له ادارو، تصدیو، دولتي او مختلطو مؤسسو سره د قرارداد عقد یا د مالي جرمونو

د ارتکاب په صورت کې د دولت لخوا د امتياز ترلاسه کولو.) د حقوقو او امتيازونو څخه په محروميت د بشپړوونکي (تکميلي) جزا په ډول هم، محکوم کړي.

۹. د جزا کود ۴۱۸مې مادې د حکم پر بنسټ د دندې يا موقف څخه د ناوړه ګټې اخيستو جرم بشپړوونکي جزا کيدای شي د مادې ګټې مصادره، د معنوي ګټو باطلول وي.

## دريم څپرکی

## شتمنۍ د ناقانونه ډېرېدا جرم

**موخې:**

ددې زده کړېزې ناستې په پای کې به ګډونوال وکولای شي چې؛

- شتمنۍ د ناقانونه ډېرېدا جرم تعريف کړي؛
- شتمنۍ د ناقانونه ډېرېدا جرم جوړوونکي عناصر په سم ډول په نښه کړي؛
- شتمنۍ د ناقانونه ډېرېدا جرم په اړونده قضيو کې جزا په سمه توګه په نښه او وټاکې.

**سرليکونه:**

۱. شتمنۍ د ناقانونه ډېرېدا جرم:

- شتمنۍ د ناقانونه ډېرېدا جرم مفهوم.
- شتمنۍ د ناقانونه ډېرېدا جرم جوړوونکي عناصر.
- شتمنۍ د ناقانونه ډېرېدا جرم جزا.

# دریم څپرکی

## شتمنۍ د ناقانونه ډېرېدا جرم

د شتمنۍ د ناقانونه ډېرېدا جرم اړونده مسائل په څلورو لاندې مبحثونو کې تشریح شي؛

لومړی مبحث: شتمنۍ د ناقانونه ډېرېدا جرم تعریف.

دویم مبحث: شتمنۍ د ناقانونه ډېرېدا جرم جوړوونکي عناصر.

دریم مبحث: شتمنۍ د ناقانونه ډېرېدا جرم جزا.

په څلورم مبحث کې به، د «شتمنېو ثبت په فورمه کې د ناسمو معلوماتو درجول» چې د شتمنۍ د ناقانونه ډېرېدا جرم سره اړیکه لري، تر بحث لاندې ونېول شي.

### لومړی مبحث: د شتمنۍ د ناقانونه ډېرېدا جرم تاریخي پس منظر او د هغې خطورة:

په تاریخي لحاظ، د لومړي ځل لپاره د شتمنۍ د ناقانونه ډېرېدا په برخه کې تدابیر د حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه په وخت کې ونېول شول. حضرت عمر فاروق (رض) به تل د خپلو مامورینو او د حکومت والیانو په شتمنۍ باندې څارنه کوله. دده د خلافت په دور کې یو کس چې د بحرین والي په صفت په دنده ګمارل شوی وو، کله چې مدېنې ته راوګرځېد، نو ډېر مال یې له ځانه سره راوړ. حضرت عمر (رض) ورته وویل دا مال دې له کوم ځایه راوړی دی؟ هغه ورته وویل چې خلکو ډالۍ ګانې راکړېدي او خپلو اوښانو مې هم ډېر بچې زېږولي دي. حضرت عمر (رض) وویل؛ که چېرې ته په کور

کې وای ( او ددولت د کارکوونکي په صفت ګمارل شوی نه وای) نو ایا خلکو تاته ډالۍ درکولې؟ حضرت عمر (رض) دده څخه ټولې ډالۍ واخېستې او د بیت المال په حساب کې یې ثبت کړې[1].

همدارنګه یو روایت کې راغلی دي چې، یوه ورځ حضرت عمر (رض) مدینې په ښار کې د ګرځېدو پر مهال یوه ځلېدونکې ماڼۍ چې د تیګې او آهک څخه جوړه شوې وه، ولیده؛ دخلکو څخه یې پوښتنه وکړه چې دا د چا ده؟ خلکو ورته په ځواب کې وویلې چې دا د بحرین والي فلانې ده. انحضرت (رض) و فرمایل؛ درهمونو ونشو کولای چې سر او غاړه زمونږ څخه پټه کړي. بیا یې د بحرین والي راوغوښت او د تحقیق څخه وروسته یې، دده نیمه اضافه شتمني بیت المال ته مصادره کړه او دا جمله یې په ژبه وویله: (علی کل خاءین امینان، الماء والطین) په ټولو خائینانو باندې، اوبه او خټه دوه امانتکاره ساتونکې دي چې د خیانکارانو خیانت مونږ ته رسوا کوي[2].

د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم د ۱۳۵۵کال په قانون کې، وړاندوینه نه وه شوې. افغانستان د اداري فسادسره د مبارزې په برخه کې د میثاق تر تصویب څخه وروسته چې په ۱۳۸٦کال کې یې تصویب کړی دی، ددې جرم په جرم ګڼلو باندې تعهد وکړ. څکه ددې میثاق ۲مه ماده داسې صراحت لري. «د میثاق غړي هېوادونه د خپلو حقوقي نظامونو او اساسي قوانینو سره سم، جرمي تخلف، د شتمنۍ ناقانونه عمدي ډېرېدا ارتکاب، یعنې ددولتي کارکوونکی د شتمنۍ هغه ډېرېدا چې په مستدل ډول یې قانوني والي توجیه نشي کړای، په دې اړوند قوانین وضع او نور آړین اقدامات په پام کې ونېسي» در اینجا ماده دوم تحریر گردیده است، در حالیکه تحت عنوان گفتار اول مبحث دوم عین ماده (ماده بیستم) تحریر گردیده است. مطابق میثاق باید تصحیح شود.

[1] - محمد ابن عبدالله بن مسلم بن قتیبه الدینوری، عیون الأخبار کتاب، ۵۳ مخ.

[2] - هماغه، ۵۳مخ.

د همدې تعهد پربنسټ، د افغانستان دولت د لومړي ځل لپاره د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم د ۱۳۹٦کال جزا کود په ۴۱۹څخه تر ۴۲۱مې مادې پورې، د جرم په صفت و پېژندو.
ددې جرم یوه ځانګړنه داده چې اثبات یې د څارنوال پر ځای د تورن پرغاړه دی. په جزایې حوزه کې د برائت الذمې اصل پر بنسټ، تورن بې ګناه ګڼل کېږي، د شکمن کېدو په صورت کې څارنوال مکلف دی چې د الزام لپاره د اثبات دلائیل راپیدا کړي او په هغه صورت کې چې څارنوال ددې کار څخه عاجز شي، شکمن یا تورن بې ګناهې په خپل حال پاته کېږي. تورن هیڅکله د بې ګناهۍ په ثابتولو مکلف ندی. خو ملي ګټو د ساتنې او فساد څخه د مخنیوې په موخه، د برائت الذمه اصل باندې دا یوه استثنا منل شوې ده. په دې جرم کې هغه د عامه خدمتونو مؤظف چې شتمنۍ یې د پام وړ زیاتوالی پیدا کړی دی، مکلفېږي، تر څو د خپلې شتمنۍ د سرچینې مشروعیت ثابت کړي، د نه اثبات حالت یې دده په مجرمیت فرض نېول کېږي. دا ټکی؛ ددې جرم خطورة د بشري حقونو د ملحوظاتو په اړوند او په ځانګړي ډول برائت الذمې په اړوند، راڅرګندوي. نو هېوادونه مکلف دي چې ددې پدېدې سره په خورا احتیاط برخورد وکړي، داسې نه چې بې ګناه انسان، ګنهکار وپېژندل شي.
احتیاط ایجاوبوي چې لاندې ټکې رعایت شي؛
**اولاً:** ډاډ ترلاسه شي چې د تورن مجرمیت په اړوند معقول شک شتون لري، همدارنګه دده سره کړنه باید متناسب وي (نه ډېر سخت او نه ډېر نرم) په همدې خاطر د جزا کود په ۴۱۹مه ماده کې دوه برخې د شک او تردید تصریح کړیي دي؛

١. د عامه خدمتونو د مؤظف، مېرمنې یا مېړه او ماشومانو د ثبت شوې شتمنۍ په تناسب، د پام وړ زیاتوالی کړی وي.
٢. د عامه خدمتونو مؤظف ونشي کولای چې ددې ډېروالي مشروع سرچېنه په مستدل ډول توجیه کړي.

په همدې بنسټ، هر څوک ددې جرم د تور لاندې نه راځي. یوازې هغه وګړي د تعقیب وړ بلل کېږي چې، د هغوی په اړوند معقول شک شتون ولري. د اروپا د بشري حقوقو محکمې د نظر پربنسټ، د برائت الذمې اصل ددې مانع نه ګرځي چې د هېوادونو تقنیني مراجع د تورن جزایې مسؤلیت فرض شوی وګڼي، خو مشروط پر دې چې شک معقول او عکس العمل متناسب وي[۱].

**ثانیا:** ددې جرم کشف، تحقیق او محاکمه باید په ډېر جدي ډول د قانون د احکامو سره سم ترسره شي. ددې چارې د پلي کېدا لپاره اړینه ده؛ هغه پولیس، څارنوال او قاضي چې دا جرمونه تر څېړنې لاندې نېسي باید په لوړ او اوچت ډول روزنه لېدلي وي او اړین مهارتونه ولري.

**ثالثاً:** دولت باید دې جرم په اړوند ټولو چارو څخه کلکه څارنه وکړي.
ددې احتیاطونو په رعایت سره، فرض په دې ګڼل کېږي چې د څارنوال څخه تورن ته د اثبات د بار انتقال، برائت الذمې اصل تر سوال لاندې نه راولي. که داسې ونشي، دا جرم کولای شي د عدالت په وړاندې د کلکې ننګونې په ډول راښکاره شي.
ټکی: د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم اثبات مسؤلیت په اړوند یو بل نظر هم شتون لري. دا نظر د جزا کود او د اداري فسادسره د مبارزې میثاق په خلاف دی. ددې نظر پلویان په دې باور دي چې، د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم د اثبات مسؤلیت د څارنوال په غاړه دی، نه د هغه مؤظف په غاړه چې ددې جرم شکمن واقع شوی دی.
خو د ویلو دې پاته نه وي چې؛ د اداري فسادسره د مبارزې میثاق په **۱۳۸٦/٥/۲٥** نېټه د ولسي جرګې له لورې تصویب، ۱۳۸٦/۷/۳ نېټه د مشرانو جرګې له لورې تصویب او ۱۳۸٦/۱۰/۲ نېټه د ولسمشر له

[۱] - Lindy Muzila and others, On the Take Criminalizing Illicit Enrichment to Fight Corruption, Stolen Assest Recovery, P xiv.

لورې توشيح شوی دی، او ۱۳۸٦/۱۰/۲٥نېټه په ۹۳٦ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی دی او د جزا کود د همدې میثاق پر بنسټ د اثبات مسؤلیت د هغه مؤظف په غاړه ایښی دی چې، په دې جرم باندې شکمن شوی دی.

## دويم مبحث: د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم مفهوم او مقایسه د ورته جرمونو سره:

په دې مبحث کې، د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم تعریف، ددې جرم مقایسه نورو ورته جرمونو سره، تر څېړنې لاندې نېول کېږي.

### لومړی وينا: د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم تعریف:

د جزا کود د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم تعریف کړی ندی، خو؛ د ۴۱۹مې مادې (۱) فقره کې د ځېنو کړنو څخه یادونه کړېده چې د هغې په ترسره کولو سره، وګړی د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم ترسره کوونکی ګڼل کېږي. دا ماده داسې صراحت لري؛ «**(۱)که چېرې د عامه خدمتونو د مؤظف، د هغه د مېرمنې یا مېړه او اطفالو شتمني د هغه د ثبت شوې شتمنۍ او قانوني عوایدو په تناسب د پام وړ زیاتوالی ومومي او هغه ونشي کولای د هغې مشروع سبب او سرچینه په مستدل ډول توجیه کړي، د شتمنۍ د ناقانونه د زیاتوالي مرتکب پېژندل کېږي، ددې څپرکي له حکمونو سره سم مجازات کېږي.**»

**د تعریف تشریح:**

- د <u>**عامه خدمتونو مؤظف**</u> اصطلاح ددې کتاب اول څپرکی اول مبحث اوله وینا کې په ګوته شوی ده.

- د «<u>**شتمنۍ د پام وړ زیاتوالی ومومي**</u>» اصطلاح د جزا کود ۴۱۹مې مادې په (۲) فقره کې داسې تعریف شوې ده: «**(۲) ددې مادې د (۱) فقرې په مفهوم د شتمنۍ د پام وړ زیاتوالی د یوه کال په ترڅ کې د شخص له اصلي شتمنۍ څخه له پنځو سوو زرو افغانیو څخه په زیات ارزښت د شخص د**

**شتمنۍ ترلاسه کول دي.**» دا په دې معنی ده چې؛ که چېرې ده شخص شتمنۍ په کال کې د پنځه سوه زره افغانیو څخه کم ډیرښت کړی وي، د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم کې نه شاملېږي.

- د **شتمنۍ** څخه موخه هر منقول او نامنقول مال دی، اړينه نده چې دا شتمني نغده وي او یا پور او یا برخه (سهم) وي، او یا بانکې حساب یا نغدي وي، او یا ګاڼې وي یا قېمتي ډبرې یا تعمیر او یا همدې ته ورته هر بل ډول يې....

داسې معلومېږي چې قانون جوړوونکي د عامه خدمتونو مؤظف ته ځېنې قانوني واکونه ورکړي دي تر څو خپله دنده په بې پرې ډول او د ناوړه ګټې اخیستو څخه لرې، د قانون په چوکاټ کې ترسره کړي. که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف، د خپلو قانوني واکونو له کړۍ څخه بېرون، یو کار ترسره کړي، نو عمومي سلاوې او ټولنیز نظام به ګډوډ شي.

په همدې بنسټ؛ د عامه خدمتونو د مؤظف د ناوړه ګټې اخیستو د مخنیوي او عامه شتمنۍ د ساتنې په موخه، قانون جوړوونکې د هغه وګړي د شتمنۍ ډېرېدا چې، دهغې د سرچېنې په اړوند مستدل او موجه دلائیل شتون ونلري، د جرم په صفت پېژني.

د ویلو څخه دې پاتې نه وي چې د جزا کود د ملګرو ملتونو سازمان د اداري فسادسره دمبارزې میثاق سره سم، د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا ته جرمي صفت ورکړی دی. ددې میثاق شلمه ماده داسې صراحت لري:

**(«د میثاق غړي هېوادونه د خپلو حقوقي نظامونو او اساسي قوانینو سره سم، د شتمنۍ ناقانونه عمدي ډېرېدا ارتکاب، جرمي تخلف، یعني ددولتي کارکوونکی د شتمنۍ هغه ډېرېدا چې په مستدل ډول يې قانوني والي توجیه نشي کړای، په دې اړوند قوانین وضع او نور آړین اقدامات په پام کې ونېسي»)**

د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم د رشوت جرم او اختلاس جرم سره ځېنې ورته والی او توپیرونه لري، چې په لاندې ډول يې تر څېړنې لاندې نیسو.

## دویمه وینا: د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم توپیر د رشوت او اختلاس جرم سره:

## الف: د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم توپیر د رشوت جرم سره:

دا دواړه جرمونه سره ورته والی لري او په ځېنې برخو کې سره توپیر هم لري. د ورته والي بېلګې یې؛ دواړو جرمونو ته د عامه شتمنۍ ساتنې په خاطر د جرم صفت ورکړل شوی دی، چې موخه یې د بیت المال د ضایع کېدو څخه مخنېوی او ساتنه ده. دا ددې لپاره چې، د عمومي خدمتونو دندې ته ځوک د شیانو د اخیستو او خرڅولو په سترګه ونه ګوري او یا دا چې د عامه خدمتونو مؤظف هر وخت وغواړي هغه خرڅلاو ته وړاندې کولی و نشي[1]. همدارنګه دا دواړه هغه جرمونه دي چې شروع، نه لري[2]. خو ددې جرمونو علت سره توپیر لري. د بېلګې په ډول، د رشوت په جرم کې د شروع نه رامنځته کېدو علت، د شروع او تام جرم مساوي والی دی. یعنی د رشوت په جرم کې شروع په رشوت په تام جرم منل شوي ده. خو د شتمنۍ د ناقانونه ډېرېدا په جرم کې د شروع نشتون د تصور علت دادی؛ کله چې ددې جرم ترسره کوونکی د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا اراده ولري او مخکې د هغې څخه ونېول شي، نو حتما یې بل جرم (رشوت یا اختلاس) ترسره کړی دی، نو په دې حالت کې د جرم صفت کاملاً تغیر کوي.

بل توپیر ددې دواړو جرمونو په منځ کې دادی چې، د رشوت جرم ترسره کوونکی د جرم د ارکانو په ترسره کولو باندې د عدلي تعقیب لاندې نېول کېږي، خو د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا په جرم کې د هغې د رکانو تکمیل شرط ندی بلکې هر کله چې د عامه خدمتونو مؤظف ونشي کولی د خپلې ډېرې شوې شتمنۍ په اړوند موجه دلائیل وړاندې کړي، د عدلي تعقیب لاندې نېول کېږي[3]. ددې دواړو جرمونو

[1] - جمال ابراهیم الحیدری، النماذج الإجرامیة للفساد الإداری فی قانون العقوبات العراقی، بحث منشور فی مجلة دراسات قانونیة (مجلة متخصصه یصدرها بیت الحکمة فی جمهوریة العراق) السنة السادسة، العدد عشرون، ۲۰۰۷، ۲٦مخ.

[2] فؤاد جمال عبدالقادر، المصلحة المحمیة فی جریمة الکسب غیر المشروع، بحث منشور فی مجلة الأمن العام المصریة، العدد (۱۱۳) السنة ۱۴۰٦هه ۴۳مخ

[3] د. أحمد رفعت خفاجی، جرائم الرشوة فی التشریع المصری و القانون المقارن، ۹۹مخ.

ترمنځ بل توپیر په دې کې دی؛ د رشوت جرم ثابتول د څارنوال دنده ده، خو د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا په جرم کې د اثبات مسؤولیت د څارنوال نه بلکې د ترسره کوونکي مسؤولیت دی چې د خپله ډېره شوې شتمنۍ په اړوند موجه دلایل وړاندې کړي.

## ب: اختلاس د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا او اختلاس جرم ترمنځ توپیر:

په دې دواړو جرمونو کې تیری په مال ترسره شوی دی، مهمه نده چې دا مال دولتي وي او که شخصي، خو د مال ډول په دې دوو جرمونو کې سره توپیر لرلی شي. د بېلګې په ډول؛ د اختلاس په جرم کې باید مال منقول وي او د عامه خدمتونو مؤظف سره د امانت په ډول د هغه تر ساتنې لاندې وي. خو د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا په جرم کې د شتمنۍ سرچېنه مهمه نده، همدومره چې د عامه خدمتونو مؤظف د مال د سرچېنې او سبب توجیه نکړل شي، نو د شتمنۍ د ناقانونه ډېرېدا جرم ترسره کوونکی پېژندل کېږي.

ددې دواړو جرمونو بل توپیر د ترسره کوونکي نیت دی. د اختلاس په جرم کې کله چې د دولت مال د مؤظف په ساتنه (حیازت) کې دی او ددولت له حیازت څخه یې وباسې خپلې ساتنې لاندې یې راولي، د اختلاس جرم بشپړ بلل کېږي. خو د شتمنۍ د ناقانونه ډېرېدا په جرم کې برابره خبره ده چې مال د مؤظف ساتنې لاندې راشي یا د ژوند شریک (مېړه یا ښځه) او یا دده ماشومانو، نو دا جرم بشپړل ګڼل کېږي.

ددې دواړو جرمونو بل ورته والی په دې کې دی چې، د جرم موضوع مال په دواړو جرمونو کې بیت المال ته سپارل کېږي[1].

---

[1] د أحمد فتحی السرور، نظرية الاختلاس فی التشريع المصری، بحث منشور فی مجلة إدارة قضايا الحكومة المصرية، السنة الثالثة عشرة، العدد الثانی، أبريل – يونيو ١٩٦٩، ٣٨١مخ.

## دریم مبحث: د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم جوړوونکي عناصر:

په دې مبحث کې به ددې جرم مادي او معنوي عنصر تر څېړنې لاندې ونېول شي. قانوني عنصر یې په تعریف کې تصریح شوی دی.

### لومړی وینا: مادي عنصر:

د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم نتیجوي جرم دی. نو؛ مادي عنصر یې، جرمي کړنه افتراضي (فعل)، د ترسره کوونکي صفت، د شتمنۍ د سرچېنې د مشروع والی ثبوت نشتون، پایله (شتمنۍ ډېرېدا) او د سببیت اړېکه ده، چې په لاندې ډول یې تشریح کوو.

**۱ـ جرمي کړنه ( فرض منل شوی عنصر):**

د جزا کود ۴۱۹مې مادې ته په کتو سره، قانون هغه جرمي کړنې چې جرم ترې سرچېنه اخلي، په ګوته کړې ندي. ځکه د جزا کود ۴۱۹مې مادې: «که چېرې د مؤظف شتمنۍ...... د پام وړ زیاتوالی وکړي» همدرنګه د شتمنۍ د ډېدېردا سرچېنه یې هم په ګوته کړې نده چې د کومې کړنې څخه وي؟ دا ځکه چې؛ فرض په دې منل شوی دی چې دولت نه پوهېږي چې د کوم عمل څخه شتمنۍ ډېره شوې ده. ځکه، که دولت پوه شي چې د ترسره کوونکي شتمنۍ د کومې جرمي کړنې له امله ډیره شوېده، نو؛ په هماغه جرمي کړنې په تور به یې محاکمه کړي- نه د شتمنۍ د ناقانونه ډېرېدا په جرم کې. د بېلګې په ډول: که عدلي او قضایې ارګانونو ته معلومه وي چې د شتمنۍ ډېرېدا شرچېنه د رشوت یا اختلاس او یا د مخدره موادو قاچاق او داسې نورو جرمونو څخه ده، نو په ترسره شوو جرمونو په تور به یې محاکمه کړي. نو په دې جرم کې، جرمي کړنه او کړنې ددولت او عدلي او قضایې ادارو څخه پټې دي، خو د هغه ځایه چې شتمنۍ ډېره شوې ده او د مشروع والي سرچېنه یې هم معلومه نده، نو قانون د شتمنۍ دا ډېرېدنه، ددې جرم په اړوند قرېنه بللې ده او د سرچېنې جرمي والی یې یو فرضي امر منلی دی. په دې

بنسټ، ددې جرم جرمي کړنه د فرض منل شوو جرمي کړنو څخه دی چې شتمنۍ ورڅخه سرچېنه اخیستې ده.

له همدې پلوه، حقوقپوهان د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم د مادي عنصر دا جز فرضي عنصر په حیث مني[1]. البته د مادي یا معنوي عناصرو فرضي والی په ځینې جرمونو کې، د بیلا بیلو هېوادونو په حقوقي نظامونو کې شتون لري[2].

نو په دې جرم کې فرض په دې نېول شوی دی چې، د مؤظف لخوا ناوړه ګټنه شوې ده. ځکه؛ دده یا یې د ژوند شریک (مېړه یا ښځه) یا یې د اولادنو شتمنۍ د پام وړ زیاتوالی کړی دی او د سرچېنې د مشروعوالي په اړوند یې د موجه والی څخه عاجز پاتې شوی دی، په همدې بنسټ؛ که څه هم د دندې څخه ناوړه ګټنه ثابته هم نشي فرض په دې نېول کېږي، چې وګړي ناوړه ګټنه کړېده. یعني که څه هم مؤظف وګړي، مال د تجارت یا بلې مشروع له لارې لاسته راوړي وي او ونشي کولی چې ددې سرچېنه په ګوته کړي، نو حکمي ناوړه ګټې اخیستنې مادي کړنه ګڼل کېږي. خو عملاً داسې ځکه نه کېږي، چې څوک د مشروع لارې مال ترلاسه کړي او بیا یې د سرچېنې په اړوند موجه دلایل ونلري.

د پورته تشریحاتو پربنسټ؛ د شتمنۍ نا قانونه ډېرېدا جرم ثانوني جرم دی چې، د لومړني جرم؛ که څه هم هغه اداري فساد (رشوت، اختلاس او...) جرم وی او که عادي (سرقت، چپاول او...) جرم له امله ترلاسه شوي وي. خو که چېرې د شتمنۍ د ناقانونه ډېرېدا جرم علت وموندل شي چې د اختلاس یا رشوت یا سرقت او یا.... له امله شتمنۍ ډېره شوېده، نو بیا د همدې جرمونو تر نامه لاندې د عدلي تعقیب لاندې نېول کېږي. خو که چېرې وګړی د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم تر نامه لاندې د عدلي تعقیب لاندې وي، وروسته بیا معلومه شي چې ددې مال یو څه برخه د رشوت یا اختلاس د جرم له امله

[1] - ربحی فرحی، الإثراء غیر مشروع فی ظل قانون مکافحة الفساد(٢٠١٤). پایان نامۀ ماستری دانشگاه عبد الرحمن میرة- بجایة(الجزایر)،۲۹مخ.

[2] - رجوع شود به: أحمد شوقی الشلقانی(٢٠٠٣). مبادئ الإجراءات الجزايية فی التشریع الجزائری، ج ۲، چاپ ۳، الجزائر، دیوان المطبوعات الجامعیة، ۳۳٦مخ.

ترلاسه شوي دي، په دې صورت کې د جرمونو د کانکور يا تعدد مطرح کېږي او ددواړو جرمونو په اړوند به ورته جزا ورکول کېږي. خو که چېرې د شتمنۍ جرمي سرچينه ثابته نشي او په عين حال کې د مشروع والی سرچينه هم په ګوته نشي، نو تورن به د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم په تور به جزا وکول کېږي.

**۲ـ د ترسره کوونکي (مرتکب) شخصيت:**

ددې جرم ترسره کوونکی بايد د عامه خدمتونو مؤظف، د هغه د ژوند شريک (ښځه يا مېړه) او يا د هغې ماشومان (اولادونه) وي. په دې معنی چې؛ ددې جرم ترسره کوونکی حکمي شخص او يا غير د عامه خدمتونو مؤظف څخه، کېدای نشي. دهغوی په اړوند د برائت الذمې قاعده د پلي کېدا وړ ده.

د عامه خدمتونو مؤظف په اړوند مخکې بحث شوی دی، خو د ژوند شريک ( ښځه يا مېړه) او ماشومانو په اړوند يې لاندې توضيحات ورکوو.

که څه هم په پښتو ژبه کې د همسر کلمه شتون نه لري، خو معنا يې دلته د ګټې څخه خالي نده.

«**همسر**»: همسر په لغت کې زوج (مېړه) او زوجه (ښځې) دواړه باندې سمون خوري[1]. د ۴۱۹مې مادې په پښتو متن کې ډېر واضح د مېړه يا ښځې کلمات راغلي دي چې، لغوي معنا ته يې اړتيا نه لېدل کېږي. خو د ويلو پرته معلومه ده چې؛ د عامه خدمتونو مؤظف او د هغه د ښځې يا مېړه ترمنځ بايد د زوجيت اړيکه شتون ولري، که چېرې يو د بل څخه جلا شوي وي، د جلاوالي څخه وروسته يې شتمنۍ کې د پام وړ زياتوالي راغلی وي، عامه خدمتونو مؤظف يې د سرچينې د مشروعوالي په ثبوت مکلف نه دی او دا شتمنۍ دشتمنۍ په ډېرېدا کې د محاسبې وړ نه ده. خو؛ که چېرې د شتمنۍ ډېرېدل د زوجيت د

[1] - عميد فرهنګ، د (همسر) اصطلاح. په داسې حال کې چې د عرف له مخې خلک د همسر اصطلاح يوازې مېرمنې ته کاروي او مېړه ته زوج وايي.

اړیکې شتون وخت ته وګرځې، نو په دې صورت کې مؤظف د سرچینې د مشروعوالي په اثبات مکلف دی او که څنګه؟ په دې اړوند، مؤظف مکلف دی چې د شتمنۍ د پام وړ ډېرېدا د سرچینې په اړوند مستدل معلومات ورکړي.

«اطفال»: د اطفالو څخه موخه د عامه خدمتونو مؤظف د ۱۸کلونو څخه ټیټ (ښځینه یا نارینه) ماشومان دي. په دې بنسټ، د ۱۸کلونو څخه پورته اولادونو د شتمنۍ ډېرېدا په اړوند، د عامه خدمتونو مؤظف مکلف ندی چې د سرچینې د مشروعوالي په اړوند یې موجه دلائیل وړاندې کړي، که څه هم د والدینو سره یو ځای ژوند وکړي.

**(۲۲) شمېره فعالیت**

**مباحثوي پوښتنې:**

لومړۍ پوښتنه: که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف هغه اولادونه چې عمر یې د ۱۸کلونو څخه ډېر وي، دنده ونلري او د والدینو سره یو ځای ژوند وکړي او د هغوی په نامه د پام وړ ډېره شتمني ثبت شوي وي. آیا ددوی شتمني د عامه خدمتونو مؤظف شتمنۍ په نصاب کې راځي؟ او آیا، د عامه خدمتونو مؤظف ددې شتمنۍ د سرچینې د مشروعوالي د اثبات په اړوند مکلف دی که څنګه؟

دویمه پوښته: د ۱۸کلونو څخه کم اولادونه (١٦ یا ١٧ کلن) د والدینو څخه جلا ژوند کوي، آیا ددوی شتمني د والدینو په شتمنۍ کې محاسبه کیدای شي؟

دریمه پوښتنه: یوه مېرمن د عامه خدمتونو مؤظفه ده، مېړه یې بله مېرمن هم لري. آیا د دوېمې مېرمنې اولادونو شتمني د لومړنۍ مېرمنې چې د عامه خدمتونو مؤظفه ده، شتمنۍ کې محاسبه کیدای شي؟

څلورمه پوښتنه: کله چې د عامه خدمتونو مؤظف والدین یا یې خور چې د هغه سره ژوند کوي او نفقه یې هم د هغه په غاړه ده. نو آیا؛ ددوی شتمني د عامه خدمتونو مؤظف په شتمنۍ کې د محاسبې وړ ده که څنګه؟ د یادونې وړ ده چې د دولتي مقاماتو او کارکوونکو د شتمنۍ د خپرولو او ثبت قانون ۵مې مادې ۲ فقرې له مخې؛ «....... دولتي کارکوونکي مکلف دي، چې هر مالي کال په لومړۍ کې، خپله هغه شتمني چې مستقیماً یې د سلطې او تسلط لاندې وي یا نورو وګړو سره وي همدارنګه د پلار، مور، ژوند شریک (مېره، ښځه) او اولادونو شتمني، ثبت کړي»[1].

**۳ـ پایله:**

د پورته ذکر شوې مادې ظاهر ته په پام سره، داسې انګېرل کېږي چې ددې جرم پایله، د هغه شتمنۍ ناقانونه ډېرېدنه ده چې، د عامه خدمتونو مؤظف، د هغه د ښځې یا مېره او ماشومانو په ذمت کې وي او د ثبت شوې شتمنۍ او قانوني عوایدو ترمنځ یې تناسب شتون ونه لري او مؤظف ونشي کولی چې ددغه شتمنۍ د سبب او سرچینې مشروعوالی بیان کړي. برابره خبره ده چې دشتمنۍ دا ډېروالی د فعلي یا احتمالي ناوړه ګټې اخیستو له لارې راغلی وي. یعنی برابره خبره ده چې د مؤظف ناوړه ګټنه ثابته وي او که نه.

د یادونې وړ ده چې دا جرم د نتیجوي جرمونو له ډلې دی، ځکه قانون جوړونکي په جرمي پایله باندې تاکید کړی دی چې هماغه د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدنه ده. له دې امله؛ ددې جرم پایله، دشتمنۍ ناقانونه ډېرېدنه ده.

**شتمنۍ ثبت:**

[1] - ددولتي مقاماتو او کارکوونکو د شتمنۍ خپرولو او ثبت قانون(۱۳۹۷ل). رسمي جریده، ۱۳۲۹ ګڼه.

داسې معلومېږي چې، ددې جرم پایله هغه وخت کې په ګوته کېدای شي چې، د عامه خدمتونو مؤظف خپله مشروع شتمني د مخکې څخه ثبت کړې وي. ځکه د جزا کود د شتمنۍ د ناقانونه ډېرېدا جرم په اړوند داسې صراحت لري. « د عامه خدمتونو مؤظف شتمني...**د ثبت شوې او قانوني عوايدو** ترمنځ تناسب.....» څخه اضافه ډېره شوې وي. نو لومړی باید د عامه خدمتونو مؤظف شتمني ثبت شوې وي او بيا يې د ډېرې شوې شتمنۍ او قانوني عوايدو ترمنځ د ثبت د نېټې څخه وروسته، دتناسب شتون، وکتل شي. په پورته متن کې دوه ډوله شتمنۍ د اندازې يا مقياس په حيث په ګوته شوې ده. ۱-ثبت شوې شتمنۍ او ۲-د ثبت څخه وروسته لاسته راغلی شتمنۍ.

١. **ثبت شوې شتمنۍ**: د دولتي مقاماتو او کارکوونکو د شتمنېو د اشاعې او ثبت قانون ۵مې مادې څخه تر ۸مې مادې پورې لاندې اشخاص د مالي کال په لومړی مياشت کې د شتمنۍ په ثبت باندې مکلف کړې دي؛

- دولتي لوړ پوړې مقامات «د اساسي قانون په ۱۵۴مه ماده کې ذکر مقامات[1]».
- دولتي کارکوونکی په ځانګړي ډول د خپرولو او ثبت قانون ۸مې مادې ۱فقره کې تصريح شوی کارکوونکی؛ او
- د ټاکنېزو عهدو متصديان «د ملي شورا غړي، ولايتي شورا ګانو غړي، ولسواليو شوراګانو غړي، ښاروالان او د ښاروالی مجلسونو غړي[2]» .

۲. **د ثبت څخه وروسته د مؤظف قانوني شتمني**: دويم ډول شتمني چې د مقايسې بنسټ نېول کېږي، د هر مالي کال په لومړی مياشت کې د ثبت څخه وروسته مشروع عوايد دي، چې، د

[1] - هماغه مخکنۍ، ۵مې مادې (۱) فقره. د اساسي قانون ۱۵۴مه ماده داسې صراحت لري: د جمهور رئيس، د جمهور رئيس مرستيالان، وزيرانو، د سترې محکمې غړو او لوی څارنوال شتمني د خدمت دورې څخه مخکې او وروسته، د هغه ارګان له لورې چې په قانون کې ټاکل کېږي؛ ثبت، رسيده ګي او خپرېږي.

[2] - مخکنۍ، ۷ماده.

تورن کېدو څخه د مخه مؤظف مشروع عوايد هم لري. لکه؛ معاش، د ځمکې عوايد، دده د ملکيتونو کرايې او داسې نور. دده دا عوايد دشتمنۍ په ډېرېدا کې د محاسبې وړ نه بلل کېږي. بلکې دا عوايد په قانوني ثبت شوو عوايد کې شمېرل کېږي. خو؛ مؤظف يې د مشروعوالي په اثبات مکلف دی، ځکه د جزا کود د قانوني عوايدو اصطلاح کارولې ده.

په همدې بنسټ؛ که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف شتمني، د پورته دوه ډوله شتمنۍ په مقايسه ډېره وي او دا ډېروالی د جزا کود ۴۱۹مې مادې ۲مې فقرې نصاب ته ورسېږي، او مؤظف يې د مشروعوالی د اثبات څخه عاجز وي، جرم واقع کېږي او که داسې نه وي نو بيا جرم ندی واقع شوی.

**(۲۳) شمېره فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د (۱۳۹۷) کال د شتمنۍ د خپراوې قانون، د عامه خدمتونو مؤظف په تعريف کې شاملو ځينې وګړو د شتمنۍ د ثبت اړين ندی بللی، لکه: (مدافع وکيل، حکم، اهل خبره او نور هغه وګړي چې تصديقونه يې معتبر ګڼل کېږي.) دا په داسې حال کې ده چې د شتمنۍ د ناقانون ډېرېدا په جرم کې د جزا کود د شتمنۍ ډېرېدا او نه ډېرېدا د مقايسې معيار د شتمنۍ ثبت ګڼلی دی. نو پوښتنه دلته مطرح کېږي چې، آيا د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم تر نامه لاندې د پورته يادو شوو وګړو تعقيب امکان شتون لري او که څنګه؟

**احتمالي ځواب:**

داسې ښکاري چې، د هغه مؤظفينو په اړوند چې قانوناً د شتمنۍ په ثبت باندې مکلف ندي، د هغوی قانوني عوايد د شتمنۍ د ډېرېدا او نه ډېرېدا معيار ګرځول کېږي. ځکه د جزا کود د «دثبت شوي

شتمنۍ» ترڅنګ د «دهغه د قانوني عوایدو» عبارت هم ذکر کړی دی. نو په همدې بنسټ، د پورته ذکر شوو وګړو موجوده شتمني د هغوی د قانوني عوایدو په تناسب د مقایسې لاندې نیول کېږي.

**(۲٤) شمېره فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

آیا د مال د سرچینې پېژندنه شرط ده او که څنګه؟ او؛

آیا د پام وړ مال لاسته راوړلو لپاره کومه اندازه په قانون کې ټاکل شوې ده که څنګه؟

**احتمالي ځواب:**

د شتمنې ناقانونه ډېرېدا په جرم کې د نامشروع مال سرچینې پېژندنه اړینه او شرط ګڼل کېږي. دا سرچینه کېدای شي، دنده اړېزه بڼه ولري، لکه؛ اختلاس، رشوت یا د دندې څخه ناوړه ګټې اخیستنه؛ او کېدای شي سرچینه غیر دنده اړېزه وي، لکه غلا یا غصب او داسې نور، وي.

زما په نظر د مال سرچینې پېژندنه شرط ندی، ځکه په هغه صورت کې چې سرچینه وپېژندل شي، نو بیا سر د اول نه په هماغه اړونده جرم کې د عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي. خو د پورته تشریحاتو له مخې

استثناأ، د عدلي تعقيب په بهير کې که چېرې د مال سرچينه معلومه شي، نو بيا کانکور د جرمونو مطرح کيږي.

دوېمې پوښتنې په اړوند بايد وويل شي چې؛

هو، د جزا کود ۴۱۹مې مادې (۲) فقرې له مخې؛ د شتمنۍ ناقانون ډېرېدا په جرم کې د ډېرې شوې شتمنۍ اندازه تاکل شوې ده. يعني که چېرې عامه خدمتونو مؤظف په کال کې د پنځه سوه زره افغانيو څخه ډيره شتمني لاسته راوړې وي او د هغې سرچينه په ګوته نکړای شي، نو د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم متحقق کيږي.

په هر حال، د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم پايله کې لاندې شرايطو شتون آړين دي؛

١. د عامه خدمتونو مؤظف شتمنۍ د دندې د پيلېدو څخه وروسته د پام وړ ډيروالی کړی وي. د پام وړ د شتمنۍ ډيروالی د جزا کود ۴۱۹مه ماده کې تر پنځه سوه زره افغانيو پورې په يو کال کې په ګوته شوی دی.

۲ د ډېرې شوې شتمنۍ او ثبت شوې شتمنۍ او قانوني عوايدو ترمنځ د تناسب نه شتو.

۳. د ډېرې شوې شتمنۍ، د سرچينې سبب او مشروعوالی استدلال په اړوند، د عامه خدمتونو مؤظف عاجز وي.

**٤ـ د سببيت اړيکه:**

دا چې د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا په جرم کې جرمي کړنه يو فرض شوی امر دی نو، د جرمي کړنې او پايلې ترمنځ اړيکه هم فرض شوی ګڼل کيږي، فقط د پايلې او فاعل ترمنځ د اړيکې شتون اړين دی.

یعني شتمنۍ ډیروالی د عامه خدمتونو مؤظف، د هغه د ښځې یا مېړه او ماشومانو پورې تړاو ولري نه د بل وګړي پورې. که دا ثابته شي چې د شتمنۍ دا ډیروالی ددوی پورې اړه نه لري نو بیا ددې جرم صفت نه خپلوي. همدارنګه که، د عامه خدمتونو مؤظف د شتمنۍ ډېرېدا لپاره مشروع سرچینه ذکر کړي، نو د ناوړه ګټې اخیستو فرضی والي له منځه ځي او ددې د لمنځه تلو سر د سببیت اړیکه د عمل او مشروع شتمنۍ ترمنځ په خپل ځای پاته کېږي او په پایله کې د شتمنۍ ډېروالی جرم نه ګڼل کېږي. خو که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف د شتمنۍ دې ډېروالی لپاره مشروع سرچینه وړاندې نه کړي نو فرض په دې نېول کېږي چې دا شتمني مستقیماً د دندې څخه د ناوړه ګټې اخیستو په پایله کې لاسته راغلې ده. یا په بل عبارت؛ د شتمنۍ ناقانونه ډېردنه د مادي عنصر دوه جزونو؛ یو: جرمي کړنه، او دوه: د پایلې او کړنې ترمنځ دسببیت اړیکې شتون، قرینه ده.

### دوېمه وینا: معنوي عنصر:

د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم د عمدي جرمونو له ډلې ګڼل کېږي او د قصد ډول یکې یوازې عام قصد (علم او اراده) دی. د اداري فساد سره د مبارزې نړیوال میثاق شلمه ماده ددې جرم د قصدي والي په اړوند داسې صراحت لري: «.. د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا عمدي ترسره کول...». د عمدیت شرط ددې جرم د ناسم پلې کېدا د مخنیوي په موخه اېښودل شوی دی. لکه څرنګه چې مخکې وویل شو، د اثبات بار په انتقالولو سره تورن ته – د برائت الذمې قاعده نالېدلې ونېول شوه، نو په دې جرم کې یې عمدیت شرط کړ، تر څو یو ډول توازن رامنځته شي. ناویلې معلومه ده چې، عمدیت د قرائنو څخه استنباط کېږي. لکه؛ د یو چا څخه چې هیڅ یې نه پېژني او هیڅ ډول سوداګرېزه یا حقوقي اړیکه هم ورسره نه لري، یا هغه وګړي څخه چې د عامه خدمتونو مؤظف ورته یو کار ترسره کړی دی، د یو لوی مبلغ حوالې اخیستل.

په اصل کې معنوي عنصر فعل او پایلې ته متوجه دی، خو د هغه ځایه چې په دې جرم کې فعل یو فرضي امر دی، د فعل قصدیوالی هم فرضي امر منل شوی دی. پاتې کېږي د پایلې په برخه کې عمدیت، نو عمدیت دجرم پایلې

(ډېره شوې شتمني) ته راګرځي نه مجرمانه فعل ته[1]. نو، اړېنه ده چې دا ثابته شي چې، شتمني په پوهې او قصدي ډول سره د عامه خدمتونو مؤظف، د هغه مېرمنې یا مېړه او ماشومانو لاسته لوېدلې ده. په همدې بنسټ؛ که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف، د هغه د ښځې یا مېړه او ماشومانو ته شتمني دداسې وګړي له خوا ورکول شوې ده چې دوی یې اصلاً نه پېژني او کومه پولې (پیسو) اړیکه هم ورسره نه لري، مؤظف دا خبره ثابته کړي چې ددې شتمنۍ ډېرېدو څخه خبر ندی، نو د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم منځته نه راځي. د یادونې وړ ده چې په ځېنو هېوادونو کې ددې جرم خطا ډول منل شوی دی، نو پورتنۍ مثال په هغه هېوادونو کې چې خطا یې مني، جرم بلل کېږي[2].

د یادولو دې پاتې نه وي چې، ددې جرم پایله (ډېره شوې شتمني) او د هغې رابطه تورن سره، او دا چې دا شتمني د تورن د قانوني شتمنۍ په تناسب د جزا کود ۴۱۹مې مادې ۲ فقرې د اندازې څخه ډېروالي اثبات د څارنوال په غاړه دی. یوازې دا چې، پایله (ډیره شوې شتمني) جرمي سرچېنه نه لري او د مشروع لارې لاسته راغلې ده؛ اثبات، د تورن په غاړه دی.

## څلورم مبحث: دشتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم جزا:

[1] - On the track , P ٢٢.

[2] - ibd, P ٢١.

د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم جزا، اصلي، تبعي او بشپړونکو جزاګانو ته شاملېږي؛

**۱) اصلي جزا:**

د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم اصلي جزا په جزا کود کې داسې ټاکل شوې ده؛

ددې قانون د ۴۱۹مې مادې په (۲) فقره کې درج د شتمنۍ د ناقانونه زیاتوالي د جرم مرتکب په لاندې ډول مجازات کېږي:

- لنډ حبس: تر لس میلیونه افغانیو پورې د شتمنۍ د زیاتوالي په صورت کې، په قصیر حبس،
- متوسط حبس: له لسو میلیونو څخه زیات تر سل میلیونو افغانیو پورې د شتمنۍ د زیاتوالي په صورت کې، په متوسط حبس،
- اوږد حبس: له سلو میلیونو افغانیو څخه زیات د شتمنۍ د زیاتوالي په صورت کې، په طویل حبس.

**۲) تبعي جزا:**

که چېرې د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم ترسره کوونکی د محکمې لخوا د لسو کلونو ډېر حبس باندې محکوم شي، د جزا کود ۱۷۲مې او ۱۷۳مې مادې اړونده حقوقو څخه هم محرومیت باندې محکوم ګڼل کېږي. البته دا محرومیت د اصلي جزا د تېرېدو څخه وروسته په محکوم علیه باندې پلي کېږي. خو، کله چې د محکمې په حکم یا د قانون په حکم یې حیثیت اعاده شوي وي، نو بیا ځلې ددې حقونو څخه برخمن ګڼل کېږي.

**۳) بشپړوونکي (تکمیلي) جزا:**

<u>**۱. مصادره:**</u> د جزا کود ۴۱۹مې مادې دویمه فقره کې درج معیار څخه اضافه شوې شتمنۍ، د محکمې د حکم پر بنسټ مصادره کېږي. په دې اړوند د جزا کود ۴۲۱مې مادې (۲) فقره داسې صراحت لري؛

**«هغه وجوه او شتمنۍ چې په دې څپرکي کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب له امله ترلاسه شوي دي، د محکمې په حکم مصادره کیږي.»**

**۲. د ځینې حقوقو څخه محرومېدل:** د بشپړوونکي جزا ددې برخې جزا توپیر د تبعي جزا سره په دې کې دی چې، په تبعي جزا کې بې له دې چې محکمه د ځینې حقوقو څخه د محرومیت موارد په خپل حکم کې تصریح کړي، دا محرومیت په محکوم علیه باندې پلی کیږي، البته په دې شرط چې د حبس جزا حکم د لسو کلونو څخه ډیره ټاکل شوې وي. خو د بشپړوونکی جزا دا برخه باید محکمه ، د ځینې حقونو څخه محرومیت، لکه د مسلک څخه طرد یا د ځینې هغه حقونو څخه چې د جزا کود په ۱۷۲مه او ۱۷۳مه ماده کې تصریح شوي دي، په خپل حکم کې تصریح کوي. لکه څرنګه چې په دې اړوند د جزا کود ۱۷۸مې مادې (۲) فقرې ۱ جز کې دا تصریح شوې دي؛

**«ددې قانون د ۱۷۲ مادې په ۳، ۴ او ۵ اجزاوو او د ۱۷۳مادې په ۱، ۲ او ۳ اجزاوو کې له درج شوو حقوقو او امتیازونو څخه محرومیت.»**

**۳. دحکم نشر:** محکمه کولای شي په خپل صوابدید یا د څارنوال په غوښتنه د پریکړې د قطعي کېدو څخه وروسته، د حکم خپرول (نشر) هم په خپل حکم کې تصریح کړي. په هغه صورت کې چې محکمه د حکم نشر په خپله پریکړه کې تصریح کړی نه وي، دحکم خپرول جواز نه لري، ځکه د حکم خپرول یو ډول جزا ده او محکمه ددې جزا په ټاکلو کې اختیار لري. نو کله چې محکمې د حکم خپرول په خپله پریکړه کې نه وي تصریح کړي، په دې

معنا ده چې محکمې د خپل اختیار څخه ګټه نده اخیستي. په دې اړوند د جزا کود ۱۸۳مې مادې (۱)فقره داسې صراحت لري؛

**«(۱) محکمه کولی شي، په ټولیزو رسنیو کې د حکم خپرول د تکمیلي جزا په توګه په فیصله کې تصریح کړي. (۲)حکم د فیصلې د قطعیت تر وخته پورې نشي خپرېدی.**
**دغه اقدام د علني محاکمې د جوړولو او د ټولیزو رسنیو له لارې د قضیې د جریان د خپرولو خنډ نه ګرځي.»**

## پنځم مبحث: د شتمنۍ د اشاعې په فورمه کې د ناسمو یا ګمراه کوونکو معلوماتو لیکل:

د جزا کود ۴۲۱مې مادې (۱) فقره داسې صراحت لري؛
**«(۱) که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف د شتمنۍ د اشاعې په فورمه کې ناسم یا ګمراه کوونکي معلومات درج کړي، له احوالو سره سم له دېرشو زرو څخه تر یو سلو او اتیا زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.»**
دا جرم مخکنی جرم پورې تړاو لري او د عمدي او مطلقو جرمونو له ډلې څخه دی. ددې جرم مفاهیم په لاندې ډول په څو سرلیکونو کې د څېړنې لاندې نېول کېږي.

### لومړی وینا: د مفاهیمو روښانتیا:

د جزا کود ۴۲۱مې مادې (۱) فقره کې درج او د شتمنۍ د اشاعې په قانون کې درج مغلق اصطلاحات په لاندې ډول تشریح کوو؛
«**ناسم معلومات**»: د حقیقت خلاف معلومات.
«**ګمراه کوونکي معلومات**»: هغه معلومات چې د حقیقت خلاف نه دي، خو مجمل دي. په داسې ډول چې د شتمنۍ د ثبت او بررسۍ اداره د هغې څخه د حقیقت خلاف انګېرنه کوي. د بېلګې په ډول، د هغه شتمني په ډالرو ده خو نوموړی قصداً پولي واحد ډول نه ذکر کوي، تر څو اداره بې لارې کړي، ځکه قاعدتاً کله چې په یو هېواد کې د پولي واحد ډول یادونه نه کېږي نو موخه ترې د هماغه هېواد

پولي واحد وي. خو که چېرې د بل هېواد پولي واحد يې موخه وي نو بيا د پولي واحد ډول حتماً ليکل کيږي. په همدې خاطر، د شتمنۍ د اشاعې د فورمې په جدولونو کې د پولي واحد ډول ذکر کولو څخه يادونه شوې ده، تر څو پولي واحد ډول مشخص وي.

« **د شتمنۍ د اشاعې فورمه**»: د "اشاعې" کمله د دولتي مقاماتو او کارکوونکو د شتمنۍ د اشاعې او ثبت قانون (۱۳۹۷) کال، ۳مې مادې ۵جز کې داسې تعريف شوې ده؛ «**اشاعه: په ټاکل شوې فورمه کې ددولتي مقام يا کارکوونکي په لاسليک دشتمنۍ درج، دی**»

ددې فورمې نمونه او د ډکولو لارښود د جمهوري رياست د چارو ادارې په سايت کې د لاسرسي وړ ده[1].

## دوېمه وينا: د شتمنۍ د اشاعې په فورمه کې د ناسمو يا ګمراه کوونکو معلوماتو لېکلو جرم جوړوونکي عناصر:

د اشاعې په فورمه کې د ناسمو يا ګمراه کوونکو معلوماتو درج جرم مادي او معنوي عنصر په مختصر ډول تر څېړنې لاندې نيسو؛

### لومړی مطلب: د شتمنۍ د اشاعې په فورمه کې د ناسمو يا ګمراه کوونکو معلوماتو درج جرم مادي عنصر:

دا جرم د مطلقو جرمونو له ډلې څخه دی. مادي عنصر يې جرمي کړنه، د جرم موضوع او د ترسره کوونکي شخصيت ته شاملېږي.

[1] - https://aop.gov.af/?page_id=۲۱۳۲

**الف: جرمي کړنه:**

جرمي کړنه یو ددې لاندې کړنو ته شاملېږی، چې په لاندې ډول یې تشریح کوو؛

١. د شتمنۍ په فورمه کې د ناسمو معلوماتو درج،

٢. د شتمنۍ په فورمه کې د ګمراه کوونکو معلوماتو درج.

د معلوماتو له درج څخه موخه، د درج څخه وروسته د هغې ورکول دي د شتمنۍ د ثبت او پلټنې ادارې ته. په دې پړاو کې جرم پیل او پای ته رسېږي، خو صرف د فورمې ډکول بې له دې چې اړونده ادارې ته یې تسلیم کړې وي، جرم نه بلل کېږي. بلکې د تجهیزاتي او تکمیلاتي اعمالو څخه شمېرل کېږي. ځکه، کیدای شي چې مؤظف د خانه پرۍ څخه وروسته ددې فورمې د ورکولو اراده ونلري او یا دا چې سهواً یې ناسمه ډکه کړې وي او د سمولو اراده یې ولري. قانون معلومات په ګوته ګړې ندي. همدارنګه، دا اړینه نده چې د تورن ریښتني شتمني د جزا کود ۴۱۹مې مادې (۲) فقره کې درج اندازې څخه ډېره ده یا کمه، او یا دا چې؛ مؤظف دهغې د مشروع سرچېنې په ثابتونو قادر دی او که څنګه؟ ځکه، دلته د ناسمو معلوماتو محض ورکول جرم بلل شوی دی. په دې معنی چې دا اړینه نده چې ناسم معلومات یې د جرم پوښولو لپاره ورکړي وي، بلکې په هره موخه یې چې ورکړي وي، د ناسمو معلوماتو ورکول په خپل ذات کې جرم ګڼل کېږي.

د بل لورې، دا پوښتنه مطرح کېږي چې؛ آیا ددې فورمې د هرې برخې ناسم ډکول دا جرم رامنځته کوي او که یوازې هغه برخې چې د مؤظف د شتمنۍ د تشخیص لپاره دي؟

ځکه دا فورمه د یوولس ډوله معلوماتو درج لپاره جوړه شوې ده. ددې معلوماتو ځېنې برخې د مؤظف شتمنۍ پورې هیڅ تړاو نلري، لکه شخصي معلومات؛ نوم، د پلار نوم، ټلېفون شمېره، د کورنۍ دغړو تعداد، کاري تجربه، زده کړې او داسې نور. نو که چېرې یو مؤظف په فورمه کې د ټلېفون شمېره ناسمه ولیکي یا د زده کړو په اړوند ناسم معلومات ولیکي، آیا دا ناسم معلومات هم جرم رامنځته کوي؟

دلته داسې معلومېږي چې قانون باید په حرفي ډول تفسیر نه شي، بلکې د مادې مخکې وروسته او مقنن موخې ته باید پام وشي. که چېرې د جزا کود ۴۲۱مې مادې ته وکتل شي، لېدل کېږي چې د شتمنۍ اړونده ناسمو معلوماتو په اړوند بحث کوي، نه مطلق معلوماتو په اړه. بیا که چېرې ددې مادې موخې ته چې د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدنه ده، وګورو نو دا پایله قوي کوي چې د شتمنۍ اړونده معلوماتو ناسم ډکول دا جرم منځته راوړي نه د فورمې اړونده مطلق نور معلومات.

د یادونې وړ ده، هغه معلومات چې ظاهراً د شتمنۍ پورې اړوند نه دي خو په غیر مستقیم ډول د مؤظف د مالي ځایګي، یا عوایدو اندازې او یا مصارفو په اړوند ناسم تصویر وړاندې کوي، نو داسې معلومات د شتمنۍ پورې تړلی ګڼل کېږي او ددې جرم تر عنوان لاندې د تعقیب وړ بلل کېږي. خو که چېرې شتمنۍ پورې هیڅ ډول تړاو ونلري (نه مستقیم او نه غیر مستقیم) نو ظاهراً دا ناسم معلومات دا جرم منځته نه راوړي ولو که دا ناسم معلومات په فورمه کې ورکول شوي دي. په همدې بنسټ، د شتمنۍ پورې غیر مرتبط معلومات په دوه ډوله دي؛

- هغه معلومات چې په غیر مستقیم ډول شتمنۍ سره اړیکه لري: لکه؛ د کورنۍ د غړو تعداد په اړوندناسم معلوماتو ورکول، ځکه د مؤظف د مصارفو ډېروالي ښودل توجیه کوي. یا د کورنۍ د غړو د نومونو په اړوند ناسم معلوماتو درجول، ځکه دمؤظف د کورنۍ د غړو په نوم چې کوم بانکې اکونټونه دي چې په هغې کې شتمني ساتي معلومه نشي. او داسې نور... دا معلومات که څه هم د وګړي د شتمنۍ پورې مستقیمه اړیکه نه لري، خو کولی شي د عوایدو او مصارفو په اړوند ناسم تصویر ورکړي او په پایله کې د مؤظف د شتمنۍ اندازې پورې تړاو پیدا کوي.
- هغه معلومات چې د شتمنۍ پورې هیڅ ډول تړاو نه لري. نه په مستقیم ډول او نه په غیر مستقیم ډول. لکه؛ د ټلیفون شمېره، تحصیل درجه او داسې نور. داسې معلومېږي چې ددې معلوماتو ناسم درجول دا جرم منځته نه راوړي؛ کېدای شي بل جرم رامنځته کړي.

**(۲۵) شمېره فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د شتمنۍ نصاب چې په فورمه کې باید درج شي څومره دي؟ یا په بل عبارت؛ مؤظف څومره شتمني باید ولري چې په فورمه کې یې درج کړي؟

احتمالي ځواب: په ظاهر کې قانون کوم نصاب یا مشخصه اندازه نده ټاکلې. خو د شتمنۍ د اشاعې په فورمه کې د دوو حالتونو ترمنځ تفکیک شوی دی؛

الف) د بانک څخه بهر د مؤظف یا د هغه د کورنۍ د غړو سره د نغدي مبلغ شتون. په دې اړوند په فورمه کې تصریح شوي دي، چې؛ که نغد مبلغ د سل زره افغانیو څخه کم وي، مؤظف دې هغه په فورمه کې نه درجوي، بلکې د **نه یې لرم** ځواب دې په نښه کړي.

ب) په کورني یا بهرني بانک کې نغدي مبلغ: په دې اړوند تصریح شوي دي چې، د بانک نوم، اکاونټ شمېره او د مبلغ اندازه هر څومره چې وي، باید په ګوته شي. حتی که په اکونټ کې هیڅ مبلغ شتون ونلري بیا به هم پورته معلومات په فورمه کې درجوي.

**ب: د ترسره کوونکي (مرتکب) شخصیت:**

ددې جرم ترسره کوونکی باید د عامه خدمتونو مؤظف وي. ځکه قانون تصریح کړیدي؛ «**که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف ناسم یا ګمراه کوونکي معلومات په فورمه کې درج.. کړي**» په همدې بنسټ، که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف غیر بل څوک دا فورمه ډکه کړې او ناسم معلومات پکې درج کړي نو دا جرم نه واقع کېږي.

د فورمې د لاربښود ۱۱مې برخې پربنسټ، عامه خدمتونو مؤظف کولی شي وکالتاً بل وګړی وټاکې تر څو دا فورمه ورته ډکه کړي. ددې شخص شهرت او هغه دلایل چې مؤظف فورمه ولي نده ډکه کړې، باید ذکر شي. په دې حالت کې پوښتنه مطرح کیږي چې؛ که وکیل ناسم معلومات په فورمه کې درج کړي، آیا مؤظف ته جرمي مسؤولیت راجع کیږي او که څنګه؟ فورمې ته په کتو داسې معلومیږي چې په دواړو حالتونو کې مؤظف ته مسؤولیت راجع کیږي، که هغه یې پخپله ډکه کړي او که په وکیل. ځکه په دواړو حالتونو کې مؤظف د فورمې په پای کې لاسلیک کوي، او د فورمې په پای کې په دې متن تعهدنامه هم شتون لري: « اقرار کوم چې په فورمه کې درج ټول معلومات کاملاً حقیقت دي او صحت لري. د حقیقت د پټولو، تناقض او یا د معلوماتو ناسموالي په صورت کې، قانوناً مسؤول او ځوابویونکی یم.»

**ج: د جرم موضوع:**

ددې جرم موضوع د شتمنۍ د اشاعې فورمه ده. ځکه قانون داسې تصریح کړېده چې؛ «**د شتمنۍ د اشاعې په فورمه کې ناسم یا ګمراه کوونکي معلومات درج کړي...**» په همدې بنسټ، دناسمو یا ګمراه کوونکو معلوماتو درجول په بل سند کې په غیر د اړونده فورمې څخه، دا جرم منځته نه راوړي، مګر؛ که دا سند د فورمې ضمیمه یا بشپړونکی وي.

احیانا اړتیا ایجابوي چې د شتمنۍ اشاعه کوونکی ځینې معلومات په بله جلا پاڼه کې ولیکي او هغه د فورمې سره مل (ضم) کړي. ځکه کیدای شي په دې فورمه کې ددغه معلوماتو لپاره ځای شتون ونلري. په همدې خاطر په فورمه کې راغلي دي چې؛ «**د اړتیا په صورت کې د نورو پاڼو څخه ګټه واخلئ د لاسلیک څخه وروسته یې د فورمې سره مل کړئ.**» د فورمې مل پاڼې د فورمې برخه ګڼل کیږي. خو که چیرې ناسم معلومات د شتمنۍ د اشاعې په فورمه کې، ضمایمو او بشپړوونکو کې نه وي، ظاهراً دا جرم منځته نه راځي.

**مباحثوي پوښتنه:**

آیا د شتمنۍ د ثبت او څېړنې ادارې لخوا رااستول شوي استعلام په ځواب کې د ناسمو معلوماتو درجول، دا جرم منځته راوړي؟

د شتمنۍ د ثبت او څېړنې ادارې په سایټ کې د خپرو شوو معلوماتو پر بنسټ، فورمې د خانه پرۍ او تسلیمولو څخه وروسته په درې پړاونو کې د څېړنې او تحلیل لاندې نېول کېږي:

لومړی پړاو: په دې پړاو کې فورمې تجزیه او تحلیل کېږي او د صحت څخه یې د ډاډ لپاره مرستندویه ادارو ته استول کېږي.

دویم پړاو: په دې پړاو کې د استعلامونو ځوابونه راټولېږي او د تحلیل لاندې نېول کېږي، د اړتیا په صورت کې **په خپله اشاعه کوونکي ته استعلام استول کېږي**.

دریم پړاو: فورمه په ورستي ډول د تحلیل او تجزې لاندې نېول کېږي او په هغه صورت کې چې تخطي پکې شتون ولري، موضوع د عدلي تعقیب لپاره لویې څارنوالۍ ته استول کېږي[1].

په هغه صورت کې چې اشاعه کوونکی د استعلام په ځواب کې ناسم یا ګمراه کوونکي معلومات ولیکي، نو دا جرم منځته راځي. که څه هم د قانون الفاظ په صراحت سره د اشاعې د فورمې څخه یادونه کړې ده نه د استعلامونو څخه، خو دا چې دا استعلامونه د فورمې درج معلوماتو د تشخیص لپاره استول کېږي، په واقعیت کې دا د فورمې بشپړونکي پاڼې بلل کیږي او د فورمې یوه برخه ګرځي. په همدې بنسټ؛ ددغه استعلامونو په ځواب کې ناسم معلوماتو درجول، دا جرم منځته راوړي.

[1] - د چارو ادارې په سایت کې نشر شوی پریزنټیشن، ۱۰مخ (د کتلو وخت: ۱٦لړم۱۳۹۸ ساعت: ۱:۳۰ ماسپښین).
https://www.aop.gov.af/wp-content/uploads/۲۰۱۹/۰۳/پرزینټشن-معلوماتی.pdf

خو که چېرې اداره عمداً یا سهواً د شتمنۍ ثبت او اشاعې پورې غیرمرتبط استعلام اشاعه کوونکي ته استوي. مثلاً: کورنۍ ځانګړنې او اسرارو معلومات غواړي او مؤظف د هغې په ځواب کې ناسم معلومات لیکي، دا جرم منځته نه راځي.

## دویم مطلب: د شتمنۍ اشاعې په فورمه کې د ناسمو یا ګمراه کوونکو معلوماتو درج جرم معنوي عنصر:

دا جرم عمدي جرم دی، معنوي عنصر یې علم او ارادې ته شاملېږي. یعني عام قصد پکې بسنه کوي. دا جرم هغه وخت رامنځته کېږي چې مؤظف ناسم او ګمراه کوونکي معلومات په پوهه او قصد سره په فورمه کې درج کړي وي. البته د فورمې ورکول اړونده ادارې ته په عمدیت دلالت کوي، مګر هغه چې عکس یې مستدل ثابت شي. د بېلګې په ډول؛ که مؤظف د خپل منشي یا مالي څخه ترلاسه شوې راپور له مخې چې پکې د هغه نغدي مبلغ او پورونه چې په نورو خلکو یې لري، ورکول شوي وي. مؤظف دهمدې راپور له مخې د شتمنۍ د اشاعې فورمه ډکوي، خو بیا وروسته په دلائیلو او قرائنو ثابتېږي چې دده منشي ده ته ناسم معلومات ورکړي وو او دهغې پر بنسټ نوموړې د اشاعې په فورمه کې ناسم معلومات لیکلي دي. په دې صورت کې مؤظف جزایي مسؤولیت نه لري. خو د هغه ځایه چې فورمه کال په کال ډکېږي نو مؤظف مکلف دی چې په راتلونکي کال کې معلومات سم ولیکي او اړونده ادارې ته یې تسلیم کړي.

## درېمه وینا: دشتمنۍ د اشاعې په فورمه کې د ناسمو یا ګمراه کوونکو معلوماتو درج جرم جزا:

ددې جرم مرتکب، د جزا کود ۴۲۱مې ماې (۱) فقرې د نص سره سم، د دیرش زره افغانیو څخه تر یوسلو اتیا زره افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

**د درېم څپرکی پایلیزه:**

ددې څپرکي تر ټولو مهمې پایلې دادی؛

١. په دې څېړکي کې دوه جرمونه تر څېړنې لاندې ونېول شو؛ د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم او د شتمنۍ د اشاعې په فورمه کې د ناسمو او ګمراه کوونکو معلوماتو درجولو جرم.
٢. دا دواړه جرمونو د افغانستان په حقوقي نظام کې مخينه نه لري او دواړه د لومړي ځل لپاره د جزا په کود کې د جرم په صفت پېژندل شوي دي.
٣. که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف، د هغه ښځه يا مېړه او د اتلسو کلونو څخه کم عمره ماشومانو شتمني په يو کال کې د ثبت شوې شتمنۍ او قانوني عوايدو څخه تر پنځه سوه زره افغانيو ډېره – ډېره شوي وي او مؤظف يې د مشروع سرچېنې ورکولو څخه عاجز شي، نو د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم يې ترسره کړی دی.
٤. د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا په جرم کې جرمي کړنه يو فرض شوې کړنه ده، د شتمنۍ د مشروع سرچېنې نه ثبوت ددې جرم د ترسره کولو لپاره قرينه ده.
٥. د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم مادي عنصر؛ جرمي کړنه (فرض شوی فعل)، د ترسره کوونکي صفت (عامه خدمتونو مؤظف)، د شتمنۍ مشروع سرچېنې نه ثابتول، پايله (شتمنۍ ډېرېدل) او دسببيت اړيکې ته شامليږي.
٦. د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم د قصدي جرمونو له ډلې څخه دی. دقصد ډول پکې يوازې عام قصد (پوهه او اراده) دی.
٧. د شتمنۍ ناقانونه ډېرېدا جرم ترسره کوونکی د ډېرې شوې شتمنۍ اندازې ته په کتو سره (لند حبس، متوسط حبس يا اوږد حبس) اصلي جزا، او د شرايطو په پوره کولو سره په تبعي او بشپړوونکي جزا محکومېږي.
٨. د شتمنۍ د اشاعې په فورمه کې د عامه خدمتونو مؤظف لخوا د ناسمو يا ګمراه کوونکو معلوماتو درجول او د شتمنۍ ثبت او څېړنې ادارې ته يې ورکول (دجمهورې رياست چارو ادارې تابع ده) هم جرم ګڼل کېږي.

۹. د پورته جرم ترسره کوونکی د دېرشو زرو څخه تر یوسلو او اتیا زرو افغانیو پورې په نقدي جزا محکومېږي.

# اخذ ليکونه:


**۱ـ قوانين:**

۱. اساسي قانون، رسمي جريده، ۸۱۸ګڼه، ۱۳۸۲/۱۱/۸نېټه.

۲. ددولتي مقاماتو او کارکوونکو د شتمنۍ د اشاعې او ثبت قانون، رسمي جرېده، ۱۳۲۹ګڼه (۱۳۹۷ل کال).

۳. د اداري فسادسره د مبارزې قانون، رسمي جرېده، ۱۳۱٤ګڼه، ۱۳۹۷/۷/۱۸نېټه.

٤. د جزا کود، رسمي جرېده، ۱۲٦۰ګڼه، ۲۵/غوايې/۱۳۹٦نېټه.

٥. اداري فساد سره د مبارزې ميثاق، رسمي جرېده، ۹۳٦ګڼه، ۱۳۸٦/۱۰/۲٥نېټه.

**۲ـ کتابونه:**

۱. ابن منظور، لسان العرب، الناشر: دار صادر - بيروت الطبعة: الثالثة - ١٤١٤ هـ .

۲. أحمد رفعت خفاجى، جرائم الرشوة فى التشريع المصرى و القانون المقارن، الناشر:القاهرة : مكتبة النهضة المصرية، الطبعة الأولى ١٩٥٧.

۳. أحمد شوقى الشلقانى، مبادئ الإجراءات الجزايية فى التشريع الجزائرى، الطبعة الثالثة، الجزائر، ديوان المطبوعات الجامعية.

٤. أحمد فتحى سرور، نظرية الاختلاس فى التشريع المصرى، بحث منشور فى مجلة إدارة قضايا الحكومة المصرية، السنة الثالثة عشرة، العدد الثانى، أبريل – يونيو ١٩٦٩.

٥. أحمد فتحى سرور، الوسيط فى قانون العقوبات -القسم الخاص- دار النهضة، چاپ ٤، القاهرة، ١٩٩١.

٦. أحمد كامل سلامة، الحماية الجنائية لأسرار المهنة، الناشر:القاهرة: دار النهضة العربية، ١٩٨٨.

٧. أحمد امين بك، شرح قانون العقوبات الأهلى، الطبعة الثالثة ، الدار العربية للموسوعات، بيروت١٩٨٢.

٨. جمال ابراهيم الحيدرى، النماذج الإجرامية للفساد الإدارى فى قانون العقوبات العراقى، بحث منشور فى مجلة دراسات قانونية (مجلة متخصصه يصدرها بيت الحكمة فى جمهورية العراق) السنة السادسة، العدد عشرون، ٢٠٠٧.

٩. حسن صادق المرصفاوى، شرح قانون العقوبات الخاص، المكتب الشرطى للنشر و التوزيع، بيروت، لبنان ١٩٦٩.

١٠. ربحى فرحى، الإثراء غير مشروع فى ظل قانون مكافحة الفساد (٢٠١٤). پایان نامۀ ماستری دانشگاه عبد الرحمن ميرة- بجاية(الجزاير)،.

١١. عبدالملک، جندى، الموسوعة الجنائية، دار إحياء التراث العربى، الطبعة الأولى،١٩٧٦.

١٢. عمید، عمید فرهنگ.

١٣. معین فرهنگ .

١٤. فؤاد جمال عبدالقادر، المصلحة المحمية فى جريمة الكسب غير المشروع، بحث منشور فى مجلة الأمن العام المصرية، العدد (١١٣) السنة ١٤٠٦.

١٥. لغت نامۀ دهخدا، نسخۀ الکترونیکی.

١٦. مجيد حميد العنبكى، أثر المصلحه فى التشريعات، دار الثقافه، الاردن، الطبعه الاولى، ٢٠٠٢.

۱۷. محمد بن عبدالله بن مسلم بن قتيبه الدينورى، كتاب عيون الأخبار، طبعة دار الكتب المصرية.

۱۸. محمد صالح وليدى، ، سمينار عدالت كيفرى از ديدگاه اسلام، ځپرکينامه دانشگاه آزاد اسلامى واحد تهران، مركزى، .۱۳۷۷ .

۱۹. مسلم يعقوبى، مختصر حقوق سازمان هاى بين المللى، چتر دانش، تهران ۱۳۹۲ .

۲۰.

انټرنېټي منابع:

۱. ويکي پيديا سايت، آزاد دانشنامه. https://fa.wikipedia.org/wiki

۲. https://aop.gov.af/?page_id=۲۱۳۲

۳. https://www.yasa.co/blog/investigation-of-the-crime-of-threat-in-the-islamic-penal-code

٤. Muzila, Lindy, Michelle Morales, Marianne Mathias, and Tammar Berger. ۲۰۱۲. On the Take: Criminalizing Illicit Enrichment to Fight Corruption. Washington, DC.

٥. UN General Assembly - Rules of Procedure.